تر دوو میلیونو زیات پلورل شوی



څلورم چاپ

# د بابل خان

له پورونو ځان وساته!
له پوهو خلکو سره سلاو کړه!
خپله شتمني په خطر کې مه اچوه!

لیکوال: جورج اس. کلاسن
ژباړن: جبار فراز

له بیا کتنې او سمونې سره

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
Scanned by CamScanner

## د خپرندوی یادښت

د بابل خان کتاب هم په اقتصادي و مالي ستونزو کې د ښکېلو او هم له دې بابته ابادو خلکو لپاره گټور دی. دلته بیان شوي مسایل سیده د لوستونکي زړه ته لار کوي. د دې شاید گڼ لاملونه وي خو تر ټولو عمده هغه یې کیسه ییز انداز دی. یوه هوښیار سړي ډېر ښه ویلي چې که هره پوهنیزه موضوع د داستان په بڼه بیان شي، اغېز یې څو چنده لوړېږي.

دلته د نورو تر څنگ د دوو بارزو مرکزي کرکټرونو په خوله له مالي ستونزو د ځان خلاصولو، سپما، پر هغې گټه او پر گټه یې د لا گټې کولو چل په خورا ساده او روانه ژبه راښودل کېږي. دا دوه سړي، چې د مطالعې په بهیر کې به مو خورا پر طبعه ولگېږي، آرکاد او دباسیر نومېږي. دوی په لرغوني بابل کې اوسېدل او د خپل وخت لوی خانان او شتمن ول. لومړی یې سوداگر او دویم یې سوداگر-صراف وو.

د کتاب د سرلیک هدف آرکاد دی. نوموړي د پوهې معبد نوم پوهنیز مرکز کې ځان ته سالون یا په نننۍ اصطلاح لیکچرخونه درلوده. هلته به هر ماښام لږوال خلک سره راټولېدل او پر یوه گټوره موضوع به یې گرم بحثونه کول.

د دغه کتاب لوستل داسې دي لکه شپنۍ دوربین چې له برکته یې سړی هغه څه لیدلای شي چې نور ځنې بې برخې کسان یې اصلاً تصورولای هم نشي، سره له دې چې هغه به یې تر قدم لاندې، ښی یا کیڼ اړخ ته عینې وجود ولري. په موږ تاسو کې هیڅوک داسې نشته چې په یو نه یو ډول له مالي ستونزو سر نه ټکوي او وایي نه چې گوزاره سخته ده. په دغه کتاب کې څېړل شوي مسایل که

Scanned by CamScanner

په دقت ولوستل او عملي شي نه يوازې دا چې خپل کړاوونه به مو هوار کړي وي، بلکې يو ډول ذهني سکون به مو هم ترلاسه کړی وي.

هيڅوک نه غواړي پوروړی وي، خلك يې دروازې پر وټکوي او کوڅه کې د دوکاندارانو له وېرې سهار وختي په شنه خړه پټ مخ تېر شي. خو بيا هم داسې کيږي. انسان ولې په دغه ذليله لومه کې لوېږي؟ او څنگه څان څنې را ايستلای شي؟ ځوابونه يې د دې کتاب په کرښو کې پراته دي؛ يوازې ستاسې څخه لږ وخت، څيرتيا او عملي کېدل غواړي.

د دې کتاب په اړه يو عالم څانگيز نړيوال پوهان، ويناوال او ليکوال رغېدلي دي چې يو څو يې د نمونې په ډول دلته را اخلو:

دا کتاب د اقتصادي برياليتوب لومړی خښته ده، څکه بيان شوي تگلارې يې ساده، سيده او اغېزناکې دي.

د شخصيت روزنې ماهر ليکوال براين ټرېسي

دا کتاب به مو د داسې يوې موخې پر ترلاسه کولو وتوانوي چې تر دې وړاندې مو ښايي ناممکنه بلله.

نامتو ليکوال او ويناوال اوگ ماندينو

دا کتاب زما لارښود ايرل شوف راته سپارښت کړ، ما يې تگلارې عملي کړې او پر ۳۲ کلنۍ ميليونر شوم.

پېژندل شوی سوداگر او ويناوال جيم رون

دا کتاب مې د خپل څلوېښت کلن مسلکي ژوند په اوږدو کې نژدې څلورو ميليونو انسانانو ته سپارښت کړی او ورته ويلي مې دي چې جورج کلاسن مو له اقتصادي اړخه پر خپلو پښو درولای شي.

جيم رون

همدارنګه د ډېرو نړیوالو کره کتونکو په وینا دا کتاب د لیکوال تر ټولو مړینې شاوخوا نیمه پېړۍ وروسته نن هم ګرم بازار لري او د بې شمېره اثارو ماخذ دی.

ستاسي په لاس کې د پراته کتاب له نورو ورته کتابونو سره یو لوی توپیر دا دی چې دلته په شخصي ژوند کې د بریالي کېدو لپاره اسمان ته زینې اېښودل، د سوپرمېن غوندې په هوا کېدل او یا هم د یوه استثنایي بخت لرل اړین نه دي، بلکې همدا ستاسې د اوسني عاید او معاش سم مدیریت او سمبالتیا دغه چاره ممکنوي.

که په لنډو کې ووایم نو د (د بابل خان) لیکوال له سره تر پایه په یوه ډېره ساده، سیده او رسا ژبه راته وایي چې ته! د ځان لپاره هم برخه په پام کې ونیسه. په بله ژبه څه چې هره میاشت، هره اوونۍ یا هره ورځ ګټې، تر ټولو لومړی لسمه برخه ځنې بېله او یوازې د ځان لپاره یې یو ځای پټه کښېږده. تر ډېرېدو وروسته یې د پر کار اچولو غم وخوره. په دې لار کې یوازې له اړوندو پوهو خلکو سره مشوره وکړه او هیڅکله خپله شتمني په خطر کې مه اچوه.

لیکوال شتمني له یوې ونې سره تشبیه کوي چې د راشنه کولو لپاره یې یوازې یوه دانه تخم ته اړتیا شته نه سلو یا زرو ته، خو ښه پالنه یې برخلیک ټاکونکی عمل دی.

دی راته وايي چې پیسې یوازې د کاروبار لپاره پور کړه او تر قرضولو وړاندې یې د بېرته ادا کولو لارې چارې هم وسنجوه. که درباندې دي، نو داسې یې باید پرې کړې چې نه سیخ وسوځي نه کباب. څنګه؟ کتاب ولولئ.

څه سر مو درخوږو، دغه کتاب کې هم د کیسې خوږلني شته هم شخصي ژوند کې د بریا رازونه. بس بسم الله کړئ او ویې لولئ. نه یوازې دا چې ویې لولئ بلکې سر په خلاص کړئ، عملي یې کړئ او څو نورو کسانو ته یې هم سپارښت کړئ.

درنښت!

سروش کتابپلورنځی

Scanned by CamScanner

# فهرست

د لیکوال په اړه/ ۸
د لیکوال خبرې/ ۹
د سرو زرو ارمانجن / ۱۱
د بابل تر ټولو شتمن سړی/ ۲۰
د مالي تنګلاسیو د له منځه وړلو اووه لارې/ ۳۴
- لومړی لار / ۳۹
- دویمه لار / ۴۳
- درېیمه لار / ۴۶
- څلورمه لار/ ۴۸
- پنځمه لار / ۵۰
- شپږمه لار / ۵۲
- اوومه لار / ۵۵
د نېکمرغۍ له پربنتي سره ملاقات / ۵۹
د سرو زرو پنځه قوانین / ۷۵
بابلي صراف / ۹۰
د بابل دېوالونه / ۱۰۵
بابلي اوښ پلورونکی / ۱۱۰
د بابل خټینې لوحې / ۱۲۳
د بابل تر ټولو نېکمرغه سړی / ۱۳۸
د بابل ښار تاریخچه / ۱۶۰

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

Scanned by CamScanner

## د لیکوال په اړه

- جورج سامویل کلاسن پر ۱۸۷۴م د امریکا په میسوري ایالت کې زیږېدلی دی.
- نبراسکا پوهنتون کې یې لوړې زدکړې کړي دي.
- د امریکا او هسپانیا تر منځ جګړه کې یې (۱۸۹۸م) د سرتېري په توګه برخه اخیستې ده.
- دوه ځله یې واده کړی دی.
- ۱۹۰۰م کې یې د Clason Map په نوم شرکت جوړ کړ چې کار یې د لویو لارو نقشه جوړونه وه او خورا بریالی وو.
- ۱۹۲۳م کې یې د همدې شرکت له لارې د امریکا او کاناډا تر منځ غځېدلې لارې لومړنی اطلس خپور کړ.
- د دغه شرکت له خوا خپاره شوي اطلسونه خلکو د اسانۍ له امله ډېر خوښول.
- دا چې نوموړي پورتني شرکت کې کافي سوداګریزه تجربه ترلاسه کړې وه، نو یې په همدې لار کې د بریالي کېدو په اړه لیکنو او ویناوو ته مخه کړه چې ستا په لاس کې کتاب یې تر ټولو لویه لاسته راوړنه ده.
- یو وخت د دغه اثر ځېرکي د بېلابېلو ورو رسالو په بڼه د بانکونو او شرکتونو له خوا پر خلکو وېشل کېدل. له دې کاره هدف دا وو چې له بې اړتیا پورونو ځان وژغورل او دغه راز له خپل معاشه د شتمنۍ د ونې زنۍ وکرل شي.

Scanned by CamScanner

# د لیکوال خبرې

د یوه ملت نېکمرغي د هغه د هر فرد له اقتصادي وضعیت سره تړلې ده.

دا کتاب زموږ هر یوه پر ځاني بریالیتوب راځرخي. بریالیتوب یانې د هڅو او مهارتونو په زور خپلو موخو ته رسېدل. د بریا کیلي پوره تیاری دی. کړنې مو تر فکرونو او فکرونه مو تر درک نشي غوره کېدای.

دا کتاب چې د اقتصادي کمیو او ستونزو پر له منځه وړلو لیکل شوی، په مالي مسایلو د سر خلاصولو یو لاربنود دی. د دغه اثر اره موخه د داسې یوه لید رامنځته کول دي چې د مالي بریالیتوب میینان یې په مټ شتمن شي، د خپلې شتمنی ساتنه وکړي او له هغې پر ترلاسه شوې ګټه نوره ګټه وکړي.

په راتلونکو پاڼو کې د لرغوني بابل ښار ته سر ورایسته کوو. دا ښار د هغو اقتصادي چارو د بنسټیزې سمبالتیا د ارونو سرچینه ده چې نن سبا په ټوله نړۍ کې کارنده دي.

Scanned by CamScanner

دا کتاب تر دې دمه ګڼو ژبو ته اړول شوی او د نړۍ په ګوټ-ګوټ کې یې لوستونکي د اصولو او تګلارو د عملي کولو په برکت خپلو اقتصادي هدفونو ته رسېدلي، بانکي حسابونه یې لا ډک شوي او د مالي کړاوونو د له منځه وړلو توان و شوق یې زیات شوی دی. د لیکوال هیله دا ده چې دغه کتاب د نویو لوستونکو لپاره هم همدومره په زړه پورې او الهام بخښونکی وي.

لیکوال همدارنګه له هغو مدیرانو او سوداګرو هم د زړه له کومې مننه کوي چې د دغه کتاب مطالب او کیسې یې خپلو ملګرو، خپلوانو، کارکوونکو او همکارانو ته کړي دي. د دغه کتاب لپاره تر ټولو غوره تبلیغ دا دی چې د عمل خلک یې په کې راغلي تګلارې وستایي، ځکه هغوی د همدغو تګلارو په کارولو سره سترو موفقیتونو ته رسېدلي دي.

بابل ښار د لرغونې نړۍ تر ټولو شتمن ښار ځکه شو چې اوسېدونکي یې د خپل مهال تر ټولو لوی خانان ول. هغوی د پیسو په ارزښت پوهېدل او د مالي چارو د سمبالولو، پیسو ګټلو، ساتلو او شتمنۍ د زیاتولو په موخه یې خپل عاید سم وکاراوه او داسې پایلې یې ترلاسه کړې چې مونږ ټول یې ارمانجن یو: د راتلونکي لپاره د عاید تامین.

**جورج سامویل کلاسن**

canned by CamScanner

# د سرو زرو ارمانجن

د بابل ښار بګی جوړوونکی بن سیر یومخ زړه ماتی او نهیلی وو. د خپل کور پر لنډ دېوال غمجن ناست او په خپله خړه-پړه جونګړه کې یې سترګې یخې پاته وې. همدا یې کارځای هم وو. دا ګړی هلته یوه نیمګړې بګی تر سترګو کېده.

ماینه یې څو ځله د کور په دروازه کې راښکاره شوې او ده ته یې غلچک کتلي ول. هغې غوښتل نوموړی وپوهوي چې د خوراکي توکو زېرمه پر تمامېدو ده، باید بېرته اره و چکوش ورواخلي او د بګی پاته کار خلاص کړي، پالیش پسې ورکړي، رنګ یې کړي او ارابې یې په چرم کې ور وپوښې. وروسته یې خپل شتمن مشتري ته وسپاري او مزدوري څنې واخلي.

Scanned by CamScanner

مگر هغه پنډ او متهور سړي هیڅ سر نه خلاصاوه او هماغسې ګنګس پر دېوال ناست وو. هغه یې کوله په خپل تنبل ذهن یوه ډېره پېچلې او لاځوابه معما حل کړي. د وچې سیمې سوځوونکی لمر یې په بې رحمۍ پر سر ځلېد. په فرات دره کې دوږخي تودوخه څه نوې خبره نه وه. د خولو لوی-لوی څاڅکي یې پر تندي راپیدا کېدل او وروسته یې پر ببره سینه ورڅڅېدل.

د کور تر شا یې د پاچا ماڼۍ پرته وه چې دنګ دېوالونه پر راڅرخېدلي ول او لړ ها پلو د (بل معبد) رنګین ځلي اسمان ته غاړه هسکه کړې وه. د دغسې عظمت په سیوري کې د ده او ډېرو نورو خلکو ساده جونګړې بېخې خوارې ایسېدې.

بابل ښار همداسې جوړ شوی وو. د پرتم او بېوزلۍ، حیرانوونکي ثروت او شوم فقر یوه ګډوله وه چې د ښار د دېوالونو په منځ کې بېله نظم و نقشې د یو او بل تر څنګ پراته ول.

که بن سیر خان ته لږ زحمت ورکولای او تر شا یې کتلای، داسې شتمن خلک به یې په بګیو کې ناست لیدلي وای چې د خپلیو په پښو سوداګرو او پښه یېلو سوالګرو تر منځ یې په تېلو او ټمبو لار پرانیستله. ان خانان هم کله ناکله مجبور ول د مریانو د تېرېدو لپاره بغل ته شي او مخه ورته خوشي کړي. دغو غلامانو به د پاچا په امر د بابل د ځوړندو بڼونو د خړوبولو لپاره د اوبو ډکې بوشکې پر خپلو اوږو لېږدولې.

بن سیر دومره په سوچونو کې ډوب او د خپلې معما پر هوارولو بوخت وو چې نه یې د ښار شورماشور اورېد او نه یې هم پروا درلوده. یوازنی ږغ د رباب د شناخته ترنګ وو چې نوموړی یې له خپلو پوچو خیالونو راوایست. مخ یې ور واړاوه او د خپل نژدې ملګري ربابي کوبي خندانه و جذابه څېره یې ولیده.

کوبي وویل:

(خدای دې په ښادۍ کړه ملګرې! داسې ښکاري لکه د نعمتونو چې دربانډې تمامه وي او کار ته هڅو اړ نه یې. زه دې هم په خوشحالۍ خوښ یم، خو غواړم په نېکمرغۍ دې درشریک شم. همیانۍ به دې خامخا له پیسو ډکه وي،

که نو همدااوس باید په خپل کارځای کې وای او کار دې کولای. خیر، زه نن شپه د ښار د مخورو مېلمستیا ته بلل شوی یم. تا ته د دې لپاره راغلم چې یو دوې افغانی[1] په پور راکړې. بېرته به یې ډېر ژر او د مېلمستیا له پای ته رسېدو سره سم درکړم. یانې وړیا یې نه غواړم.)

بن سیر په زړه تنګی ورته وویل:

(دوې افغانی که مې لرلای، هم مې په پور نشوای درکولای. سره له دې چې ته مې ډېر ټینګ ملګری هم یې، ځکه دا به په دې مانا وای چې خپل ټول هست و نیست تا ته درکړم. هېڅوک دا کار نه کوي.)

کوبي وویل:

(دا څه وایې؟ ته په خپله همیانی کې د سپینو زرو یوه سیکه نه لرې، خو بیا هم مجسمې غوندې بېغمه پر دېوال ناست یې؟! نو دا لویه ګېډه دې بیا په څښې ډکوې؟ ته هم عجیبې کوې ملګرې. ستا هغه ناپایه انرژي څه شوه؟ دا دې په کوم شي چورت بند دی او که خدای په کومه ټکه اخته کړی یې؟)

بن سیر وویل:

یاره ضرور به یوه خدایي ټکه وي. د پرېشانیو دغه لړی له یوه بې مانا خوبه راپیل شوه. په خوب کې مې ولیدل چې یو ډېر ځواکمن او مخور سړی راڅخه جوړ شوی وي. تر ملا مې یوه ښکلې همیانی ټړلې وي. پیسې بې حسابه څنې راباسم او پر سوالګرو یې وېشم. د سپینو زرو سیکې هم پکې پرتې وي. په هغو خپلې مېرمنې او ځان ته ګېڼې او نور د خوښې شیان اخلم. د سرو زرو د سیکو کمی هم نه وي. د هغو په برکت مې هم د راتلونکي په اړه زړه پوره[2] وي او هم د سپینو زرو د سیکو له خرڅولو بې پروا یم. دننه مې ډېره لویه خوشحالي احساسوله. هغه وخت که دې زه لیدلی وای، زړه ته دې نه لوېده چې هماغه زاړه خواري کښ ملګري ته ګورې. زما ماینه به دې هم نه وای پېژندلې. له مخه

---

[1] د اسانې پوهېدنې لپاره مې افغانی ولیکلې. ژباړن

[2] پوره زړه - بېغمه زړه، دل جمع.

يې ټولې ګونځې ورکې شوي او د ښکمرغۍ له نوره تک سپين اوښتی وو. ببرند هماغه د واده د لومړيو شپو خندانه نجلۍ ځنې جوړه شوې وه.

کوبي وويل:

ډېر خوشحالوونکی خوب دی، مګر حيران دې ته يم چې داسې يو ښه خوب ولې بايد تا پر دېوال د يوه خواشيني بت غوندې کښېنوي؟

بن سير ورته وويل:

رښتيا هم ولې؟ لامل يې دا وو چې کله راويښ شوم، خپله تشه کڅوړه را په ياد شوه. دې شي انقلاب راپکې راووست. اوس غواړم پر همدې موضوع ستا سره ورغېږم، ځکه ما و تا په اصطلاح د يوې کښتۍ سپاره يو. په ماشومتوب کې مو يوځای پر ملايانو سبق ويلی دی، په ځوانۍ کې مو ګډې لوبې سره کړي دي او اوس دا دی په پاخه عمر کې ډېر نژدې ياران يو. په خپله خوښه مو هره ورځ ساعتونه-ساعتونه کار کاوه، په يوه لاس مو ګټلې په دا بل مو خرڅولې. سره له دې چې تر دې دمه مو په ژوند کې بېشمېره سيکې ترلاسه کړي او بېرته بايللي دي، خو بيا هم بايد د شتمنېدو خوند په خوب کې وڅکو. عجيبه ده! ايا موږ له يوه ګونګي پسه سره توپير لرو؟ د نړۍ په تر ټولو شتمن ښار کې اوسو. د سياحانو په ژبه د دنيا بل هيڅ ښار په شتمنۍ کې زموږ په هغه پسې نشي رسېدای. شاوخوا مو ټوله پيسو نيولې ده، مګر زموږ هېڅ نصيب پکې نشته. نيم ژوند مې پر کار و زيار تېر شوی دی. ته زما نژدې ملګری يې، دوې افغانۍ پور راځخه غواړې بېرته يې هم ژر راکوې. زه څه ځواب درکوم؟ ايا درته وايم چې دا مې هميانۍ ده راشه درسره نيمه يې کړم؟ نه، ځکه خبر يم چې کڅوړه مې لکه ستا هغې تشه-پشه ده. دا په موږ څه شوي دي؟ ولې دومره د سرو او سپينو زرو سيکې نشو ترلاسه کولای چې زموږ د خوړو او جامو بس شي؟

اولادونو ته مو ګوره! ايا اولادونه د پلرونو پر پلونو نه ځي؟ ايا زموږ اولادونه، کورنۍ، د هغوی اولادونه او نور راتلونکي نسلونه مو بايد د طلاوو د خزانو په منځ کې واوسي، خو خپله د وږې خوسا شيدې او ښوروا نوش جان کړي؟

کوبي سربداله وو او رډ-رډ يې ورته کتل. ويې ويل:

بن سیره! د ملګرتیا مو ډېر کلونه کېږي، خو تر اوسه دې داسې خبرې نه وې رانه کړي.

بن سیر ورته وویل:

په دغو ټولو کلونو کې مې دغسې فکرونه، نه لرل. همداسې عادت شوی وم چې له سهاره تر ماښامه د ښکلو بګیو پر جوړولو خولې وبهوم. هغه هم داسې بګۍ چې هېڅوک يې ساری نشي جوړولای. په دې هیله وم چې یو نه یو وخت به مې خدای کارونو ته د قدر په سترګه وګوري او په یوه لویه نېکمرغي به مې ونازوي، خو داسې يې ونکړل. اخیر مې سر خلاص شو چې هېڅکله به داسې وهم نکړي.

همدا وجه ده چې زړه مې نیولی غوندې دی. غواړم یو مخکښ سړی شم، ځمکې او مالونه ولرم، خیالورې جامې واغوندم چې جېبونه يې له سیکو ډک وي. د دغو نعمتونو د ترلاسه کولو لپاره تیار یم خپل ټول بدني ځواک، ټول لاسي مهارتونه او بشپړ فکري قوت وکاروم او هیله من یم چې زحمتونه مې په اوبو لاهو نشي. ولې په موږ نو څه شوي دي؟ خپله پوښتنه بیا تکراروم: ولې باید له هغو نعمتونو برخمن نشو چې شتمن تر غوړونو پکې ډوب دي؟

کوبي ورته وویل:

کاشکې مې د دې پوښتنې ځواب درلودای. زه هم له خپل ژونده تر تا زیات خوښ نه یم. له رباب وهلو ترلاسه شوي پیسې مې سملاسې غیبېږي. د دې لپاره چې کورنۍ مې وږې پاته نشي، باید یو ځانګړی پلان جوړ کړم او د هغه له مخې ژوندچارې سمبال کړم. زما هم زړه غواړي یوه ورځ د یوه لوی رباب څښتن شم او خپل ذهن کې مې ټولې بندې نغمې ازادې او مترنمې کړای کړم. د دغسې یوه ساز په مرسته به پر داسې کمپوزونه جوړولو وتوانېږم چې هېڅکله يې هېچا-ان پاچا هم- ساری نه وي اورېدلی.

بن سیر وویل:

د داسې یوه رباب درلودل ستا حق دی. په ټول بابل کې يې هېڅوک ستا غوندې خوږ او خوندور نشي وهلای. او یو عالي رباب ږغوونکی نه یوازې

Scanned by CamScanner

پاچا، بلکې خدای هم خوښوي، مګر د دغسې یوه رباب د رانیولو پیسې له کومه کوې؟ زه و ته خو دواړه لکه د پاچا مریان، تر ښځه سپېره او غریبان یو. د ځنګولو کړنګا اورې؟ بیا راروان دي.

او دغه مهال یې د هغو نیمه بربنډو غلامانو اوږدو کتارونو ته اشاره وکړه چې د اوبو بوشکې یې پر اوږو وې او خپل له خولو ډک بدنونه یې پر هغه نرۍ لار چې له سیند څخه ځوړندو بڼونو ته غځېدلې وه، په سختۍ پورته کشول. هغوی په پنځو کتارونو کې اوږه پر اوږه سره روان ول او هر یو یې د اوبو تر یوې بوشکې لاندې چوغ شوی وو. کوبي یوه سړي ته چې تر ټولو وړاندې روان وو، کوم بار یې هم نه لېږداوه او یوازې یوه ځنګوله یې شرنګوله، ګوته ونیوله:
هغه مشر یې ځومره ښکلې ځېره لري. داسې ښکاري لکه په خپل هیواد کې چې یو د عزت سړی وو.
بن سیر ځواب ورکړ:
داسې ښایسته خلک د هغوی په منځ کې زیات دي. دنګ او د طلایي وېښتانو لرونکي یې د شمال اوسېدونکي دي. هغه خنده رویه او تورپوسته خلک یې بیا اصلاً د سهېلي سیمو دي. په ونه ټیټ او د خرمایي ویښتانووالا نارینه یې بیا له نژدې هیوادونو څخه دي. ټول یوځای له سینده مخ پر باغونو روان وي. هره ورځ، هر کال او کلونه-کلونه. راتلونکی یې هم یومخ تیاره دی او د نېکمرغۍ یو کوچنی ځرک نه پکې لیدل کېږي. پر بوریا ویدېږي او د خورا کلکې و خرابې ډوډۍ ښوروا خوري. کوبي! پر دغو انسانډوله حیوانانو مې سخت زړه سوځي.
- زما هم زړه پر سوځي. خو تا مې یوه شي ته را فکر کړل؛ هغه دا چې زموږ خپلواکو انسانانو او دغو غلامانو تر منځ ډېر توپیر شته، موږ تر دوی ډېر بهتر یو.
- ببخې سهي وایې کوبي! که څه هم دا یو ډېر بېخونده سوچ دی، خو بیا یې هم ظاهروم: په هېڅ وجه باید داسې نشي چې کلونه-کلونه د غلامانو په شان ژوند وکړو. کار-کار-کار او کار. مګر بیا هم ځای پر ځای ولاړ یو او هېڅ مخ ته ولاړ نشو.
کوبي ترې وپوښتل:

ایا داسې نشو کولای چې د شتمنو خلکو د طلا گټلو چل زده کړو او بیا خپله هم هماغه لار واخلو؟
بن سیر ځواب ورکړ:
ښایي په دې کار کې داسې یو راز نغښتی وي چې باید ولټول شي او د موندلو لپاره یې یوه خلک وپوښتل شي.
کوبي ورته وویل:
همدا نن مې زموږ پخوانی ملگری ارکاد ولید چې په خپله طلایي بگۍ کې ناست وو. په پوره ډاډ سره ویلای شم چې ان زما خوارې څېرې ته یې سم وهم نه کتل. البته د هغه د سوېي خلک ښایي نوموړی پر حق وگڼي. لاس یې راته پورته کړ چې خلک یې ووینې او ووایي چې د کوبي په شان یوه خوار مطرب ته یې خندلي دي، انډیوالي یې ورسره پاللې او پوښتنه یې پر کړې ده.
بن سیر په حیرانتیا وویل:
ویل کېږي چې هغه د بابل تر ټولو شتمن سړی دی!
کوبي ځواب ورکړ:
دومره شتمن چې وایي پاچا د خپلې خزانې د سمبالولو په چارو کې مرسته ځنې غواړي.
بن سیر یې خبرې ورغوځې کړې:
دومره شتمن چې که یې یوه شپه د لیدلو لپاره کور ته ورشم ډارېږم چې هسې نه نابېره یې د پیسو پر یوه کڅوړه وخېژم.
کوبي په ملامتوونکې انداز ورته وویل:
هسې خوشې گډه یې. خپله شتمني څوک په ورسره بسته کې نه گرځوي. خدای دې وکړي چې بسته به هر څومره پنډه نه وي، مگر چې سره زر ور روان نه وي، ډېر ژر تشېږي. ارکاد ته داسې گټه راروانه ده چې تل یې بسته ډکه ورساتي او هر څومره چې ځنې خرڅوي اغېز نه پر کوي.
بن سیر یودم وویل:

ښه نو اصلي کيسه په عايد کې ده. د داسې يوه عايد ارمان لرم چې همېشه مې جېب ته راروان وي هغه که زه پر دېوال ناست يم او يا په سفر کې يم. ارکاد ته خامخا مالومه ده چې يو انسان څنګه او له کومې لارې عايد لرلای شي. ستا په خيال هغه به ما غونډې لټ ته دا چل ور وښيي؟

کوبي ځواب ورکړ:

زه فکر کوم ارکاد به خپل زوی نوماسير ته هم دا چل خامخا ورښودلی وي. ايا هغه کس دی نه وو چې نينوا ته ولاړ او لکه په قهوه خانه کې چې خلکو ويل، د پلار له مرستې پرته د هغه ښار تر ټولو شتمن سړی شو؟

د بن سير په سترګو کې يوه نوې رڼا وځلېده:

کوبي! ستا خبرو مې ذهن ته يو نادر فکر راووست. زما په خيال له خپل يوه پخواني انډيوال څخه د لارښوونې طلب څه بده خبره نه ده. بل دا چې ارکاد تل يو ښه ملګری پاته شوی دی. څه پروا لري که نن زموږ جېبونه د باز د يو کلني ځالې په شان تش-تور دي. راځه وخت به نه ضايع کوو. په دې مې سخت طبيعت خته دی چې ښار مو طلاوو پر سر اخيستی دی، خو موږ هېڅ نه لرو. زه غواړم شتمن شم. راځه ارکاد ته ورشو او د عايد په لاس راوړلو چل ځنې وپوښتو.

کوبي ورته وويل:

بن سيره! خبرې دې له زړه راوزي. ستا دغې وروستې خبرې مې د سترګو پر وړاندې يوه نوې دربڅه پرانيسته. په دې وپوهېدم چې موږ ولې هېڅکله نه يو شتمن شوي؛ دا په دې خاطر چې د دې کار هڅه مو نه ده کړې. ته له خپل مسلک سرّه مينه لرې او ټول کوښښ دې پر دې کړی چې د بابل د ښار تر ټولو کلکې بګۍ جوړې کړې. په دې لار کې دې بېحده زياته هڅه کړې او همدا دې د بريا راز هم دی. زما بيا هيله دا وه چې يو تکړه او ماهر ربابي شم. خپلې دغې موخې ته رسېدلی هم يم. نو ګواکې په هر څه کې چې مو هڅه کړې ده، پکې کامياب شوي يو. د همدې کار له امله خدای هم راڅخه خوښ دی. اخير مو دا دی داسې يوه رڼا تر سترګو شوه چې لمر غونډې تېزه ځلېږي. دغه رڼا مو

اړباسي چې د لا نېکمرغه کېدو لپاره باید لا زیات شیان زده کړو. د دغه نوي درک په زور کولای شو خپلو هیلو ته د رسېدو نورې ښې-ښې لارې ومومو.

بن سیر ورته وویل:

درځه همدا نن ارکاد ته ورشو. که دې خوښه وي خپل د ماشومتوب یو څو نور ملګري به هم راسره ملګري کړو، ځکه د هغوی ژوند-ژواک هم زما و ستا تر هغه چندانې بهتر نه دی او ښایي د ارکاد له پوهې یو څه ګټه واخلي.

کوبي وویل:

ته تر موږ ټولو هوښیار یې او په همدې وجه دې ملګري هم ډېر دي، نو لکه څنګه چې دې وویل همدا نن ارکاد ته ورځو او څو نور یاران هم راسره بیایو.

Scanned by CamScanner

# د بابل تر ټولو شتمن سړی

یو وخت د بابل په لرغوني ښار کې د ارکاد په نوم یوه خورا شتمن سړي ژوند کاوه. د نوموړي د شتمنۍ اوازه د هغه مهال د نړۍ تر ګوټ ګوټه رسېدلې وه. هغه همدارنګه په سخا او خرابات کې هم غټ نوم درلود. په خیرات او صدقه کې یې ساری نه وو. د خپلې کورنۍ پر وړاندې د لوی زړه څښتن وو. په ځان یې هم له خلاصه لاسه پیسې لګولې، خو له دې سره-سره یې هم هر کال شتمني لا پسې ډېرېده او د دخل[1] پیسې یې تل د لګښت تر هغو زیاتې وې.

یوه ورځ یې د ځوانۍ ملګري ورغلل او ورته ویې ویل:

اې ارکاده! ته تر موږ ټولو شتمن او د بابل لوی خان شوې. په داسې حال کې چې موږ د خپل ژوند د بقا لپاره له قسمت سره ډغرې وهو. ته کولای شې تر ټولو ښکلې جامې واغوندې او نایابه خواړه وخورې، خو موږ ته بیا ځانونه هله غټ تورزنان ښکاري چې د خپلې کورنۍ لپاره ایله یو فقیرانه خوراک او پوښاک برابر کړو. داسې وخت هم وو چې تا زموږ سره هېڅ توپیر نه درلود. تا او موږ ټولو پر یوه ښوونکي درس ویلی او پر یوه څمکه مو لوبې کړې دي. ته نه په درس او نه ورزش کې تر موږ تکړه وې او نه هم تر موږ غوره او دروند

---

[1] دخل Dakhal ــ د هغه مېز هغه جعبه چې پیسې پکې ساتل کېږي.

Scanned by CamScanner

ښاري وې. تر کومه ځایه چې زموږ یادېږي او ویلای شو، ته په خپلو کارونو کې نه تر موږ زیات زیارکښ وې او نه هم ژمن، نو څنګه بیا ته قسمت له موږه دومره ښېل او د ژوند په داسې ښو ډالیو ونازولې، په داسې حال کې چې موږ له دومره ورېتیاوو سره-سره داسې بې برخې پاته شوو؟

ارکاد ښېله خندا او په یو ډول اعتراضیه انداز وویل:

که تاسې زموږ له ځوانۍ څخه بیا تر دې دمه د تېرو شویو کلونو په اوږدو کې تنګلاسه ژوند کړی او لږ رزق مو ګټلی دی، لامل یې دا کېدای شي چې یا مو د شتمنېدو قوانین نه دي پېژندلي او یا مو هېڅ ورته پام شوی نه دی. د برخلیک دغه لاس یو خبیس شیطان دی چې نه یواځې دا چې هېڅکله چا ته خیر نه رسوي، بلکې سرچپه لګیا وي د هغو کسانو کار ورخرابوي چې وړیا او بې زحمته پیسې یې ګټلي وي.

همدا شیطان تل په هغو بدخرڅو او عیاشو انسانانو پسې ګرځي چې د اصراف له امله ډېر ژر خپلې شتمنۍ بایلي او له ګڼو داسې هوسونو او بدو عادتونو سره پر ښوی ډاګ پاتېږي چې بیا یې تر عهده نشي وتلای. ځینې داسې کسان هم شته چې دغه شریر ذات پر مهربانېږي او په سراښو[1] و رزیلو انسانانو یې بدلوي. دغه ډله بیا پر خپله شتمني ښېریږي او نه یې خرڅوي، ځکه پوهېږي چې که یې ولګوي بېرته یې ګټلای نشي. دوی همدارنګه د لاره وهونکو او غلو له ډاره یوه پوچ، خوروونکي او بدمرغ ژوند ته پناه وړي. ښایي داسې خلک هم وي چې کولای شي پر بادراوړو پیسو پانګونه وکړي، زیاتې یې کړي او د خوښو او راضي ښاریانو په توګه ژوند وکړي. خو د هغوی شمېر ښېخې کم دی او ما یې یوازې د نورو له خولې کیسې اورېدلې دي. که تاسې د میراث په زور د ناڅاپه شتمنو شویو وګړو ژوند ته پام وکړئ زما خبرې به مو زړه ته ولوېږي.

ملګرو یې ومنله چې د ارکاد نظر سم دی. دوی هم دغسې کسان پېژندل چې د میراث له برکته یودم خانان شوي ول. له نوموړي څخه یې وغوښتل چې د خپل بې حسابه ثروت د ګټلو راز وروښیي.

---

[1] سراښ – حریص.

هغه خپلې خبرې وغځولې:

په ځواني کې مې شاوخوا سترګې وغړولې. ګڼ خوښوونکي او ښکمرغه کوونکي شيان مې وليدل او پوه شوم چې که شتمني ولرم اسانه يې ترلاسه کولای شم. شتمني ځواک دی او په زور يې ډېر کارونه کېدای شي. په پيسو د کور لپاره قيمتي شيان رانيول کېدای شي، ليرې او اوږده سمندري سفرونه په کېدای شي، طلايي ګېڼې او قيمتي ډبرې په پېرل کېدای شي، ان ډېر لوی او شانداره عبادتځايونه هم په جوړېدای شي. ډېر نور داسې کارونه په کېدای شي چې د جسمي هوساينې او اروايي خوښۍ لامل ګرځي.

کله چې مې په دغو شيانو سر خلاص شو له ځان سره مې وويل چې بايد د ژوند له ښکيو او ډاليو ښخه خپله ونډه واخلم. نور بايد هغه کس ونه اوسم چې په يوه ګوښه کې ناست وي او له ليرې ښخه د نورو مزو و چړچو ته ځوربږي. نور به نه ارزانه جامې اغوندم او نه به فقيرانه ژوند کوم، بلکې نر غوندې به ورځم او دغه له نعمتونو ډک سترخان ته به پلتۍ وهم. تاسې مې پېژنی چې هم مې پلار يو غريب کارګر وو او هم مو کورنۍ غټه وه، له همدې وجې مې د يوه پام وړ ميراث هيله هم نشوای کولای. له بلې خوا مې-ستاسې د مخکنۍ خبرې په تاييد-نه کومه فوق العاده وړتيا لرله او نه هم تر حد زيات ځيرک وم، نو مې له ځان سره وويل چې خپلو هيلو ته د رسېدو لپاره مطالعې او وخت ته اړتيا لرم.

وخت هغه څه دی چې هر څوک يې ښه پربمانه لري. تاسې هر يوه يو عالم داسې وخت ببځايه تېر کړی چې کولای مو شول زيات شته پکې ترلاسه کړئ، مګر ومنئ چې دمګړی له کورنيو پرته بل هېڅ د ناز او وياړ ارزښت نه لرئ.

اوس به راشو مطالعې ته. که مو يادېږي يو وخت زموږ يوه هوښيار ښوونکي راته وويل چې پوهه پر دوه ډوله ده:

يو يې هغه شيان راښيي چې زده مو نه دي بل يې بيا دا را زده کوي چې څشي مو نه دي زده.

له همدې امله مې هوډ وکړ چې د شتمنېدو راز کشف کړم او کله چې مې دا کار وکړ، نو مې همدا خپله دنده وګرځوله او په ډېره لېوالتيا مې مخ ته يووړه. د

canned by CamScanner

عقل غوښتنه هم دا ده چې د لمر د ځلېدو پر مهال د هغه له رڼا خوند واخلو، ځکه هسې هم د ارواوو دنیا ته ورستنېږو او هلته ډېرې وېروونکې تیارې راته ګوري.

اخیر مې د ثبت په دفتر کې د کاتبي دنده ونیوله. هلته مې کار دا وو چې هره ورځ پر ختېنو لوحو شیان حک کړم. معاش یې کم، خو کار یې بېحده درون وو. اوونۍ-اوونۍ، میاشتې-میاشتې او ان کلونه-کلونه مې خولې تویولې، مګر کومه ارزښتناکه لاسته راوړنه مې نه لرله. ټول عاید مې پر خوړو، جامو، خیرات او ځینو نورو وړو شیانو لګېد چې اوس مې ذهن ته نه راځي. پاته دې نه وي چې هغه له ځان سره کړې هوډ مې هېڅکله لمن نه خوشې کوله.

یوه ورځ دفتر ته صراف القمیش راغی، د نهم قانون د نیمې برخې د حک کولو سپارښت یې راکړ او راته ویې ویل:

زه دوې ورځې وروسته راځم. که دې تیار کړی وو دوې میسې سیکې انعام درکوم!

ډېر تېز کار مې پر وکړ، خو هغه ډېر اوږد وو او کله چې القمیش راغی لا خلاص شوی نه وو. سخت غوسه شو. که یې غلام وای خامخا یې ټینګ ډبولم. اما زه پوهېدم چې د ښار د حاکم له خوا د دې کار اجازه نه لري، نو ځنې دارېدم هم نه. ورته ومې ویل:

القمیشه! ته ډېر خان یې. ما ته ستا غوندې شتمنېدو چل راوښیه. زه ژمنه درسره کوم چې ټوله شپه به د دغو لوحو پر کیندلو تېره کړم او د سهار تر لمرخاتو پورې به یې خلاصې کړم.

هغه راته موسکی شو او ویې ویل:

سره له دې چې ته یو رند او سپین سترګی انسان یې، زه بیا هم دا سودا درسره کوم.

هغه شپه تر سهاره پر حکاکۍ بوخت وم. د زیات کار له امله مې ملا درد واخیست، د پیلته یې ځراغ د لوګي بوی سرخوږی راواچاوه او د سترګو لید مې

کمزوره شو، مګر ما بیا هم لاس ونه دراوه. لمرخاته مهال چې القمیش راغی لوحې تیارې وې. ورته ومې ویل:

اوس نو ته پر خپله ژمنه ودرېږه!

په مهربانی یې وویل:

زویه! موږ معامله سره کړې وه او تا خپله برخه کار وکړ. زه هم پر خپل قول درېدو ته تیار یم او کوم راز چې دې راڅخه غوښتی وو درښیم یې. زه مخ پر بوډاتوب روان یم؛ سپین ږیرو ته طبعاً ډېر ږغېدل خوند ورکوي او کله چې یو ځوان د سلا لپاره ورته راشي، د خپل ټول ژوند پوهه ورسپاري. مګر ځوانانو ته ډېر کله د زړو خلکو پوهه هم زړه ښکاري او فکر کوي چې اوسمهال چندانې په درد نه خوري. خو ستا دې پام وي چې د نن ځلېدونکی لمر هم هماغه لمر دی چې ستا د پلار د زیږېدو پر وخت ځلېد او همدغه لمر به دې د وروستي لمسي د مړینې په ورخ هم ځلېږي.

د ځوان افکار هغې رڼا ته ورته دي چې صرف مخې ته پرته لار روښانوي کتیمټ لکه له یوه ستوري وار شوې ځلا چې د اسمان یوه کوچنی برخه ځلوي. لیکن د بوډا عقل بیا هغه ستوري ته ورته دی چې ببله کوم بدلونه شاوخوا رڼا خپروي او همدا وجه ده چې سمندري مسافر د خپلې لارې په پیدا کولو کې باور پر کوي. نو زما خبرو ته ښه په خیر غوږ شه، کنه هغه حقیقت به ونه مومې چې زه یې درته ویل غواړم او د ټولې شپې خواری به اوبوړې په نظر درشي.

دغه شېبه یې د پنډو ورځو تر شا مکارې سترګې راپکې ښخې کړې او په ورو او درانه ږغ یې راته وویل:

د شتمنېدو چل مې هله زده کړ چې پوه شوم د عاید یوه برخه زما خپل حق دی او باید ویې ساتم. ته هم همداسې وکړه.

له دې سره سم یې خپلې اغېزناکې سترګې راپکې وګنډلې او غلی شو.

ترې ومې پوښتل:

بس همدا؟

ویې ویل:

زما دغه خبرې کولای شي د یوه چوپان زړه د صراف په زړه بدل کړي.
ورته ومې ویل:
ولې زما ټول عاید زما خپل نه دی او د ځان لپاره یې نشم ساتلای؟
ځواب یې راکړ:
نه داسې نه ده! ولې ته په خیاط جامې نه ګنډې؟ بوټونه نه رانیسې؟ ډوډی نه خورې؟ او ایاپه بابل ښار کې وړیا ژوند کولای شې؟ د تېرې میاشتې له معاشه څومره پیسې درپاته دي؟ د تېر کال له عایده څو درپاته دي؟
اې د خدای ساده! تا له ځان پرته نورو ټولو ته خپله-خپله ونډه ورکړې ده. ته په حقیقت کې لګیا یې د نورو لپاره زحمتونه ګالې. تر دې خو دا ښه ده چې غلام شې او د هغو پیسو په بدل کې کار وکړې چې د جامو او خوړو لپاره درکول کیږي. که تا د خپل عاید لسمه برخه سپمولای، لس کاله وروسته به دې څومره شته لرلای؟
ریاضي مې لا پوره له یاده نه وه وتلې، ځواب مې ورکړ:
د یوه بشپړ کال د عاید په اندازه!
راته وېې ویل:
صرف نیم حقیقت دې ووایه. هره سپمولې طلایي سکه د یوه غلام په شان کار درته کولای شي، د هغې له برکته هره ګټلې میسي سکه بیا د هغې اولاد بلل کیږي چې دغه یوه هم په عین حال کې ستا یو بل غلام دی او خدمت درته کولای شي. که غواړې شتمن شې باید خپلې سپمولې سکې په کار واچوې، د هغو اولادونه هم باید پر چل راولې چې پیسې دې دوه برابره شي او د زړه کچې ته دې ورسېږي.
زیاته یې کړه:
ته به ښايي داسې انګېرې چې زه دې غولوم او د تېرې شپې خواری دې په اوبو لاهو شوي دي، مګر که هوښیار وې او زما په خبرو کې پټ حقیقت دې وموند، وبه پوهېږې چې زما د دغو خبرو ارزښت ستا تر زحمتونو زرګونه ځله لوړ دی.

Scanned by CamScanner

ستا د عاید یوه برخه ستا خپل حق دی او باید د ځان لپاره یې پټه کړې. عاید که دې هر څومره کم هم وي، بیا به هم لسمه برخه ځنې سپموې. البته که تر دې زیاتې پټوې، ستا خپله خوښه ده. د هر معاش تر اخیستلو وروسته خپله ونډه تر هر څه لومړی بېله کړه او پاته پیسې پر خپلیو، جامو او نورو اړتیاوو ولګوه. دغه راز خیرات او صدقه هم له یاده مه باسه.

لکه څنګه چې ونه له یوه دانه تخمه رازېږي، همداسې شتمني هم له کمو پیسو راپیدا کېږي. لومړی سپمولې میسې سیکه هماغه تخم دی چې د شتمنۍ ونه ځنې راشنه کېږي. هر څومره چې یې ښه روزنه و پالنه کوې هغومره ښه لوېږي او هر څومره ژر چې یې وکرې، هغومره وختي پر مېوه راځي او تر سیوري لاندې یې دمه کېدای شې.

تر دغو خبرو وروسته یې لوحې ورسره واخیستې او ولاړ.

په لاربښوونو کې مې یې ډېر سوچونه ووهل، معقولې او پرځای راته وبرېښېدې. هغه وو چې د دغې تګلارې ازمایلو ته مې لستوڼې رابډ وهل. تر هغې ورځې وروسته مې له هرو ګټلو لسو میسې سیکو څخه یوه ساتله. جالبه دا وه چې په ژوند کې مې هېڅ کمی هم نه احساساوه. توپیر دومره نه وو چې راباندې وغمېږي. خو کله چې مې سپمولې شتمني مخ پر ډېرېدو شوه، اکثره به یې د یوې برخې د خرڅولو وسوسه رالوېده او زړه به مې راته ویل چې ښار ته له فنیقیې څخه پر اوښانو یا کښتیو کې راوړل شوي ځینې په زړه پورې شیان رانیسم، مګر بېرته به مې شیطان ولاحوله کاوه.

د القمیش له نصیحته دوولس میاشتې تېرې شوي وې چې نوموړی مې یوه ورځ بیا لیدنې ته راغی او ویې ویل:

زویه! ایا تېر کال دې لږ تر لږه د خپل عاید لسمه برخه ځان ته پټه کړې ده؟

په غرور مې ورته وویل:

بلې مشره! همداسې مې کړې دي.

په داسې حال کې چې ځیر ځیر یې راته کتل، ویې ویل:

ډېر ښه! نو په دغو پیسو دې څه کړي دي؟

خښتمال ازمور ته مې ورکړې. نوموړی په یوه سمندري سفر روانېد او راته ویې
ویل چې په دغو پیسو به له فنیقیې څخه جواهرات را رانیسي او دا چې هغه ډول
جواهرات بابل کې کم پیدا کېږي، وبه یې پلورو او ګټه به یې سره نیمه کړو.
هغه په غوسه شو او ویې ویل:
بېعقلان باید عبرت واخلي. تا ولې د جواهراتو په اړه د یوه خښتمال پر پوهه باور
وکړ؟ ایا د ستورو په باب د مالوماتو ترلاسه کولو لپاره نانوای ته ورځې؟ نه، ولا
چې یوه ستورپېژندونکي ته به ورځې. که هوښیار وې نو سر به دې خلاص
شوی وي چې سپما دې اوبو یووړه. د شتمنۍ ونه دې په خپلو لاسونو له بېخه
وکښله. اوس باید یوه بله ونه کښېنوې او تلاښ دې له سره راونېلوې. دا وار باید
د جواهراتو په اړه یو اړوند سوداګر وپوښتې او همدارنګه د پسونو په هکله
مالومات له یوه چوپان څخه واخلې. سلا هغه څه ده چې تل وړیا ورکول
کېږي، مګر یوازې و یوازې باید تر ټولو ارزښتناکه او غوره هغه عملي کړل شي.
څوک چې د پانګونې په هکله یو بې تجربې کس پوښتي، د ګټې او زیان پته
یې هم باید د خپل لاس ګټلو پیسو په بدل کې ولګوي.
دا یې وویل او پر خپله مخه ولاړ. همداسې هم شوه لکه ده چې ویلي ول،
ځکه د فنیقیې اوسېدونکي ډېر رزیل خلک دي او د جواهرو پر ځای یې بې
ارزښته ښیښې پر تېرې کړي وې چې له ورایه د اصلي جواهرو غوندې
ښکارېدې. د القمیش له لارښوونې سره سم مې بیا د خپل عاید د لسمې برخې
ساتلو ته ملا وتړله او دا چې اوس ورسره روږدی شوی وم، ګران کار نه راته
ایسېد.
دوولس میاشتې وروسته نوموړی بیا راغی او راڅخه ویې پوښتل:
زما و ستا تر وروستۍ لیدنې راوروسته دې څه پرمختګ کړی دی؟
ځواب مې ورکړ:
خپله برخه مې پوره او سمه وساتله، راغونده کړې شتمني مې د آګار په نوم یوه
سپرجوړوونکي ته ورکړه چې برونز په رانیسي او هر څلور میاشتې یو ځل ګټه
حساب او زما برخه ځنې راکړي.

ویې ویل:

ډېر ښه. نو په ګټه به څه وکړې؟

داسې یوه مېلمستیا به په جوړه کړم چې عسل او خوشبویه کیک او شراب به پکې پراته وي. بل به ځان ته د سور بخمل جامې وکړم او د سپرلي لپاره به یو ځوان خر په رانیسم.

القمیش مې پر خبرو وخندل او ویې ویل:

ته چې د خپلو سپمولو پیسو اولادونه خورې، نو له هغوی څخه بیا د خدمت هیله څنګه کوې؟ او څنګه تمه لرې چې هغوی دې بیا نور ماشومان وزېږوي او هغه دې هم ستا چوپړ ووهي؟ ته باید لومړی د طلایي مریانو یو لښکر جوړ کړې او تر هغه وروسته لویې مېلمستیاوې وکړې، هله به بیا پښېمانه هم نشې. دا یې وویل او ولاړ.

دوه کاله وروسته چې مې کله لیدنې ته راغی د مخ ګونځې یې ژورې شوي وې او سترګو یې هم هغه مخکنی ځلا نه لرله، ځکه ورو-ورو مخ پر بوډاتوب روان شوی وو. راته ویې ویل:

آرکاده! ایا اوس دې هغه اندازه پیسې ګټلې دي چې په زړه کې دې وې؟

او ما ځواب ورکړ:

نه، هومره لا نه دي چې ما یې هیله لرله، مګر دومره شوي دي چې ورځ په ورځ زیاتېږي او ګټه یې هم نوره ګټه پسې کوي.

ایا بیا هم د خښتمال پر مشورو غوږ نیسې؟

که د خښتو موښلو په اړه وي، هو!

ویې ویل:

آرکاده! درسونه دې خورا ښه یاد کړي دي. لومړی دې زده کړل چې تر خپل عاید په کمو پیسو ژوند وکړې. بیا دې دا زده کړل چې یوازې د پوهې او تجربې له څښتنانو سره باید سلا وشي او په پای کې دې د طلایي سیکو د پر کار اچولو چم زده کړ.

Scanned by CamScanner

تا د پيسو گټلو لار پېژندلې او د شتمنۍ ساتلو او هغې د کارولو چل دې زده کړی دی، نو د دې وړ يې چې يو مسووليت دروسپارم. گوره! زه مخ پر زړېدو يم. اولادونه مې يوازې د پيسو خرڅولو په فکر کې دي، له گټلو سره يې هېڅ لېوالتيا نه لري. جايدادونه مې ښځې زيات دي او ېرېږم په سمبالولو کې يې پاته راشم. که ته نيپور ته ولاړ شې او د هغه ځای د جايداد څارنه مې وکړې، راسره شريکوم دې او په شتمني کې مې برخه درکوم.

نيپور ته ولاړم او د نوموړي د پراخ جايداد ساتنې ته مې اوږه ورکړه[1]. دا چې هم ډېر زيارکښ وم او هم مې پورتني درې درسونه ښه زده کړي ول، نو د القميش د شتمنۍ ارزښت مې خورا ورلوړ کړ. مالومداره چې زما خپله ونډه هم ورسره زياته شوه. څه وخت وروسته د نوموړي روح د تيارو نړۍ ته وکوچېد، د يوه مخکې له مخکې لاسليک شوي هوکړه ليک له مخې يې په پاته شونو کې هم غوښنه برخه راورسېده.

همدلته د آرکاد کيسه خلاصه شوه. د نوموړي تر چوپېدو وروسته سملاسي يوه ملگري ورڅخه وپوښتل:

بختور وې چې القميش خپل وارث کړې.

بختور په دې وم چې له القميش سره تر پېژندنې وړاندې مې د شتمنېدو هوډ کړی وو. څلور کاله مې پرله پسې د خپل عايد لسمه برخه وسپموله؛ ايا دا د يوې رنې او ټاکلې موخې د لرلو ښکاره ثبوت نه وو؟ که يو کب نيوونکی کلونه-کلونه د کبانو د خوی-بوی او چال-چلند په اړه مطالعه وکړي او د باد له بدلون سره سمندر ته د دام غورځولو چل و لوری-لودن مالوم کړي، ايا تاسې يې بختور بولئ؟ بخت د خدايانو[2] له ډلې څخه يو مغرور خدای دی، پر هر چا خپل وخت نه لگوي او يوازې هغو کسانو ته ورځې چې د ده ښه هرکلي ته تياری ولري.

يوه بل ملگري ورته وويل:

---

[1] يو شي ته اوږه ورکول - پر غاړه اخيستل، مسووليت منل.

[2] دا تر اسلام ډېره مخکې پېښنه شوې کيسه ده. ژباړن

په اصل کې ستا هوډ ډېر غښتلي دی، ځکه د یوه پوره کال لاسته راوړنه دي وبایلله، مگر بیا هم نهیلی نشوې، نو ته یو غیرعادي انسان یې.

آرکاد په پېغورانه انداز ورته ووېل:

غښتلی هوډ! څه بې مانا خبره. ایا ستا په خیال ځواکمنه اراده انسان ته د هغه بار د اوچتولو توان ورکولای شي چې اوښ یا غوایي یې نشي ښورولای؟ د ځواکمنې ارادې مانا دا ده چې یوه ثابته او نه بدلېدونکې موخه وټاکو او هغې ته د رسېدو لپاره ځینې کارونه پر ځان واجب وگرځوو. کله چې ان یو ډېر وړوکی کار هم انتخابوو، خامخا یې باید وهم کړو. کنه نو څنگه به پر ځان د یوه ډېر مهم او ستر کار تر عهدې وتلو باور وکړای شو؟

د بېلگې په توگه که زه له ځان سره عزم وکړم چې « هر ځل پر پُل د تېرېدو پر مهال به د رېگو یوه دانه رااخلم، سیند ته به یې غورځوم او دا کار به سل ورځې پرله پسې کوم.» نو خپله دغه پرېکړه باید حتماً عملي کړم. که فرضن شلمه ورځ مې له یاده ووزي، نو له ځان سره باید ونه وایم چې «پروا نه لري سبا به بیا دوې دانې رېگ سیند ته وغورځوم. څه خبره ده؟» بلکې هماغه شپه باید بېرته ور روان شم او یوه دانه رېگ سیند ته واچوم. د دغې کړنې په کولو سره ځان ته دا نه وایم چې «آرکاده! دا یو بې گټې کار دی. سیند ته د یوه دانه رېگ په غورځولو دې لاس ته څه درځي؟ یو ډک موټ رېگ راواخله او ور ویې غورځوه، یودم ځان ترې بې غمه کړه.» نه! نه داسې خبره کوم او نه هم داسې کار. هر وخت چې کومه دنده اخلم، په سر یې هم رسوم. خو هڅه کوم ډېر سخت و نه عملي کېدونکی کار انتخاب نکړم، ځکه زه یو ارام غوښتونکی سړی یم.

یوه بل ملگری پر خبرو راغی او ویې ویل:

که ستا دا خبرې رښتیا وي-چې له منطقي پلوه همداسې برېښي هم-او سړی دومره اسانه شتمنبدای شي، نو که هر څوک دغه لار عملي کړي د ځمکې پر مخ به د ټولو لپاره کافي شته پاته نشي.

آرکاد ځواب ورکړ:

Scanned by CamScanner

هر ځای چې د انسانانو هڅه او کوښښ روان وي، همالته شته هم ډېرېږي. فرض کړه یو شتمن سړی ځان ته یوه نوې ماڼۍ جوړوي. ایا پر هغې لګېدلې پیسې یې خاورې کېږي؟ نه! سهي ده چې د هغو یوه برخه به ښتمال، بنا، مزدور او نور کاریګر وړي، مګر ایا ماڼۍ تر بشپړېدو وروسته په هماغه بیه نه ارزي؟ او ایا د هغې ځمکې ارزښت نه لوړېږي چې دا پر ودانه شوې ده؟ لنډه دا چې شتمني په جادويي ډول زیاتېږي او هېڅوک یې د وروستي حد ورټاندوینه نشي کولای. ایا همدا د سمندري سوداګرۍ له برکته نه ده چې فنیقیانو پر وچو او بې ثمره ساحلونو ښکلي ښارونه ودان کړي دي؟

له حاضرانو څخه یوه بل کس وویل:

موږ عمرخوړلو ته دې لارښوونه څه ده، نه ځوانان یو او نه مو هم جېبونه ډک دي. نو څنګه کولای شو خانان شو؟

تاسې هم د القمیش له حکمت سره سم عمل وکړئ او له ځان سره ووایاست «زما د عاید یوه برخه زما خپله ده او باید ویې ساتم.» سهار لمرخاته چې له خوبه راویښېږئ همدا خبره وکړئ. ماپښین یې بیا درپه یاد کړئ. د شپې یې یو ځل بیا په ذهن کې دروګرځوئ. د ورځې په اوږدو کې یې هر یو ساعت وروسته له ځان سره تکرار کړئ چې پر مغزو مو منګولې درښخې کړي؛ کټمټ لکه د اسمان پر مخ چې په اورورینو تورو لیکلې وي.

ځان د همدغې نظریې تر اغېز لاندې کړئ. په ذهن یې درننباسئ او کوښږ مو په ډکه کړئ. وروسته ځان ته یوه مناسبه ونډه په پام کې ونیسئ، خو باید د عاید تر لسمې برخې مو کمه نه وي. که اړتیا وه ځینې لګښتونه مو راکم کړئ، مګر په هېڅ وجه مو خپله برخه مه لږوئ او تر هر څه وړاندې یې بېلوئ. ډېر ژر به داسې یوه خزانه ووینئ چې یوازني ښتنان یې تاسې یاست او له همدې امله به یو بې جوړې و خوندور احساس غځونې درپکې وکړي. څومره چې دغه خزانه پړسېږي هغومره به مو خوښي او هیجان ورسره زیاتېږي. په ژوند کې به یوه نوې خوښي تجربه کړئ. اوس به نو د هغې خزانې د لا لویولو لپاره نورو

هڅو ته لاس واچوئ او کله چې مو له دې لارې عاید زیات شو، له هماغه اضافه عایده هم د ځان لپاره لسمه برخه بېله کړئ.

په همدې ډول د خزانې د مزدورولو چل زده کړئ چې د یوه غلام غوندې چوپړ درته ووهي. د هغې اولادونه او د هغې د اولادونو اولادونه هم مجبور کړئ چې کار درته وکړي.

خپله راتلونکې هم له یاده مه باسئ. عمرخوړلو وګړو ته وګورئ او یاد ولرئ چې یوه ورځ به تاسې هم د هغوی په شان یاست. پانګونه ډېر په احتیاط سره وکړئ چې له لاسه درځخه ونوزي. د ګټې ارزښت لکه سمندري حوره Siren[1] داسې غولوونکې دی چې اواز یې زړه وړي، خو پایله یې له لویو تېرو سره له ټکر او پښېمانۍ پرته بل څه نه ده.

ستاسې کورنۍ په هېڅ وجه نه غواړي چې خدای مو خپلې دنیا ته وروبولي. د هغې د خوښ ساتلو لپاره دوامداره سپما وکړئ. په دې تمه مه اوسئ چې یوه ورځ به نابېره ډېرې پیسې په ګوتو درشي او ورته نذرانه به یې کړئ، ځکه دا کار عقل نه مني.

له هوښیارو او باتجربه خلکو سره سلا وکړئ. له داسې کسانو څخه لارښوونه وغواړئ چې تل یې له پیسو سره سروکار او همدا یې دنده وي. زه وغولېدم او پر خښتمال ازمور مې باور وکړ، مګر که تاسې د مالي چارو تکړه کارپوهان وپوښتئ دا کانه[2] به درونښي. لږه خو ډاډمنه ګټه په کراتو-مراتو تر زیاتې خو خطرناکې هغې غوره ده.

تر څو په دې نړۍ کې یاست له ژونده خوند واخلئ. مه تر حد زیات ځان ستړی کوئ او مه هم بېخې ډېره سپما کوئ. له کومې سختۍ او فشار پرته د خپل عاید لسمه برخه پټوئ او پر همدې قناعت وکړئ. له عاید سره سم لګښت

---

[1] په یوناني اسطورو کې Siren یا سمندري حوره یو موجود دی چې نیمه لوړه تنه یې د ښکلې ښځې او لاندنۍ هغه یې کب دی او په خپل زړه وړونکي اواز سمندري مسافر ګمراه کوي.

[2] کانه-چل.

وکړئ. مه سرانښتوب[1] کوئ او مه هم د پیسو پر لګولو وېرېږئ. ژوند هله خوږ او شتمن وي چې سړی ارزښتناک او خوښوونکي شیان ولري.

ملګرو له آرکاده مننه وکړه او ولاړل. ځینې یې غلي ول، ځکه د نوموړي خبرو ګنګس کړي ول او سر یې نه په خلاصېد. ځینو نورو بیا نیرکه پر کوله او ویل یې دومره شتمن سړي ته نه ښایي زموږ غوندې غریبانو سره باندار وکړي. خو د ځینو په سترګو کې یوه نوې ځلا لیدل کېده. هغوی پوهېدلي ول چې القمیش هغې خونې ته د دې لپاره څو ځله ورغلی وو چې د یوه داسې سړي ننداره وکړي چې د ده پر لار روانېدونکی وو او له تورتمه یې د رڼا پر لور ګامونه اخیستل. دغه سړي ته په هغه رڼا کې یو مقام په تمه وو. داسې یو مقام چې له ده پرته بل هېچا نه ډکاوه او د ترلاسه کولو لپاره یې باید ده خپله په ځان کې یو نوی درک رازېږولای او د هغه د کارولو لپاره تیارېدای.

وروستۍ ډله هغه کسان ول چې په وارو-وارو د آرکاد لیدنې ته ورغلل او ده یې هم په ورین تندي هرکلی وکړ. هغوی به له نوموړي سلا غوښته او ده به هم لکه نور پوهان، په ډېره خوښۍ خپله پوهه پر لوروله. آرکاد له هغوی سره په داسې لارو کې د پانګې اچولو په اړه مرسته وکړه چې ګټه یې زیاته او خطر یې کم وو، تر څو نه سرمایه له لاسه ورکړي او نه هم په بې ګټو شیانو پیسې بندې کړي.

د هغوی د ژوند ښه هله بدله شوه چې کله یې په هغه حقیقت سد ورسېد چې له القمیشه آرکاد او له آرکاده دوی ته رالېږدول شوی وو او هغه دا وو:
ستا د عاید یوه برخه یوازې ستا ده او باید ویې ساتې!

---

[1] سرانښتوب-کنجوسي.

# د مالي تنګلاسيو د له منځه وړلو اووه لارې

د بابل ښار شان و شوکت ډېر لرغوني دی او له پېړيو-پېړيو راهيسې د نړۍ د تر ټولو شتمن ښار په توګه يادېږي. د يادې سيمې افسانوي خزانې په تاريخ کې خورا لوی نوم لري.

له دې سره هم د دغه ښار کش و پش تل پر يوه حال نه دی پاته شوی. د بابل شتمني د هغه د اوسېدونکو د پوهې او هڅو زېږنده وه. هغوی بايد تر هر څه لومړی د شتمنېدو چل زده کولای.

کله چې په نېک پاچا مشهور سارګون د خپل غليم ايلام تر ماتولو وروسته بابل ته راوګرځېد، له يوې لويې ستونزې سره لاس و ګرېوان شو. لومړي وزير يې داسې راپور ورکړ:

کلونه-کلونه مو وګړو نېکمرغه ژوند درلود او دا ستاسې عالي جناب د هغو کارونو له برکته وو چې د خړوبولو د سترو وياله او لويو عبادتځايونو پر جوړولو مو کول، خو اوس حالات دومره ترينګلي دي چې د بابل اوسېدونکي د خپل ورځني خرڅ پيدا کولو توان لا نه لري.

Scanned by CamScanner

کاریگر اوزګار دي، د سوداګرو مشتریان ورځ تر بلې کمېږي، کروندګر خپل حاصلات نشي پلورلای او ولس د خپلو اړتیاوړ توکو رانیولو وس نه لري.

پاچا ترې وپوښتل:

نو هغه سره زر چې موږ پر ودانیزو چارو ولګول، چیرې ولاړل؟

وزیر ځواب ورکړ:

هغه ټول له بده مرغه د یو څو ګوتشمېر شتمنو جېبونو ته ورتوی شول. له ډېرو خلکو څخه پیسې تر ګوتو وځښېدلې، کتمټ لکه شیدې چې په غلبېل کې واچوې. اوس چې شتمنی له څرخه لوېدلي دي، د ډېری وګړو عاید هم ډېر ورسره کم شوی دی.

پاچا یوه شیبه په فکر کې شو، وروسته یې وپوښتل:

ټولې طلاوې څنګه یوازې یو څو کسان ځان ته اخیستلای شي؟

وزیر ځواب ورکړ:

ځکه چل یې ورمالوم وو او موږ دا حق نه لرو یو څوک د بریالیتوب او په خپل کار کې د ښې پوهې لرلو له امله ونیسو. البته له شتمنو په زوره طلا اخیستلای او پر غریبانو وېشلای شو، مګر دا چې هغوی دا هر څه له سمې او قانوني لارې ګټلي دي، نو یو عادل سړی باید دا کار ونکړي.

پاچا وویل:

نو عوام ولې د شتمنېدو چم نه زده کوي؟

وزیر ځواب ورکړ:

عالي جنابه! دا کار بالکل شونی دی، مګر پوښتنه دا ده چې څوک یې وروښيي؟ څرګنده ده چې دینپوهان د دې وړتیا نه لري، ځکه د هغوی په مادي مسایلو سر نه خلاصېږي.

پاچا وپوښتل:

په دې ښار کې څوک په مالي چارو کې تکړه دی؟

ځواب ښکاره دی: هغه څوک چې د بابل تر ټولو شتمن او په مالي چارو کې بریالی دی!

زما هوښیار وزیره! ویل کیږي دا سړی آرکاد نومیږي. سبا سهار یې ما ته راوله.

سبا سهار آرکاد دربار ته را حاضر کړل شو. نوموړی د عمر پر زیاتوالي سربېره د پاچا مخې ته ښغه ملا ولاړ وو.

پاچا ورته وویل:

آرکاده! ایا ته رښتیا د بابل تر ټولو لوی خان یې؟

پاچا سلامت! همداسې مشهور شوی یم او څوک شک هم نه پکې لري.

څنګه دومره شتمن شوې؟

ما له هغو فرصتونو چې زموږ د ښار ټولو اوسېدونکو لرل، ګټه اوچته کړه!

ایا خپل کار دې له هېڅه راپیل کړ؟

په پیل کې مې له هیلې او غوښتنې پرته بل هېڅ نه لرل.

پاچا وویل:

آرکاده! پر ښار مو یوه لویه بلا رانازله شوې ده، څکه ټول سره زر یوازې د یو څو او هغو کسانو ګوتو ته لوېدلي دي چې د پیسو ټولولو په چم پوهېږي. نو باید ټولو اوسېدونکو ته د شتمنېدو چل ور وښیو. اوس دا راته ووایه چې ایا د شتو پیدا کول کوم څانګړی راز لري او څوک یې زده کولای شي؟

پاچا صاحب! دا کار شونی دی او د هر چا چې یو شی زده وي، نورو ته یې ورښودلای شي.

د پاچا سترګې روښانه شوې او ویې ویل:

آرکاده تا داسې څه راته وویل چې ما یې له اورېدلو سره لېونی لېوالتیا درلوده. ایا ته دغه کار ته چمتو نه یې؟ او کولای شې په دې اړخ کې یو څو ښوونکي وروزې چې هغوی بیا پر خپل وار نور وپوهوي او دا لړی تر هغو همداسې روانه وساتل شي تر څو زما د قلمرو ټول اوسېدونکي څنې برخمنېږي؟

آرکاد درنښت پر ځای کړ او ویې ویل:

زه ستاسې خدمتکار او فرمانبردار یم. ډېر به خوښ شم که مې پوهه د عالي جناب د رعیت د حالت په ښه والي کې وکارېږي. لطفاً لومړي وزیر ته لارښوونه وکړئ چې یو سل کسیز ټولګی جوړ کړي. زه به هغوی ته د خپلو کمښتونو پوره

کولو او مالي ستونزو له منځه وړلو اووه پړاوه وروښیم. دا هغه کړنلارې دي چې ما خپله عملي کړي او هیله من یم په پلي کولو سره به یې بابل کې هېڅ اړ کس پاته نشي.

دوې اوونۍ وروسته سل چاڼ شوي کسان د (زدکړو معبد) په تالار کې سره راغونډ او په نیمه دایروي بڼه یې پر وړو نالیچو پلتۍ ووهلې. آرکاد هم کښېناست. د ده تر څنګ د یوې کوچنۍ میلې پر سر د سپېځلو تېلو یو څراغ بل او خوښوونکې بوی یې په فضا کې خپور وو.

یوه زدکوونکي د څنګ ملګرې په څنګل وواهه او ورو یې وویل:

د بابل تر ټولو خان سړي ته وګوره زموږ سره هېڅ توپیر نه لري!

آرکاد ودرېد او خبرې یې پیل کړې:

زه د یوه مسوولیت پېژوندونکي وګړي په توګه د ستر پاچا په امر ستاسې مخې ته ولاړ یم. دا چې زه اول یو غریب سړی وم او یوازې مې د شتمنېدو ارمان په سر کې درلود، بیا مې په دې لار کې پوهه ترلاسه کړه او د بېخې ډېرو شتو پر راغونډولو وتوانېدم، نو پاچا راځخه وغوښتل خپل اړوند مالومات ستاسې سره هم شریک کړم.

ما خپل کار په ډېره کمه سرمایه راونښلاوه. هغه مهال نه تر تاسې غوره وم او نه مې هم د بابل تر نورو عادي اوسېدونکو د ژوند زیات نعمتونه لرل.

لومړنۍ خزانه مې یوه زړه همیانۍ وه چې خپله اوله سیکه مې یې تشې خېټې ته وروغورځوله او یوازنۍ هیله مې دا وه چې پنډه او ګیردۍ شي او چې ویې ښوروم نو له دننه څخه یې د سرو زرو د سیکو شرنګې واورم. همدا وو چې د هغې د ډکولو په تلاښ کې شوم او د دې کار لپاره مې اووه لارې-چارې وموندلې.

اوس دا قوانین تاسې ته درښیم او همدارنګه یې ټولو هغو کسانو ته د خپلولو توصیه کوم چې غواړي خانان شي. سر له نن څخه تر یوې اوونۍ پورې هره ورځ یو-یو قانون درته بیانوم.

Scanned by CamScanner

خبرې مې د زړه په غوږونو واورئ او په اړه يې بحث راسره وکړئ. په خپلو منخونو کې هم سره پر ورغبرئ. دغه درسونه ښه سم زده کړئ او په مټ يې په خپلو کڅوړو کې د شتمنۍ تخم وکرئ. که غواړئ نور وروزئ، نو لومړی بايد خپله له يوې معقولې لارې د شتو څښتنان شئ.

د کڅوړې ډکولو د لارو-چارو دغه لړۍ د شتو سرچينې ته د خان رسولو له لومړني قدمه درته راپيلوم او که مو پر همدې اوله زينه پښه سمه ټينگه نه کړئ، نو د پرمختګ بام ته به هم ورونه ختلای شئ.

Scanned by CamScanner

# لومړی لار

## د خپلې کښورې دکول پېل کړئ!

آرکاد یوه نفر ته چې په دویم کتار کې ناست او چورتونو کې ورک وو مخ کړ او ویې ویل:
ملګرې! ته څه کار کوې؟
سړي ځواب ورکړ:
زه کاتب یم او پر خښتېنو لوحو حکاري کوم.
آرکاد وویل:
سخت کسب دی، لیکن ما خپلې لومړنۍ میسي سیکې له همدې لارې ټولې کړې، نو ته هم د شتمنېدو چانس لرې.
وروسته یې یو بل کس چې په شاتنیو کتارونو کې سره پېچلی ناست وو، مخاطب کړ او ویې ویل:

Scanned by CamScanner

ته د خدای په رضا خپله روزي له کومې لارې ګټې؟

هغه ځواب ورکړ:

زه کساب یم. له مالدارانو څخه پسونه رانیسم، حلالوم یې غوښې یې پر کورنیو بڅو او پوستونه یې پر بوټ جوړوونکو خرڅوم.

- ته هم زیارکښ انسان یې او دا چې عاید لرې، نو د بریالیتوب هر هغه امکان چې ما درلود ته یې هم لرې.

همداسې یې له نورو څخه هم د هغوی د عاید په اړه پوښتنه وکړه. د سوالونو تر خلاصېدو وروسته یې وویل:

شاګردانو! ومو لیدل چې د پیسو ګټلو ګڼې سوداګریزې لارې شته. هره یوه یې د طلاوو یوې ویالې ته ورته ده چې کاریګران یې د زیار او تلاښ په مټ خپلې خوا ته رااړوي او کڅوړې ځنې ډکوي. ستاسې جېبونو ته د ور روانو سیکو کچه ستاسې هر یوه له خوارۍ او پوهې سره اړه لري؛ ځینې غټې او ځینې کوچنۍ سیکې ګټي. همداسې نه ده؟

ټولو بېله خنډه ورسره ومنله. آرکاد ادامه ورکړه:

نو ستاسې د ډلې هر هغه څوک چې د یوې ښې راتلونکې جوړولو نیت لري، که دا کار له خپلې همدا اوسنۍ دندې راپیل کړي ښه به نه وي؟

بیا هم ټولو سرونه ورسره وخوځول. دغه مهال آرکاد یوه غریب سړي ته چې خان یې هګۍ پلورونکی ورپېژندلی وو، مخ کړ او ویې ویل:

فرض کړه ته یوه تشه ټوکرۍ لرې. که هر سهار لس دانې هګۍ پکې کښېږدې او هره شپه نهه دانې بېرته ځنې واخلې، اخیر به څه پېښ شي؟

- څه وخت وروسته به ټوکرۍ ډکه شي.

- ولې؟

- ځکه کومې هګۍ چې هره شپه یې پکې پرېږدم، تر هغو یوه دانه زیاتې دي چې په دا سبا یې بېرته ځنې اخلم.

آرکاد موسکی شو او له ټولو یې وپوښتل:

Scanned by CamScanner

ایا په دې ټولګي کې داسې څوک شته چې همیانی یې له پیسو تشه وي؟ مغوی لومړی په حیرانتیا یو و بل ته سره وکتل او وروسته په خندا شول. اخیر ټولو خپلې همیانۍ د ملنډو په دود پورته ونیولې.

ده وویل:

ډېر ښه، اوس زما له تجربې سره سم د تشې همیانۍ ډکولو لومړۍ لار درښیم. د هګیو ښېلګه په پام کې ونیسئ او کټمټ هماغسې وکړئ. یانې همیانیو ته مو له هرو لسو لوېدونکو سیکو څخه یوازې نهه ځرځې کړئ. د وخت په تېرېدو سره به مو همیانۍ خپله پنډه شي او بیا چې یې کله په لاس کې نیسئ خوند به پر اخلئ او اروا به مو ورسره ارامېږي.

دا تګلار به له ورایه ډېره ساده او ماشومانه درته ښکاره شي، مګر په هیڅ وجه به سپکه سترګه مه ورته ګورئ. حقیقتونه تل ساده وي. ما ستاسې سره ژمنه کړې وه چې د خپل ژوند کیسه به درته کوم او د شتمنېدو راز به مې درښیم. ما هم همداسې له صفره راپیل کړه. ما به هم تل پر خپله تشه همیانۍ لانت وایه. ځکه هغه څه مې نشوای پکې موندلای چې زه یې خپلو هیلو ته رسولای شوم. خو کله چې مې دغه تګلار عملي کړه او له هرو لسو سیکو څخه مې یوازې نهه داني ولګولې، همیانۍ مې خپله مخ پر چاغېدو شوه. ستاسې دا به هم وپرسېږي.

اوس به یو ډېر عجیب او داسې حقیقت درته ووایم چې خپله یې هم په وجه نه پوهېږم. کله چې مې لګښتونه د خپل عاید لسمه برخه راکم کړل، نه مې په ژوندنیو چارو کې بدلون راغی او نه هم د کوم څه له کمښت سره مخ شوم، بلکې ډېر ژر وروسته مې عاید لوړ شو او سیکې مې تر پخوا په اسانۍ سپمولای شوې. زما په نظر دا یو خدایي قانون دی چې د هغه چا کڅوړې ته سیکې په اسانۍ ورځي چې خپلې ټولې پیسې نه ځرځوي او یوه برخه یې ساتي، مګر سرچپه له هغې کڅوړې څخه بیا ځغلي چې تشه وي.

مورږ پیسې په دوه ډوله لګوو: یو د ژر تېرېدونکو هوسونو پر خړوبولو لکه: رنګارنګ ګبنې، ښکلې جامې، پرېمانه خواړه او نور ژر له منځه تلونکي و

هېرېدونکي څېزونه. دويم پر هغو پانګونو چې د ګتې لامل ګرځي. لکه: جايداد، ځمکه، سره زر، غواوې، پسونه او يا هم نور سوداګريز توکي. تاسې يې کوم ډول خوښوئ؟ هغه سيکې چې له کڅوړې څخه وزي پر لومړي ډول شيانو لګېږي او هغه چې پاتېږي، پر دويم ډول توکو خرڅېږي.

اې زدکوونکو! دا هغه لومړی لار وه چې ما د خپلو مالي کميو د پوره کولو لپاره وموندله. ياني کڅوړې ته له هرو لسو راغليو سيکو څخه بايد يوازې نهه خرڅې شي. پر دې موضوع له يو و بل سره بحث وکړئ او که چا ناسمه ښکاره شوه، سبا د بياراټولېدو پر مهال به سره پر ورغېږو.

Scanned by CamScanner

# دویمه لار

## لگښتونه مو کابو کړئ!

دویمه ورځ آرکاد خپلو زدکوونکو ته مخ کړ او ویې ویل:
ستاسې څخه څینو پوښتلي چې که د یو چا عاید د هغه د اړتیاوړ توکو لپاره بس نه وي، نو څنگه د معاش لسمه برخه وسپموي؟
پرون په تاسې کې د څو نفرو کځوړه تشه وه؟
ټولگي ځواب ورکړ:
د ټولو دا!
- داپه داسې حال کې چې ستاسې ټولو عاید یوشان نه دی. په دې مانا چې د څینو گټه-وټه ښایي تر نورو زیاته وي. څینې بیا تر نورو ډېر اولادونه لري. مگر

Scanned by CamScanner

په زړه پورې دا ده چې ستاسې ټولو کڅوړې په یوه اندازه تشې وې. اوس د انسانانو په اړه یو بل حقیقت درته وایم: کوم څه چې موږ «اړین لګښتونه» بولو ثابت او ټاکلي نه دي، بلکې د عاید له ډېرېدو سره سم زیاتېږي او که کابو نکړل شي اخیر ورسره خوله په خوله کېږي.

غوښتنو او هوسونو ته باید هېڅکله د اړینو لګښتونو نوم ورنکړل شي. تاسې ټول پر کورنیو برسېره یو شمېر داسې هوسونه هم لرئ چې ستاسې عاید یې خواب نشي ویلای. په دې توګه نو ستاسې پیسې پر یو شمېر نه تمامېدونکو هوسونو لګېږي.

هر انسان ځینې داسې هیلې لري چې نشي ور رسېدلای. ستاسې په اند زه هېڅ داسې ارمان نه لرم چې ترلاسه کولای یې نشم؟ بالکل یې لرم. د بېلګې په توګه وخت مې کم دی، واک مې ناپایه نه دی، هر ځای چې مې زړه غواړي سفر نشم کولای او ان د خوړو او ساتېریو ډول و کچه مې هم محدودیتونه لري.

هوسونه کټمټ لکه بې ګټې وابنه داسې دي چې د کښت په هر ځای کې د ریښو ځغلولو موقع ووینې همالته سره غځېږي. د اسانتیاوو له ډېرېدو سره سم هوسونه هم سر راپورته کوي. هغه هیلې چې سړی یې پوره کولای شي، خورا کمې دي.

ټول پر خپلو ورځنیو چارو بیاکتنه وکړئ. داسې لګښتونه خامخا شته چې که عاقلانه فکر وکړئ یا یې ایسته کولای او یا یې کمولای شئ. اره موخه مو باید دا وي چې خپلې سیکې تر وسه-وسه پرځای ولګوئ.

خپلې غوښتنې او هیلې پر یوه ختینه لوحه وکیندئ او ورته وګورئ چې کومې-کومې یې ستاسې د عاید په نهو برخو پوره کېدای شي. تر ټولو اړینې یې پرېږدئ، نورو باندې کرښه راوکاږئ، د نه ترلاسه کېدونکو غوښتنو په ډله کې یې وشمېرئ او هېڅ چورت مه په خرابوئ.

د ضروري لګښتونو یوه بودجه جوړه کړئ. هېڅکله په هغه لسمه برخه چې ستاسې د پیسو کڅوړه درچاغوي، غرض مه لرئ. هغې ته د یوې سترې غوښتنې

canned by CamScanner

او ارمان په سترګه وګوري. د جوړې کړي بودجې ډېر قدر وکړئ، د مرستې یوه وسیله یې وګڼئ او د کځوړې د لا درنولو په لار کې کار ځنې واخلئ.

دغه شبېه یو زدکوونکی چې سرې او طلايي رنګه جامې یې اغوستي وې، پاڅېد او ویې ویل:

زه یو خپلواک انسان یم او د ژوند له نعمتونو څخه د برخمنېدو حق لرم، نو بیا ولې د یوې بودجې غلامي وکړم او د خپلو شخصي پیسو واک وروسپارم؟ فکر کوم دا کار به مې د ژوند له ډېرو خوندونو محروم او یو باري خر راڅخه جوړ کړي.

آرکاد ځنې وپوښتل:

ستا بودجه څوک جوړوي؟

اعتراض کوونکي وویل:

مالومداره زه خپله!

- ایا یو باري خر کولای شي ځان ته بودجه جوړه او دا پرېکړه وکړي چې مثلاً بار دې یې له ګېڼو، غالیو او طلایي سیکو ډک وي؟ ځواب ښکاره دی: نه! بلکې ښایي بار یې غله، پروړ او یا هم په دښتو کې د تندې ماتولو په نیامت د اوبو بوشکې وي.

د بودجې موخه دا ده چې ستا د کځوړې پیسې ډېرې او وکولای شې خپلې اړینې غوښتنې او دانه-مانه هوس په پوره کړې. دغه راز د خپلو ډېرو مهمو غوښتنو په پېژندلو کې مرسته درسره کوي او له دې سره تر څنګ دې د ژر تېرېدونکو هوسونو له شره هم ساتي. بودجه په یوه تیاره غار کې د لګېدونکي څراغ په شان ده چې د پیسو د کځوړې درزونه درښیي، د هغو د کوشېرولو وس درکوي او توانوي دې چې د نااړینو لګښتونو مخه ونیسې او لا لویو هیلو ته د رسېدلو جوګه شې.

دا وه د تشې کځوړې د ډکولو دویمه لار. د خپلې بودجې له مخې لګښت وکړئ چې د اړینو غوښتنو، خوندونو او هیلو د پوره کولو لپاره کافي پیسې ولرئ او د عاید د لسمې برخې لګولو ته مجبور نشئ!

## دریمه لار

### سپما مو دوه برابره کړئ!

دریمه ورځ آرکاد خپلو زدکوونکو ته داسې وویل:
د خپلو راغونډو کړو پیسو دېرېدو ته باید پام وکړئ. تاسې یو ځانګړی نظم مراعتوئ؛ هغه دا چې د خپل عاید لسمه برخه ساتئ. لګښتونه مو هم کابو کوئ چې سپمولي پیسې مو ورسره زیاتې شي. اوس نو دویم ګام دا دی چې سپمولي پیسې مو د ځان لپاره پر کار کولو وګومارئ او لا یې ډېرې کړئ. سمه ده چې په کڅوړه کې د سرو زورپرته سیکه خوښي بخښونکې او روح اراموونکې ده، مګر هغه پخپله د ګټې-وټې په یوه سرچینه نه بدلېږي. تر دې دمه ټولې کړې پیسې یوازې یو پیل دی. په حقیقت کې د همدغو پیسو ګټه مور شتمنوي.
دا کار څنګه کولای شو؟ له بده مرغه ما په خپله لومړۍ پانګونه کې ټولې سپمولي پیسې وبایللې. اوله ګټوره پانګونه مې له سپرجوړوونکي اګار سره شراکت وو. نوموړي په کال کې یو ځل د بابل د سمندر له هغې غاړې راوړل کېدونکي برونز رانیول او په خپل کسب کې یې کارول. دا چې له سوداګرو یې د شیانو د رانیولو لپاره کافي پیسې نه لرلې، مجبوراً به یې له هغو کسانو پور اخیست چې اضافه روپۍ ورته پرتې وې. نوموړی یو ډېر دروند سړی وو او تل

یې پورونه بېرته پرې کول. دغه راز یې پوروړو ته د سپړونو له خرڅلاوه غوړه ګټه هم ورکوله.

ما به د ګټې پیسې نه څنې اخیستې او پر اصلي پانګه د ورزیاتولو لپاره به مې بېرته هغه ته ورکولې. په دې کار مې نه یوازې سرمایه زیاتېده، بلکې ګټه یې هم ورځ تر بلې ډېرېده او زما کڅوړې ته راروانه وه.

اې زدکوونکو! شتمني په کڅوړو کې پرتې سیکې نه، بلکې له هغو څخه دوامداره ترلاسه کېدونکې ګټه او د طلاوو هغه ویاله ده چې همدغې کڅوړې ته رابهېږي او همېشه یې ډکه ساتي. دا ټیک هماغه څه دي چې تاسې یې د ترلاسه کولو هڅه کوئ. یانې داسې یو تلپاته عاید چې تل درته راروان وي هغه که ته کار کوې او یا پر سفر یې.

زه اوس بې خرته شتمني لرم؛ دومره ډېره چې اکثره خلک مې خان خانان بولي. له اګار سره شراکت د ګټورې پانګونې لومړنی درس رازده کړ. په دې اړه د ترلاسه کړي پوهې په مټ مې د شتمنۍ له زیاتېدو سره سم نورو غټو پانګونو ته لاس واچاوه. په پیل کې مې لاسته راوړنه کمه وه، وروسته زیاته شوه، د طلاوو د یوې ویالې غوندې مې پر همیانۍ راسېره شوه او ومې کولای شول خپل څینې عاقلانه لګښتونه په وکړم.

وینئ چې په اوایلو کې مې عاید بېخي کم وو. ورو-ورو مې د سرو زرو په داسې مریانو بدل کړ چې هر یوه یې زما خدمت کاوه او لا زیات سره زر یې راته راوړل. نه یوازې دوی، بلکې اولادونو او لمسیانو یې هم چوپړ راته واهه او د ټولو د کار حاصل زما کڅوړې ته راروان وو ان تر دې چې عاید مې غره غوندې ستر شو.

که مو عاید لږ خوندور وي، د سرو زرو کچه هم په چټکۍ ورسره لوړېږي، نو د مالي چارو د ښه والي دربیمه لار دا ده چې:

هره سیکه په کار واچوئ چې یوه بله درته وګټي، لکه د غواوو او پسونو رمې چې وار په وار زیاتېږي. په پای کې به مو عاید خپله ډېر او کڅوړو ته به مو د طلاوو یو نه غوځېدونکی بهیر راروان شي.

Scanned by CamScanner

# خلورمه لار

## د خپلې خزانې ساتنه وکړئ!

خلورمه ورځ آرکاد خپلو شاګردانو ته وویل:

په کڅوړه کې پراته سره زر باید سم وساتل شي، کنه له لاسه وزي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره به غوره وي د ښبتن له خوا د سترې شتمنۍ تر راډالۍ کولو وړاندې د وړو-وړو مبلغونو ساتنه زده کړو.

د شتو هر ښبتن تل په دې فکر کې وي چې پر ډېرو ګټورو شیانو پانګونه وکړي. ډېرکله په دغسې حالاتو کې بېلابېل دوستان و ملګري رنګارنګ مشورې وړاندیزوي او پر عملي کولو یې ټینګار کوي.

د سمې پانګونې لومړنی ار[1] د اصلي پانګې ساتنه ده. ایا د زیاتې ګټې په تمه د خپلې اصلي پانګې په خطر کې اچول معقول کار دی؟ زما په اند نه! لوی ریسک، د لوی زیان لامل ګرځي. نو د خپلې زېرمې تر بایللو مخکې دقیقه مطالعه وکړئ او ټول احتمالي خطرونه په پام کې ونیسئ. د ژر شتمنېدو په هیله له لارې مه اوړئ او د پوچو خیالونو غلامان کېږئ مه.

---

[1] اصل

Scanned by CamScanner

یو چا ته تر پور ورکولو وړاندې له خانه وپوښتئ چې ایا هغه دا پور بېرته پرې کولای شي او ایا باور پر کېدای شي؟ ځکه هسې نه په ناغوښتې توګه خپلې په زیار او سختی ټولې کړې پیسې ورته ډالی کړئ.

مخکې تر دې چې د هر ډول پانګونې پر درشل پښه کښېږدئ، ټول ممکنه خطرونه یې وسنجوئ.

په خپله لومړنۍ پانګونه کې خوړلی ډز هغه مهال ډېر بد راباندې ولګېد. د یوه کال په تکلیف او زحمت سپمولې پیسې مې د آزمور په نامه یوه ښنتمال ته ورکړې چې له فنیقیې څخه کمیابه جواهرات راوړي، دلته یې وپلوري او ګټه یې سره نیمه کړو. مګر د یادې سیمې بې ایمانه کاسبانو د بې ارزښته شیښو ټوټې پر تېرې کړې وې او سرمایه مې اوبو یووړه. نن پوخ او باتجربه شوی یم او سر مې خلاصېږي چې د جواهراتو په معامله کې د یوه ښنتمال پر پوهه اعتبار څومره احمقانه کار دی.

زه د خپلې تجربې له مخې په ټینګار سره درته وایم چې یوازې پر خپل عقل او پوهه په تکیې سره د ناسمو پانګونو په لومو کې خانونه مه بندوئ، بلکې له پوهو او باتجربه خلکو سره سلا وکړئ. دغسې لارښوونې اکثره وړیا وي، خو کله ناکله یې ارزښت ستاسې له ټولې سرمایې سره برابرېدای شي، ځکه ښایي سرمایه مو له منځه تلو وژغوري.

دا وه د پیسو د تشې کڅوړې د ډکولو څلورمه لار چې که سمه عملي نشي ممکن یودم یې درتشه او ټول زیار و زحمت مو په اوبو لاهو کړي. د احتمالي خطرونو پر وړاندې مو خپله سرمایه وساتئ او دې موخې ته د رسېدو لپاره یوازې پر هغو شیانو پانګه ولګوئ چې اصلي سرمایه مو نه پکې زیانمنېږي، د اړتیا پر مهال یې بېرته راوکښلای شئ او تر څنګ یې یوه عادلانه ګټه هم ولرئ. له پوهو خلکو سره سلا وکړئ. په مالي چارو کې د واردو کسانو پر مشورو غوږ ونیسئ تر څو یې له پوهې څخه په ګټه اخیستنه خپله پانګه د ناسمو او بې باوره پانګونو پر وړاندې خوندې کړای شئ.

Scanned by CamScanner

# پنځمه لار

## پر استوګنځي پانګونه

پنځمه ورځ آرکاد خپلې خبرې داسې راونښلولې:
هر څوک کولای شي د خپل عاید له لسو څخه په نهو برخو ښه ژوند وکړي او له زندګۍ خوند واخلي. اوس که څوک وتوانېږي خپلو ورځنيو چارو ته له زيان اړولو پرته له هغو پاته نهو برخو څخه يو څه يې پر يوه ګټور کاروبار ولګوي، نو اقتصاد به يې ډېر چټک وغوړېږي.

اکثره بابليان په کنډوالو کې اوسي او يوه ناوړه چاپېريال کې خپل اولادونه رالويوي. دغه راز د کور څښتن ته د کرايې په نوم يو عالم پيسې هم ورکوي، په داسې حال کې چې نه د کور مېرمن د ګلانو او نورو بوټو د کرلو ځمکه لري او نه هم ماشومان د لوبو لپاره ځای، نو له ناچاريه په چټلو کوڅو کې بازۍ کوي.

يوه کورنۍ هله پر ژوند پوره خوند اخيستلای شي چې يوه ټوټه پاکه ځمکه ولري تر څو هم ماشومان لوبې پر وکړای شي او هم مېرمن د ګلانو او نورو شيګنياوو د کرلو ځای ولري.

په دې د نارينه اروا خوشحالېږي چې د خپل کور له ونې انځر يا له تاک څخه انګور راوشکوي او ويې خوري، کور يې خپل وي او په ساتنه يې

Scanned by CamScanner

وویاړي، زړه یې ډاډه شي او د ژوند د لا ښه کولو نورې هڅې هم وکړي. هر چا ته مې دا لارښوونه ده چې ځان ته د یوه ټاټوبي پیدا کولو غم وخوري.

د شخصي ټاټوبي اخیستل د هیڅ هوډمن انسان له وسه وتلی کار نه دی.

زموږ ستر پاچا په خورا هوښیارۍ د ښار دېوالونه ډېر ځکولي او پراخه ځمکه یې په راګډه کړې ده. همدا اوس-اوس ډېرې داسې ځمکې شته چې سملاسي په مناسبه بیه خرڅېږي.

دا هم باید ووایم چې د ښار صرافان د هغو کسانو اړتیاوې له پامه نه غورځوي چې د خپل ټاټوبي رانیولو هڅه کوي. یانې د ښتمال، بنا او نورو لګښتونو لپاره له هغوی څخه پور واخلئ، البته په دې شرط چې که د ساختماني چارو یوه ټاکلې اندازه لګښت خپله پوره کولای شئ.

تر کور جوړولو وروسته د صرافانو پور ورو-ورو او په کښتونو[1] ور ادا کړئ. کتمټ هماغسې لکه د خپل مخکني کور ښتن ته چې مو کرایه ورکوله. صراف ته د هرې میاشتې په کښت ورکولو سره به د پور یوه برخه کمه شي او څو کاله وروسته به مو ټوله غاړه ووزي.

هغه مهال به مو زړونه له خوښیو ډک شوي وي، ځکه د یوه داسې کور ښتنان به یاست چې بل هېڅوک په درګه نه دی. تر هغه وروسته به پاچا ته له یوې وړې مالیې پرته بل هېڅ اضافه لګښت ونه لرئ.

پر دې سربېره به مو ښایستې مېرمنې د سیند پر غاړه تر جامو مینځلو وروسته د ګلونو او سبزیو د خړوبولو لپاره یوه بوشکه اوبه هم له ځان سره راوړي.

په دې ډول به نو د کور ښتن ته د نعمتونو مخه او لګښتونه به یې لا را کم شي. یانې له ژونده د خوند اخیستلو او خپلو نورو هیلو پوره کولو لپاره به لا زیاتې پیسې درسره وي. تاسې ته مې پنځمه لار او وړاندیز دا دی چې: خپل شخصي کور ولرئ!

---

[1] برخو-برخو، قسطونو.

# شپږمه لار

## د راتلونکي غم مو وخورئ!

شپږمه ورځ آرکاد خپلو زدکوونکو ته داسې وویل:
د هر انسان ژوند له ماشومتوبه پیل او تر بوډاتوبه دوام کوي. همدا د ژوند لار ده او هېڅوک نشي ځنې اوښتلای، مګر دا چې ځښتن یې تر وخت وړاندې هغې بلې نړۍ ته وروغواړي. له همدې امله مې تولو ته دا لارښوونه ده چې د خپل بوډاتوب غم وخوري او یو څه پیسې ورته پټې کړي. له هر چا سره باید د خپل زړښت فکر وي او د خوندیتوب یوه چاره یې وسنجوي. همدارنګه باید خپله کورنۍ هم له پامه ونه غورځوي، ځکه نه تر ابده دی ورسره ملګری دی او نه یې د هوسا کولو لپاره کار کولای شي.

Scanned by CamScanner

لنډه دا چې اخیر به خامخا داسې وخت هم راځي چې نور به د پخوا په شان د ګټې-وټې توان نه لرئ، نو هغه مهال مو باید ګڅوره له پیسو ډکه وي.

څوک چې د خپلې تجربې او شتمنۍ د اصولو له لارې د شتمنېدو هڅه کوي، باید ډېر لیرې وګوري او د یوه داسې اوږدمهاله او دوامدار پلان له مخې پانګونه وکړي چې د زړښت په شپو ورځو کې یې هم په ښه ورشي.

د راتلونکي د خوندیتوب بېلابېلې لارې-چارې شته. د بېلګې په توګه یو څوک ښایي کوم خوندي ځای سیکې ښخې کړي. دا خزانه که هر څومره هم په مهارت پټه کړای شي بیا یې هم د غلا کېدو شونتیا شته. څکه یې نو سمه او معقوله حللار نه ګنم.

یو بل څوک بیا ممکن یوه ټوټه ځمکه یا کور رانیسي. که دا کار په خیرتیا، سوچ او پام سره وشي، ارزښت یې تلپاته دی او ځنې ترلاسه کېدونکی عاید یا هم د خرڅلاو بیه به یې په لیرې راتلونکي کې خامخا لویه توښه شي.

دغه راز یو بل څوک شاید د ګټې لپاره یوه صراف ته یو څه پیسې کښېږدي او ورو-ورو یې لا پسې زیاتې کړي. پر دې سربېره به د دغو پیسو ګټه هم بېرته پر هغو ورواچول شي او دا به یې نورې پسې ډېرې کړي. د آنسان Ansan په نوم یوه بوټ جوړوونکي یو وخت راته وویل چې اته کاله یې هره اوونۍ دوې د سپینو زرو سیکې یوه صراف ته ورکولې او چې کله هغه د راغونډې شوې شتمنۍ له کچې خبر کړ، نو له ډېرې خوښۍ یې خوله وازه پاته شوه. څکه اصلي او فرعي مبلغ له سود سره یوځای-چې په هرو څلورو کلونو کې د سرمایې له یوې څلورمې برخې سره مساوي دی-د سپینو زرو ۱۱۰۰ سیکو ته رسېدلی وو.

نوموړی مې د دې کار دوام ته وهڅاوه. په خپله مړژوانده ریاضیکي پوهه مې حساب ورته وکړ او ورته ومې ویل چې که دوولس کاله نور هم همدا تګلار روانه وساتي، حساب به یې څلورو زرو سیکو ته ورسېږي چې د بوډاتوب د ټول دوران لپاره یې بس دي.

Scanned by CamScanner

دا چې دومره وړه سېما داسې ګټوره پایله لري، نو طبعاً باید هېڅوک د خپلې لیرې راتلونکې له بیمه کولو بې پروا نشي او که څه هم سوداګري یې ډېره ښه روانه وي بیا هم باید دا کار وکړي.

زړه مې غواړي په دې اړه ښېښې ډېر درسره ورغېږم. زما په اند یو وخت به هوښیار خلك د مرګ پر وړاندې د انسان د بیمه کولو طرحې هم جوړې کړي. داسې چې انسانان به د خپل ژوند په اوږدو کې ډېرې لږې پیسې بیمو ته ورکوي او بلې نړۍ تر تګ وروسته به یې کورنیو ته کافي شته پاتېږي. دغه طرحه فکر کوم ډېره کارنده کړنه ده؛ د پلې کولو سپارښتنه یې کوم، خو نن سبا یې امکانات برابر نه دي، ځکه یاده طرحه باید د کس تر مړینې او شراکت ختمېدو وروسته اجرا شي او بنسټ یې هم باید زموږ د پاچا د سلطنت غوندې کلك وي. زړه مې راته وايي چې یوه ورځ به همداسې کېږي او زښت ډېر وګړي به ځنې برخمن شي، ځکه ان ډېرې کمې پیسې په لویو-لویو پانګو بدلېږي او د مړي کورنۍ تامینولای شي.

مګر دا چې موږ په راتلونکي کې نه، بلکې اوسمهال کې اوسو، نو باید خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له اوسنیو اسانتیاوو څخه تر وسه-وسه ګټه واخلو.

ټولو نارینه وو ته مې دا مشوره ده چې عقل وکاروي او د داسې یوې لارې په لټه شي چې په بوډاتوب کې یې د شتو کځوړه تشه نه وي. د یوه له پښو لوېدلي کس یا یوې بې سرپرستې کورنۍ لپاره تشه کځوړه خورا ترخې او غمجنوونکې پایلې لري.

شپږمه لار دا ده چې خپل بوډاتوب او لیرې راتلونکي ته پام وکړئ او مخکې له مخکې یې غم وخورئ!

Scanned by CamScanner

# اوومه لار

## د ګټلو وړتیا مو لا زیاته کړئ!

اوومه ورځ آرکاد د خپل ټولګي ګډونوالو ته داسې وویل:
نن به تاسې ګرانو زدکوونکو ته د اقتصادي ستونزو د حل یوه خورا ښه لار دروښیم. خو د خبرو مرکزي ټکی مې سره زر او پیسې نه، بلکې خپله تاسې یاست؛ هو، همدا تاسې چې په بېلابېلو جامو کې پټ مخامخ راته ناست یاست.
نن غواړم هغه شیان درته په ګوته کړم چې ستاسې په ذهن و ژوند کې شته؛ یا مو بریالي کوي او یا مو د بریا خنډ ګرځي.
څه وخت وړاندې یو ځوان د پور اخیستلو لپاره راته راغی. کله چې مې د پور لامل ترې وپوښت ویې ویل چې عاید یې کم دی او لګښتونه یې نشي ورپوره کولای. ما ورته وویل چې داسې ده نو بیا یو ښه مشتري نه یې، ځکه اضافه عاید نه لرې او پور نشې پرې کولای.
بیا مې ورته وویل:
ځوانه ته په اصل کې عاید لوړولو ته اړتیا لرې، نه بل څه ته. ایا تر اوسه دې د دې لپاره څه کړي دي؟
ځواب یې راکړ:

خپل وس و توان مې لګولی دی. په تېرو دوو میاشتو کې تر شپږ ځله زیات خپل ارباب ته ورغلی یم او د معاش لوړولو غوښتنه مې څنې کړې ده. مګر هېڅ ځای یې نه دی نیولی. تر دې اضافه ټینګار خو نو سړی نشي کولای.

تاسې ممکن د دغه ځوان پر سادګی وخاندئ، مګر هغه د عاید د یوې ډېرې ارزښتناکې سرچینې څښتن وو. په دې مانا چې په دننه کې یې د عاید ډېرولو یوه لېونی لېوالتیا پرته وه. دا یو ښه او ستایلووړ شوق بلل کېږي.

موږ باید د پرمختګ غوښتونکي واوسو او غوښتنه مو هم باید ځواکمنه او ټاکلې وي. هسې خو ټول ګنې هیلې لرو، مګر عمومي هیلې کمزورې غوښتنې دي. د شتمنېدو خوب لیدل یوه ډېره وړه موخه ده، خو که یو ځوک بیا د پنځو طلایي سیکو لاسته راوړل غواړي، غوښتنه یې ټاکلې او لمسبدونکې ده چې هغه د خپل هدف پر لور مخ پر وړاندې ځغلوي. که همدغه کس خپل دغه ارمان په یوه زوروره موخه بدل او بیا یې پسې عملي کړي، نو د همدغې تګلارې په مټ کولای شي لومړی لس، بیا شل او اخیر زر سیکې تر ګوتو کړي او یو وخت به یې پام شي چې شتمن شوی دی. یانې لومړی د خپلو وړو غوښتنو د ترلاسه کولو تلاښ کوي، له همدې لارې یې چل زده کوي او وروسته ورو-ورو سترو هیلو ته رسېږي. د شتمنېدو لار هم همدا ده؛ په پیل کې باید په لږ ګټه قانع شو، بیا چې مو کافي مهارت ترلاسه کړ زیاته ګټه ولټوو او همداسې خپله وړتیا ورځ تر بلې پسې لوړه کړو.

غوښتنه مو باید تر وسه-وسه ساده، څرګنده او ټاکلې وي. که مو هیلې ګنې، پېچلې او د توان تر دایرې وتلې وي، اصلي موخه راڅخه ورکېږي.

انسان چې څومره په خپل کار کې برلاسی ته ورلنډېږي، هغومره یې د ګټې لوړولو توان هم ورسره ډېرېږي. ډېر کلونه پخوا کله چې زه یو عادي کاتب وم او د یو څو میسې سیکو په بدل کې مې پر ختینو لوحو کیندنکاري کوله، ومې لیدل چې د ځینو کاریګرانو مزدوري ډېره وه، څکه تر ما یې زیات کار کاوه. له همدې امله مې له هغوی سره سیالي پیل کړه او غوښتل مې ټول لاندې کړم.

د هغو ی د بریا په راز تر پوهېدلو وروسته مې له کار سره لېوالتیا نوره هم وغوړېده او حواس مې تر پخوا لا زیات پر خپل کار راټول شول. اخیر دومره تکړه شوم چې ډېر کم به یو څوک راپسې رسېدلای او د ورځې یې تر ما ډېرې لوحې حکاکي کولای شوې. د مهارت له لوړېدو سره سم مې مزدوري هم ډېره شوه او دې ته له سره اړتیا پاته نشوه چې شپږ واره ارباب ته وروځغلم او خپل کار یې په سترګو ورننباسم.

هر څومره چې مو کارپوهنه زیاتېږي، هغومره مو عاید هم ورسره لوړېږي. څوک چې د خپل کسب په اړه د مالوماتو کچه لوړوي، باید کافي بدله هم ورکړل شي. د بېلګې په توګه یو هنرمند کولای شي د هغو تګلارو او وسایلو په اړه مالومات ترلاسه کړي چې تر ده غوره هنرمندان یې کاروي. یو حقوقپوه یا ډاکټر کولای شي له خپلو همکارانو سره سلامشوره او فکري راکړه ورکړه وکړي. یو سوداګر کولای شي تل د لا ښو او ارزانو وسایلو د رانیولو لټون وکړي.

د انسانانو ژوندچارې تل بدلېدونکې او ورځ تر بلې مخ پر سمبدو دي، څکه خوشبین او تېزنظره خلک کوښښ کوي خپل مهارتونه لوړ او خپلو مشتریانو یا امرانو ته لا غوره خدمتونه وکړي. تاسې ټولو ته زما سپارښتنه دا ده چې په خپل کسب او څانګه کې مخکښ واوسئ، لټې مه کوئ او پر ځای مه دریږئ کنه له نورو به شا ته پاته شئ.

ګڼ داسې شیان شته چې د انسان ژوند له ګټورو تجربو ورډکوي. که څوک رښتیا ځان ته په درنه سترګه ګوري، باید لاندې کارونه وکړي:

- په ټول خدای ورکړي توان له پورونو اوړې سپکې کړي او تر خپل توان لوړ شیان ونه پېري.
- د خپلې کورنۍ ساتنه، پالنه او ملاتړ وکړي تر څو هغوی هم بیا پر خپل وار له ده سره نېک چلند وکړي او په ښه سترګه ورته وګوري.
- یوه وصیتنامه ولیکي چې که احیاناً څښتن ځان ته وروغوښت، نو شتمنۍ یې په سمه او عزتمنه توګه ووېشل شي.

- پر کمزورو او بېوسو زړه وسوځي، تر وسه-وسه يې لاسنيوى وکړي او له خپلوانو سره ښې و پر ځراکت ولاړې اړيکې وپالي.

اوومه او وروستۍ لار دا ده:

مطالعه وکړئ، وړتياوې مو لوړې کړئ، مهارتونه مو ډېر کړئ، پوهه مو پراخه کړئ او خپل شخصيت ته په درنه سترگه وگورئ.

د پورتنيو ټکو پر ځاى کول مو د دې جوگه کوي چې پر ځان باور وکړئ او خپلو په غور سره ټاکل شويو هيلو ته ورسېږئ.

دا وې د اقتصادي ستونزو د له منځه وړلو هغه اووه لارې چې زما د ژوند له اوږدو او برياليو تجربو يې سرچينه اخيستې او هر چا ته يې د ورخپلولو او عملي کولو سپارښتنه کوم.

گرانو زدکوونکو! په بابل ښار کې ستاسې تر تصور ډېر سره زر شته. دومره ډېر چې هر څوک خورا خوښ او هوسا ژوند په کولاى شي.

ورشئ هغه تگلارې چې هم ستاسې د ښکمرغۍ او شتمنېدو لامل گرځي او هم مو حق دى، عملي کړئ.

وروسته يې د پاچا ټول ولس ته وروښياست چې هغوى هم د دې ښکلي ښار له بېساري ثروته برخمن شي.

Scanned by CamScanner

## د نېکمرغۍ له پرښتې سره ملاقات

د بختور سړي د نېکمرغۍ او شتمنۍ اندازه نشي ټاکل کېدای. فرات سیند ته يې وغورځوه لامبو به يې هم نه وي زده، مګر هم به ژوندی څنې راووزي او هم به يې په لاس کې يوه مرغلره وي.

بابلی متل

د نړۍ هر اوسېدونکی نېکمرغه کېدل غواړي. دا غوښتنه د څلور زره کاله پخواني بابل د اوسېدونکو په زړونو کې هم په همدومره زور و جوش په څپو وه لکه د نننيو انسانانو دا. ټول غواړو د بخت خراباتي پرښته رابانديې مهربانه شي. نو ایا داسې کومه وسیله هم شته چې په مټ يې نه یوازې د هغې پام ځان ته راواړوو، بلکې له خراباته يې هم برخمن شو؟

Scanned by CamScanner

دا هغه پوښتنه وه چې د لرغوني بابل اوسېدونکو يې د خوب په موندلو پسې پايځې راپورته کړې وې. هغوی ځيرک او هوښيار خلک ول، همدا وجه وه چې سيمه يې د خپل وخت تر ټولو شتمن ښار شو.

هغه مهال بابل کې نه کوم ښوونځی وو او نه کوم پوهنتون. له دې سره يې هم د زدکړو يو مرکز درلود چې ډېرې عملي لارې-چارې به پکې درس کېدې. د دغه ښار د دنګو او پرتمينو ماڼيو په منځ کې يوه بله داسې ودانۍ هم ولاړه وه چې د مقام او ارزښت له پلوه يې د پاچا له قصر، ځوړندو بڼونو او سپېڅلو معبدونو سره سيالي کوله. د دغې ودانۍ يادونه د تاريخ په کتابونو کې ډېره کمه او يا هم ښايي هېڅ نه وي راغلې، خو بيا يې هم د هغه وخت د خلکو پر فکرونو پراخ اغېز درلود.

دغه ودانۍ د پوهې معبد نومېده چې د داوطلبو ښوونکو له خوا د مخکښو انسانانو پوهه پکې تدريسېده او عوامو ته په زړه پورې موضوعات په ازادانه توګه پکې بحث کېدل. د هغې د دېوالونو تر شا ټول يوشان ول. ان ټيټ پوړو مريانو هم کولای شول بحثونه او مناقشې وکړي او د يوه شازاده په کچه خونديتوب ولري.

دغه ځای ته د ورتلونکو ګڼو کسانو په ډله کې د آرکاد په نوم يو پوه او شتمن سړی هم وو چې د بابل تر ټولو لوی خان بلل کېد. ده يو ځانته تالار درلود. هلته به نږدې هره شپه زاړه، ځوانان، نوي ځوانان او پاخه خلک راټولېدل او پر جالبو مسايلو به يې خبرې کولې. اوس د هغوی يوې ناستې ته سر ورايسته کوو او ګورو چې د بخت د راکښلو چل ورځې کنه!

لمر لکه د سره اور يو لوی توپ مخ پر لوېدو وو او وروستۍ وړانګې يې د بيابان د دوړو له شا پر ښار ځلېدې. آرکاد دا مهال روان وو او د خپل ښوونيز ټولګي پر خوا يې ګامونه اوچتول. هلته وخته لا اتيا تنه د تالار په نس کې پر هوارو وړو غاليچو ناست او د نومورې د راتلو شېبې يې شمېرلې. ځينې نور بيا پر لار ول.

آرکاد وپوښتل:

د نن شپې د بحث موضوع مو څه ده؟

یو سړی چې اوږدې جامې یې په تن وې، تر لنډې دوه زړی وروسته له دود سره سم پاڅېد او ویې ویل:

زما په ذهن کې یوه موضوع راګرځېده او غوښتل مې دلته بحث پر وشي، خو د وړاندې کولو په اړه یې لږ دوه زړی یم، هسې نه ناستو ملګرو ته ملنډه ښکاره شي.

د آرکاد او نورو تر ټینګار وروسته سړي خپلې خبرې داسې وغځولې:

زه نن ځان ډېر نېکمرغ احساسوم، ځکه د سرو زرو له سیکو یوه ډکه کڅوړه مې موندلې ده. تر ټولو غټ ارمان مې دا دی چې تل همداسې بختور واوسم. په دې هم پوهېږم چې ټول خلک همدا هیله لري. نو که مو خوښه وي نن به پر دې بحث وکړو چې څنګه د بخت مخ ځان ته رااړولای شو او د نېکمرغۍ د پرښتې راخپلولو لارې چارې کومې دي.

آرکاد وویل:

دېره په زړه پورې موضوع ده او خورا ښه بحث پر کېدای شي. د ځینو په اند بخت یوه تقدیري چاره ده چې ناڅاپه او له کوم لامل و موخې پرته مو برخلیک ته راځي. ځینې نور بیا په دې نظر دي چې ټولې نېکمرغۍ د بخښونکې ښښتن ایشتار له لوري دي او هغه یې له خپلې خوښې سره سم پر خلکو لوروي.

ملګرو! اوس نو دا راته ووایاست چې که د بخت د نیولو کومه لار وي، ټول یې باید ونه لټوو؟

د ټولګي لېوالو اورېدونکو ځواب ورکړ:

هو، هو، خود، خود!

وروسته آرکاد وویل:

د بحث په پیل کې به لومړی هغه کسان واورو چې د دغه اوېدونکي ورور غوندې یې له تلاښ و هڅې پرته نېکمرغي موندلې او د طلا یا ګېڼو خزانه یې ګوتو ته ورغلې وي.

Scanned by CamScanner

چوپتیا خپره شوه. ټول په تمه ول چې اوس به یو څوک خوله پرانیزي، خو هېچا هېڅ ونه ویل.

آرکاد وویل:

عجیبه ده! دلته هېڅ داسې څوک نشته؟ له دې څخه ښکاري چې دغه ډول نېکمرغي ډېره نادره ده. اوس نو پوښتنه دا ده چې په اړه یې څنګه څېړنه وکړو. کوم څوک یو نظر لري؟

یو ځوان چې ښکلې جامې یې اغوستې وې، پاڅېد او ویې ویل:

زه یې لرم. ایا د بخت د نامه له اورېدلو سره جوخت سړي ته جوارګري نه وریادېږي؟ ایا جوارګر تر بل هر چا زیات د بخت پرښتې ته په تمه نه وي چې ډېرې پیسې وګټي؟

د هغه له کښېناستو سره سم، یو بل ږغ پورته شو، ویې ویل:

مه چوپېږه، خبرې دې وغځوه. ایا تا بخت د قمار پر مېز موندلی دی؟ ایا د ګاټو[1] غورځولو پر مهال د نېکمرغۍ پرښتې مرسته درسره وکړه، د هغو سره اړخونه یې ور لوړ کړل او ستا کځوړه له پیسو ډکه شوه؟ او که یې شنې خواوې ورپورته کړې او ستا سیال ټولې په زحمت ګټلي روپۍ خپلې کځوړې ته درڅخه واچولې؟

زدکوونکو پر دې ټوکه وخندل. د ځوان خوله هم سره ببرته شوه. په ځواب کې یې ورته وویل:

زړه ته مې نه لوېږي چې هغه دې ان هلته زما په شتوالي لا خبره وه. تاسې څنګه؟ ایا هغه مو هلته لیدلې او ګاټې یې ستاسې پر ګټه څرخولي دي؟ موږ په دې اړه د یو څه اورېدلو او زده کولو لېوني تلوسه لرو.

آرکاد وویل:

ښه پیل وو. موږ تاسې دلته د دې لپاره راغونډ شوي یو چې پر دې مسله له هره اړخه وړغېږو. که د جوارګرۍ د مېزونو ذکر نه وای شوی یو ډېر مهم ټکی مو له

---

[1] ګاټې-ټاس یا Dice

پامه غورځېد او هغه غريزي غوښتنه ده چې په اکثرو انسانانو کې شته او غواړي په کمو پيسو ډېر سره زر وګټي.

يوه بل نفر وويل:

دغې موضوع ما ته د اس څغلونې پرونی سيالي رایاده کړه. که د بخت پرښته همېشه د قمار پر مېزونو حاضري ورکوي، نو له شک پرته به له دغو سياليو هم ځان ونه سپموي، ځکه هلته د طلايي ګاډيو او څګنو اسونو ننداره ډېره هيجان پاروونکې ده.

ارکاده! رښتيا راته ووايه ايا د بخت پرښتې تا ته په غوږ کې يو څه ويلي ول چې پرون دې پر هغو خړو اسونو چې له نينوا يې راوستلي ول، شرط وتاړه؟ زه دې شا ته ولاړ وم او هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې ته دې پر هغوی لاس کښېږدې. ته او موږ ټول ښه پوهېږو چې که عادلانه مسابقه وشي په ټوله اسيا کې به زموږ ښکلي مشکي اسونه څوک لاندې نکړای شي.

ايا دا د نېکمرغی پرښتې درته ويلي ول چې د سيالی په پای کې به يو تور سکندري اس نوک وهي، زموږ په لوېدله به وارخطايي ګډېږي او خړ اسونه به بريالي کېږي؟

آرکاد موسکی شو، په خپل لوېښت يې د هغه لغاز نااورېدلی ونيو او ويې ويل:

په کوم دليل ويلای شو چې د بخت پرښته د اس څغلونې پر سر د انسانانو له شرط بنديو سره لېوالتيا لري؟ زما په اند هغه د مينې او لويوالي رب النوع ده چې د اړو خلکو پر لاسنيوي او مناسبو کسانو ته له بدلې ورکولو خوند اخلي. زه يې هم د موندلو هيله لرم، خو نه د جوارګری پر مېزونو يا د اس څغلونې په سياليو کې. دغو ځايونو کې خلک تر ګټې زيات تاوان ويني. زه يې هلته لټوم چې د انساني هڅو درنښت کېږي.

په کرهنه، روا تجارت او نورو ټولو کسبونو کې د انسان لپاره د دې فرصت شته چې د خپلو هڅو او سوداوو په مټ ګټه وکړي. کله ناکله ښايي سمه بدله ترلاسه نکړای شي. د دې لامل يا ناسمې پرېکړې وي او يا هم توپان او نور

موسمي عاملونه، خو که سړي کارنده وي، اکثره بريالی راوزي. دا په دې چې په دغو چارو کې بخت تل د سړي ملګرتيا کوي.

خو که بيا سړی جوارګری ته پناه يوسي، کيسه سرچپه کيږي، ځکه هلته د وړلو احتمال همېشه د جوارګر پر زيان او قمارخانې د څښتن پر ګټه وي. هغه د خپل کار له غوښتنې سره سم مجبور دی داسې يوه طرحه جوړه کړي چې د بازيګرانو له خوا د شرط تړنې له سيکو څخه يوه ټاکلې اندازه ګټه خپل جېب ته کش کړي. د اکثرو بازيګرانو دې ته هډو پام نه دی چې د قمارخانې د خاوند ګټه پوره ډاډمنه او د دوی هغې يومخ شکمنه ده.

د بېلګې په توګه هغه خلک يادوو چې د چکې د ګاټې پر لغړولو شرط تړي. دغه ګاټې شپږ مخه لري او اصولاً يې په هر ځل غورځولو کې پر يوه طرف شرط تړل کېږي. که يې سره خوا راشي د لوبې څارونکی غورځوونکي کس ته د شرط بندۍ څلور برابره پيسې ورکوي، خو که په پاته پنځو خواوو کې هره يوه راشي، شرط تړونکی پيسې بايلي. د دې مانا دا ده چې د ګاټې په هر ځل غورځولو سره د بايللو چانس پنځه او ګټلو دا يو دی. همدا وجه ده چې د سره رنګ په راتلو سره څلور چنده پيسې ګټل کېږي. د لوبې مدير دا تمه لرلای شي چې د شپې په پای کې به د شرط د ټولو سيکو پنځمه برخه ګټه خامخا کور ته وړي، مګر ايا له ځينو نادرو مواردو پرته قمارباز هم دا هيله کولای شي؟

يوه زدکوونکي وويل:

له دې سره هم ځينو کسانو بې حده ډېرې پيسې ګټلې دي.

آرکاد ځواب ورکړ:

ببخښې سهي وايې: ځينې کسان! زما څخه خلکو دا پوښتنه هم کړې ده چې ايا په دغسې لارو ګټلې پيسې ګټونکو ته يو تلپاته ارزښت کېدای شي؟ د بابل ډېر بريالي خلک مې ملګري او شناخته دي په دوی کې يو داسې کس هم نه پېژنم چې د خپل بريالیتوب داستان يې په دغسې يوه وسيله راپيل کړی وي.

تاسې هم د دې ښار ډېر اوسېدونکي پېژنئ. که د يو څو داسې کامیابو ښاريانو نومونه راته واخلئ چې خپل بريالی ژوند د جوارګرۍ د مېزونو احسانمند بولي، نو ډېر به خوښ شم. راته ويلای شئ؟

تر اوږدې چوپتيا وروسته يو نفر پر خبرو راغی او ويې ويل:

ايا ستا پوښتنه دغه د قمارخانو د خاوندانو په اړه هم ده؟

آرکاد ځواب ورکړ:

که نه داسې کوم کس ياد ته درځي او نه يې په تاسې کې څوک پېژني، نو بيا ولې د خپلو ځانونو په اړه څه نه واياست؟ ايا دلته داسې څوک شته چې هر قمار يې وړی وي او نورو ته هم له دغې لارې د پيسو ګټلو لارښوونه وکړي؟

د ټولګي له پای څخه زوړ راپورته شو او ورو-ورو ټول تالار د خندا اوازونو پر سر واخيست. آرکاد د خپلو خبرو په دوام وويل:

داسې ښکاري چې نېکمرغي بايد د پرښتې د ناستې ولاړې په دغو مشهورو ځايونو کې ونه لټوو. نو راځئ يو بل ځای پسې وګرځو.

بخت مو په ورکو شويو کڅوړو کې ونه موند. د جوارګرۍ پر مېزونو يې هم څرک ونه لګېد. د اس ځغلونې په سياليو کې خو يې دا حال دی چې ما خپله تر ګټلو څو برابره زياتې پکې بايللي دي.

اوس به سوداګريزو معاملو ته سر ورايسته کړو. ايا يو ګټور تجارت نېکمرغي ده که زموږ د هڅو پايله؟ زما خپل عقل دا راته وايي چې نېکمرغي بايد اړخ ته کړو. يا به ښايي د بخت پرښته رښتيا مرسته راسره کوي، خو موږ به يې په قدر نه پوهېږو. ايا کوم څوک په دې اړه نظر لري؟

يو عمرخوړلی سوداګر پاڅېد، خپل سپين او ښکلي کالي يې سره سم کړل او يې وويل:

ښاغلې آرکاده او نورو ټولو دوستانو ستاسې په اجازه زه يو نظر لرم. تاسې وويل چې په سوداګريزو برياوو کې بايد خپل توان او هڅې مهمې وګڼو، خو کله ناکله داسې هم پېښېږي چې د برياليتوب پر پوله ماته خورو.

Scanned by CamScanner

یوه نادره پیښنه یا کیسه وي که هغه وشي نو هم ناپایه گټه کوو او هم مو بېساري نېکمرغي په برخه کېږي، مگر هغه نه کېږي. په دې صورت کې به نو څنگه خپلې هڅې ارزښتناکې وبللای شو. له شک پرته دلته ډېر شته کسان له دغسې حالتونو سره مخامخ شوي دي.

آرکاد وویل:

ډېره معقوله پایله! ایا په تاسې کې داسې څوک شته چې نېکمرغي یې تر یو قدمی پورې راغلې او بېرته څنې ستنه شوې وي؟

گڼ لاسونه پورته شول چې د هماغه سوداگر لاس هم پکې داخل وو. آرکاد هغه ته وویل:

دا چې دا موضوع تا یاده کړه، نو غواړم اول ستا کیسه واورم.

هغه بیا پر خبرو راغی او ویې ویل:

اوس به د داسې یو چا کیسه درته وکړم چې بخت ورنژدې کېږي، بېرته څنې تښتي، تاواني کوي یې او پر ژوره پښېمانی یې اړوي.

کلونه پخوا، چې لا ځوان وم، تازه مې واده کړی او ژوند مې پر غوړېدو وو، یوه ورځ مې پلار راته راغی او تر ډېر ټینگار وروسته یې په یوه پانگونه کې شریکېدلو ته وروبللم. د ده د ملگري زوی یې له ښاره لږ دباندې یوه توته شنډه ځمکه لیدلې وه. دا چې دغه ځمکه تر ویالو یو څه لوړه پرته وه، نو خړوبول یې هم شوني نه ول.

د هغه پلان دا وو چې په لومړي قدم کې یې په ټیټه بیه رانیسي، درې ځاگانې پکې وکیندي، له هغو څخه په غوایانو اوبه راوباسي او پر دغه ځمکه یې ورسپرې کړي. په دویم پړاو کې یې پر توتو ووېشي او د کرنې لپاره یې پر ښاریانو وپلوري.

دغه ځوان د دې کار د عملي کولو لپاره کافي پیسې نه لرلې او زما غوندې یوه منځنی کورنی کې زوکړی وو. پلار یې هم لکه زما پلار د یوې غټې کورنۍ تنگلاسی مشر وو. په همدې وجه یې د نورو پانگوالو د پام را اړولو هڅه کوله.

Scanned by CamScanner

غوښتل بې دوولس تنه د خپل عايد لسمه برخه د ځمکې د خرخلاو تر پايه سره شريکه کړي او وروسته د خپلې پانګې په تناسب ګټه واخلي.

پلار مې راته وويل:

زويه! ته د ځوانۍ په اوايلو کې يې. غواړم سر له اوسه . خپل ملکيت ښښتن شې او خلک په درنه سترګه درته وګوري. هيله ده زما له پوهې او تجربې څخه په کاراخيستنه له هغو تېروتنو ځان وساتې چې ما د بېباکۍ له امله کړي دي.

ورته ومې ويل:

پلاره! زه هم د بريا ډېر لېوال يم.

- نو نصيحت مې د زړه په غوږونو واوره او هغه څه وکړه چې ما بايد په خپله ځواني کې کړي واى؛ د خپلو پيسو لسمه برخه په دغه معامله کې بنده کړه. دا سودا دې زما سن ته تر رسېدو وړاندې د بنه ملکيت څښتنولاى شي.

ورته ومې ويل:

پلاره! ستا خبرې معقولې دي. له شتمنېدو سره ډېره مينه لرم، مګر لګښتونه مې بېخي ډېر دي او ستا د نصيحت په عملي کولو کې دوه زړى يم. بل دا چې زه لا ځوان يم او زيات وخت لرم.

راته وېې ويل:

زه چې هم ستا همزولى وم همداسې مې انګېرله، خو دا دى وينې چې د خداى تر ابده کلونه تېر شوي او زه لا هم د کار په پيل کې يم.

ورته ومې ويل:

پلاره، وخت بدل شوى دى. زه ستا تېروتنې نه تکراروم.

وېې ويل:

زويه! دا د شتمنېدو خورا بنه فرصت دى، ځنډ مه پکې کوه. سبا سهار زما د ملګري زوى ته ورشه او د خپل عايد لس سلنه دې ورسره شريکه کړه. خامخا ورشه. بخت د چا انتظار نه کوي. نن دلته دى، خو سبا بل ځاى ځي. نو تکنى کېږه مه!

د پلار له ټينګار سره-سره مې دا کار وځنډاوه. سوداګرو له ختيځه خورا ښکلې جامې راوړې وې او ما و ښايستې مېرمنې مې د يوې جوړې نويو جامو د رانيولو پرېکړه وکړه. په هغه پانګونه کې شريکېدنه په دې مانا وه چې له جامو او نورو ښو شيانو مې بايد مينځلای. پرېکړه مې دومره وځنډوله چې اخير راباندې ناوخته شو. دې کار سخت پښېمانه کړم، ځکه د هغه د معاملې ګټه د شريکانو تر وړاندوينې څو برابره زياته شوه. دا وو زما هغه داستان چې بخت مخامخ راڅخه وتښتېد.

يوه توروشمه صحرايي سړي وويل:

دغه داستان ښيي چې بخت څنګه له فرصتونو ګټه اخيستونکو کسانو ته د ورتلو انتظار باسي. د مال او شتمنۍ ترلاسه کول تل يو د پيل ټکی لري او ښايي د سپينو زرو له هغو څو سيکو يې سر راوښلي چې انسان يې له خپل عايده سپموي او سرمايه ګوزاري په کوي. زه خپله هم ډېر مالدار يم او د شتمنۍ خښتن مې هغه وخت کښېښودل شوه چې لا ماشوم وم او د سپينو زرو په يوه سيکه مې يو خوسکی رانيو. دا مې د ژوند لومړۍ پانګونه وه او ډېر لوی ارزښت يې راته درلود. بخت او نېکمرغي دا ده چې انسان يوه ورځ سوداګرۍ ته لاس وروا‌چوي او د يو شي څښتن شي. همدا لومړی ګام خورا مهم دی او د دې لامل ګرځېدای شي چې يو څوک نه يوازې پر خپل کار ګټه وکړي، بلکې پر هغه ګټه هم ګټه وکړي. هغوی چې دغه ګام په ځوانۍ کې اوچتوي، له اقتصادي پلوه تر هغو کسانو وړاندې کېږي چې يا ناوخته لاس وراچوي او يا هم زموږ د سوداګر ملګري په شان يې هېڅکله نه اخلي.

مالومداره که دغه سوداګر دا ګام د ځوانۍ په پيل کې، چې فرصت هم په لاس ورغلی وو، اخيستی وای نن به يې لا زيات شته لرلای او که زموږ اوبدونکی دوست، چې نن يې بخت دروازه ورټکولې، دا موقع وکاروي او دغه قدم پورته کړي، راتلونکی به يې لا روښان شي.

يوه بېګانه د ټولګي له يوه بل کونجه راپاڅ کړل او يې ويل:

مننه! زه هم غواړم یو څه ووایم. زه د شام اوسېدونکی یم او ستاسې په ژبه سم نشم ږغېدای. غواړم پر دغه سوداګر ملګري یو نوم کښېږدم. ښایي تاسې ته مودبانه ونه برېښي، خو بیا یې هم پر ږدم. له بده مرغه ور کلیمه یې نه ده راته مالومه او که د شام په ژبه یې ووایم تاسې نه په پوهېږئ، نو لطفاً یو څوک مرسته راسره وکړئ او راته ووایاست چې د ښو-ښو فرصتونو له لاسه ورکوونکي ته څه ویل کېږي؟

یوه نفر وویل:

لټ!

شامي سړي وویل:

هو! نوموړی همدا دی. کله چې د بخت پرښته دروازه ورټکوي، دی یې نه ورخلاصوي. صبر کوي. ورته وایي اوس مې کارونه ډېر دي ستا سره د خبرو وخت نه لرم. یاده پرښته دغسې لټانو ته نه کښېني. د هغې په اند که څوک غواړي نېکمرغه شي باید ژر تر ژره لاس په کار شي. د بخت پرښتې ته چټک غبرګون نه ښودل ستره لټي ده، کټمټ لکه زموږ دغه سوداګر ملګري چې کړې ده.

هغه سوداګر پاڅېد او د حاضرینو د خندا په ځواب کې یې د ټوکې په دود یو درنښت وکړ او ویې ویل:

سلام دې وي پر تا اې پردیه چې زموږ په ښار کې راته ناست یې او د رښتیا په ویلو کې هېڅ دریغ نه کوې.

آرکاد وویل:

له فرصتونو څخه د استفادې په اړه یوه بله کیسه اورېدل به لا ښه خوند وکړي. ایا کوم بل څوک هم ورته تجربه لري؟

یو د منځني عمر خاوند سړی چې سرې جامې یې اغوستې وې، ولاړ شو او ویې ویل:

هو! زه یې لرم. زه د حیوانانو سوداګري کوم او ډېر سروکار مې له اسونو او اوښانو سره دی. کله ناکله پسونه هم کښته پورته کوم. کومه کیسه چې اوس یې

درته کوم، ښيي چې څنګه يوه شپه نابېره نېکمرغی دروازه راوټکوله. ښايي د له لاسه وتلو علت يې هم همدا وي. قضاوت يې پر تاسو.

يوه شپه چې د اوښانو رانيولو له يوه لس ورځني سفره ستړی او مايوس راستون شوی وم، راباندې ناوخته شو او د ښار دروازې راڅخه کولپ شوې. ډېره غوسه راغله. مزدوران مې په کيږديو درولو اخته شول. د اوبو او خوړو دواړو له کمښت سره مخ وو. يو بوډا مالدار مې پام شو. هغه هم زموږ غوندې د تړلو دروازو تر شا پاته شوی وو.

کله چې يې خوا ته ورغلم، راته ويې ويل:

ښاغلې! ته له ښې سوداګر ښکارې. که همداسې ده نو غواړم د خپلو بهترينو پسونو رمه درباندې وپلورم. له بده مرغه مېرمن مې مرګي حاله ناروغه ده او زه بايد ژر تر ژره بېرته ورستون شم. که ته همدا اوس پسونه راڅخه رانيسې زه او مزدوران مې کولای شو چې اوښان بار کړو او سملاسي وخوځېږو.

هوا دومره تياره وه چې پسونه مې سم نه ليدل، مګر له چيغ و پيغه ډېر ښکارېدل. زه چې پوره لس ورځې هسې بېځايه راباندې تېرې شوي وې، په دې وړاندېز خوشحاله شوم. دا چې هغه اندېښمن او تلواري وو، نو ډېره مناسبه بيه يې راته وويله. ورسره ومې منله، څکه ډاډه وم چې مزدوران مې سبا ټول پسونه په ښار کې په ښه بيه پلورلای شي.

سودا مو سره وشوه. مزدورانو ته مې وويل چې مشال راوړي او مالونه وشمېري. د مالدار له خولې نهه سوه دانې ول. په دې مو سر نه درخوږوم چې د هغو وړو، تړو او ستړو پسونو شمېرل څومره سخت کار وو. ډېر ژر وپوهېدو چې شمېرنه ناشونې ده، نو مالدار ته مې وويل چې په رڼا کې يې حسابم او بيا پيسې درکوم.

هغه په زاريو راته وويل:

هيله کوم ښاغلې! ان تيار يم د ويل شوي بيې په دربيمه يې درکړم، خو په دې شرط چې پيسې همدا اوس راکړې تر څو زه ببله څنډه روان شم. خپل يو ډېر تکړه او هوښيار مزدور هم درپرېږدم چې بيا د شمېرلو په چارو کې مرسته

درسره وکړي. هغه د پوره باور وړ دی او پاته پیسې سبا سهار د پسونو تر شمېرلو وروسته وروسپارئ.

خو ما سرټمبګي وکړه او د شپې مې پیسې ورنکړې. په دا سبا موږ لا ویده وو چې دروازې خلاصې شوې او له ښاره د مالونو څلور پلورونکي راغلل. هغوی ان په لږ ګران قیمت لا سودا ته لېوال ول، ځکه ښار د دوښمن د محاصرې او خوړو د کمښت له خطر سره مخامخ وو. لنډه دا چې پسونه يې د هغه مالدار تر پرونۍ بيې درې برابره ګران رانيول. دا وه د راغلي او بېرته تښتېدلي بخت یوه بېلګه.

آرکاد وويل:

نادره کیسه وه. ستاسې په اند څه پایله ځنې اخیستل کېدای شي؟

یوه درانه ځین جوړوونکي وويل:

دا چې معقوله او مناسبه سودا باید ژر تر ژره سره ورسول شي! که مو د معاملې پایله پر ګټه وي خپلې کمزورۍ او د نورو کسانو لاسوهنه مو باید ځنې راونه ګرځوي. موږ له منځه تلونکي موجودات تل بدلېږو رابدلېږو. افسوس چې د خپل نظر د سموالي پر مهال اکثره د دوه زړي ښکار ګرځو او فرصتونه بایلو. زه خپله تل تر ټولو ښه پرېکړه په اول نظر کې کوم.[1] سره له دې هم هر وخت د داسې یوې معاملې سملاسې ترسره کول راته ګران وي چې تر پام مې ګټوره وایسي، ځکه نو پر خپله کمزوري د برلاسه کېدو لپاره ښه ځنډه بیانیه[2] او یا هم ټوله بیه پرې کوم. دا کار مې په راتلونکي کې له پښېمانۍ ساتي کنه نو داسې به انګېرم چې یو ښه چانس مې له لاسه ورکړی دی.

شامي سړی بیا پاڅېد او ويې ويل:

مننه! زه یوه بله خبره هم لرم. دا کیسې ډېرې سره ورته دي. فرصتونه تل په یوه نه یوه علت له لاسه وزي. د بخت پرښته هره پلا لټ ته یوه ډېره ښه طرحه راوړي. هغه هم تل دوه زړی وي او نه وایي چې همدا تر هر بل وخت ښه موقع ده او

---

[1] د لومړۍ سودا د مشکو بوی ځي. پښتو متل. ژباړن

[2] بیانیه-د موافقت په صورت کي د یوه شي د بيې یوه برخه ورکول.

Scanned by CamScanner

باید ژر تر ژره لاس په کار شم. خو پوښتنه دا ده چې په دغسې وختونو کې سړی څنګه یوه ښه پریکړه کولای شي؟
مالدار وویل:
حکیمانه وربغېدې ملګرې. په دواړو کیسو کې د لټ له لاسه بخت وتښتېد، خو دا یوه غیرعادي موضوع نه ده. موږ ټول لږ و ډېر لټان یو. له یوې خوا د شتمنېدو هیله لرو او له بل لوري چې کله فرصت په ګوتو راشي، له دننه څخه مو کهاله اروا خنډ او بې پروایي ته هڅوي، موږ یې هم ورسره منو او خبرو ته یې د غوږ اینبودلو له امله د ځان تر ټولو لوی غلیمان جوړېږو.
کله چې ځوان وم د «لټي» لغت مې، چې زموږ د شامي ملګري پر زړه لګېدلی دی، زده نه وو او فکر مې کاوه د یوې ګټورې سودا د له لاسه وتلو تر ټولو لوی لامل ناسم قضاوتونه دي. وروسته دې پایلې ته ورسېدم چې علت یې سرتمبګي ده او سر مې خلاص شو چې اصلي ستونزه د چټک او غوڅ اقدام کولو پر ځای د بې پروایي لمن نیول دي. د دغه ټکي تر موندلو راوروسته مې له دې خوی څخه کرکه وشوه او داسې مې ځان ترې بېغمه کړ لکه یو لېونی خر چې له ګاډي خلاص کړې او ویې شړې.
شامي سړی پر خبرو راغی او ویې ویل:
منه! غواړم له ښاغلي سوداګره یوه پوښتنه وکړم؛ ته ډېرې ښکلې جامې اغوندې، جذاب ښکارې او له سوالګرو سره هېڅ ورتوالی نه لرې. پر دې سربېره د بریالیو وګړو غوندې ږغېږې هم. کله چې دغه لټه اروا تا په وسوسه کې واچوي څه ورسره کوې؟
سوداګر وویل:
ما هم زموږ د دغه مالدار ملګري په شان د بېباکۍ دا خوی کشف کړی او پر غالب شوی یم. راته ژبات شوې چې دا عادت مې لوی دوښمن او مناسبې موقع ته تیار په کمین کې ناست دی چې کوښښونه مې له خاورو سره راخاورې کړي. تېر داستان ته ورته ډېرې نورې پېښې هم شته او ګنې داسې بېلګې یادولای شم چې د دغه بد عادت له امله مې ښه-ښه فرصتونه له لاسه وتلي دي.
Scanned by CamScanner

دې خوی ته تر متوجې کېدو وروسته بیا ځان ترې ژغورل او پر بریالي کېدل دومره سخت کار نه دی. هېڅوک نه غواړي خپل مال پخپله په غله یوسي. همدارنګه هېڅوک قصداً دوښمن ته دا اجازه نه ورکوي چې مشتریان یې سره وروپاشي او یا یې ګټه وربرباد کړي. زما چې سر خلاص شو دغسې کړنې مې په زیان دي، هوډمنه مبارزه مې ورسره پیل کړه او پر بریالی شوم. هر څوک چې غواړي د بابل له شتمنو زېرمو ونډه یوسي باید پر خپله لټه اروا حاکم شي.

اې آرکاده! په دې اړه څه وایې؟ ته د بابل لوی خان یې، ډېر خلك دې د دې ښار تر ټولو نېکمرغه کس بولي. ایا ته هم دا خبره راسره منې چې که څوك خپله لټه اروا مغلوبه نکړي، د بریا لوړو څوکو ته نشي رسېدای؟

آرکاد ومنله او ویې ویل:

همداسې ده لکه دا ته چې وایې. ما د خپل اوږده ژوند په بهیر کې نسلونه لیدلي چې د سوداګرۍ، علم او روزنې پر لار تللي دي. هغوی ټولو ته فرصتونه په لاس ورغلي. ځینو ګټه ترې اخیستې او د خپلو ژورو هیلو د رابرسېرولو په موخه یې ثابت ګامونه اخیستي دي، خو ځینې نور بیا د دوه زړی ښکار شوي او شا ته پاته شوي دي.

آرکاد اوبدونکي ته مخ کړ او ویې ویل:

د بخت او نېکمرغی په اړه بحث ستا وړاندیز وو، اوس دې خپل نظر راته ووایه.

هغه ځواب ورکړ:

زه اوس بخت ته په بېخې بېله او بهتره سترګه ګورم. مخکې مې خوشبختي یو ډېر په زړه پورې شی باله چې ځینې انسانان یې بېله کوم تلاښ او زحمته ترلاسه کوي. اوس مې پام شو؛ دا داسې یو حالت نه دی چې د ځان خوا ته راوکښل «جذب» شي. له دې بحثه مې زده کړل چې ځان ته د بخت مخ رااړول یانې له فرصت او چانسه ګټه اخیستل. په راتلونکي کې به هڅه وکړم که دغسې فرصتونه په لاس راغلل، په ټول توان به یې وکاروم.

آرکاد ځواب ورکړ:

په نننې بحث کې په ځېړل شويو مسايلو دې ډېر ښه سر خلاص شوی دی. بخت او نېکمرغي غالباً د فرصتونو تر شا پټ وي او ډېر کم په بله بڼه راښکاره کيږي. زمونږ سوداګر ملګري که د خير او برکت د رب النوع له خوا له ورته برابر شوي فرصته ګټه اخيستې وای لويه نېکمرغي يې په برخه کېده. همدارنګه که زمونږ مالدار دوست د رمې د رانيولو سودا کړې او هغه يې په ښه بيه خرڅه کړې وای، ډېر لوی چانس په لاس ورتلی.

دا بحث مو د دې لپاره وکړ چې د بخت د پرښتې راجلبولو يوه لار پيدا کړو. اوس داسې احساسوم لکه پيدا کړې چې مو وي. دواړو داستانونو راوښوده چې بخت او نېکمرغي په فرصتونو پسې ځي. په دغو دوو او نورو ډېرو ورته کيسو کې يو حقيقت پټ دی؛ هغه دا چې د بخت د پرښتې په لومه بندولو لپاره بايد فرصتونه ولټوو.

څوک چې د فرصتونو او ژوند د سمولو هيله من دی بايد عمل وکړي. عمل انسان مخ ته بيايي او د خپل زړه بريالیتوب ته يې رسوي.

Scanned by CamScanner

## د سرو زرو پنځه قوانين

- يوه له سرو زرو ډکه کڅوړه ده او بله ختېنه لوحه چې حکيمانه خبرې پر ليکلي دي. که تاسې ته د انتخاب حق درکړل شي کومه يوه اخلئ؟

پر دښتي بوټو د بل اور لړزانو لمبو ته د څو ناستو اورېدونکو په لمر سوځېدلي مخونه وځلېدل.

اووه ويشت واړو يوځای وويل:

سره زر، سره زر!

سپين ږيري کلاباب مکاره خندا وکړه، لاس يې پورته کړ او ويې ويل:
غوږ ونيسئ. له ليرې څخه د وحشي سپيانو راتلونکې غپا واورئ. هغوی په دې خاطر دا بد حال جوړ کړی چې وږي دي، خو که يې په نس ماړه کړې څه کوي؟ مغروره کېږي او يو پر بل را اچوي. د سبا له غمه هم بې پروا کېږي.

د ادم زامن هم همداسې دي. پوهه او سره زر ورته کښېږده کوم يو ټاکي؟ له پوهې مخ اړوي، سره زر اخلي او له خلاصه لاسه يې خرڅو. خو چې پر سبا شي بيا يې چيغې اسمان ته ختلې وي او وايې چې مفليسه دی.

سره زر په اصل کې د هغو کسانو دي چې د شتمنۍ د ترلاسه کولو قوانين پېژني او مراعتوي يې.

Scanned by CamScanner

دغه شېبه کلاباب د خپلې اوږدې چپنې سپینه لمن پر خپلو ډنګرو پښو راکش کړه، ځکه شپه سړه وه او یخ باد لګېد. خبرې یې پسې وغځولې:

دا چې په دې اوږده سفر کې مو په وفادارۍ زما خدمت کړی، د اوښانو ښه ساتنه مو کړې، له کوم شکایت پرته مو په ډېر زیار هغوی د دښتې پر سوځوونکو ربګو راتېر کړي او له هغو غلو سره په زړورتیا جنګېدلي یاست چې زما د سوداګریزو مالونو د لوټلو اراده یې لرله، نو نن شپه د سرو زرو پنځه قوانین درته بیانوم. دا داستان تر اوسه هېچا نه دی اورېدلی.

ډېر کلک غوږ راته ونیسئ او زما تر خوله راوتونکو تورو ته پام وکړئ، ځکه که یې په مانا وپوهېږئ او عمل پر وکړئ په راتلونکې کې به د ډېرو سرو زرو څښتنان شئ.

دلته چوپ شو. د بابل پر شنه اسمان ستورو رڼا خپروله او سترګکونه یې وهل. د ناستو کسانو تر شا د هغو خېمو سیوري لیدل کېدل چې پر دښته ولاړې او د صحرایي توپانونو پر وړاندې یې د ساتنې په موخه تنابونه کلک شوي ول. هغوی ته نژدې د اوښانو رمې په ربګو کې ګونډې وهلې وې، ځینو یې شخوند واهه او ځینو یې له خولو او پزو بېخونده ږغونه را ایستل.

د سوداګریزو مالونو ناظم وویل:

اې کلاباباه! تا تر اوسه ګڼې ګټورې کیسې راته کړي دي او هیله من یو چې په خپل هوښ او پوهه سمه لار راوښیې، ځکه سبا مو ستا د خدمت وروستی ورځ ده.

ـ ما تر دې دمه په لیرو وطنونو کې د راپېښو شویو عجیبو ماجراوو کیسې درته کړي دي. مګر نن شپه غواړم د آرکاد په نامه یوه پوه شتمن د هوښ او علم په اړه درته ووږغېږم.

ناظم وویل:

د هغه په باب مو ډېرې کیسې اورېدلي دي، ځکه نوموړی د بابل په تاریخ کې تر ټولو شتمن سړی بلل کېږي.

- هغه د بابل تر ټولو ستر خان وو او د پیسو او سرو زرو په اړه یې ډېرې ښکارې پوهه درلوده. نن شپه یې هغه کیسه درته کوم چې کلونه مخکې مې د ځوانۍ پر مهال په نینوا کې د نوموړي له زوی نوماسیر څخه اورېدلې ده.

زه او ارباب مې یوه شپه تر ډېر اوږده سفر وروسته د نوماسیر ماڼۍ ته ورسېدو. ارباب مې نوماسیر ته څو ډېرې قیمتي غالیچې راوړې وې. ما یې په لېږدولو کې مرسته ورسره وکړه. ټاکلې وه هغه یې رنګ او ډیزاین وګوري. خوښې یې شوې، موږ یې کېښناستلو ته وبللو او د انګورو داسې اوبه یې راته راوړې چې ځانګړې بوی یې درلود او معده یې سخته راتوده کړه، څکه ما د دغسې اوبو د څښلو عادت نه درلود.

وروسته یې د خپل پلار د پراخې پوهې یوه کیسه راته وکړه چې زه یې اوس تاسې ته کوم.

تاسې هم خبر یاست چې په بابل کې د شتمنو اولادونه له خپلو والدینو سره اوسي او دې ته په تمه وي چې له میراثه برخه یوسي. د آرکاد له دې دود سره وه جوړه. نو چې نوماسیر بلوغ وواهه راویې غوښت او ورته ویې ویل:

زویه! غواړم ته هم زما غوندې بریالی ژوند ولرې، خو باید لومړی د شتمنۍ د عاقلانه اداره کولو وړتیا وښیې. ستا څخه مې هیله دا ده چې ولاړ شې، په دنیا کې وګرځې او دا ثابت کړې چې زیات سره زر او د خلکو درنښت ترلاسه کولای شې کنه.

د پیل په توګه دوه داسې شیان درکوم چې ما خپله په ځوانۍ کې او د پیسو راټولولو د پیل پر مهال نه لرل.

لومړی د سرو زرو یوه کڅوړه درکوم. که یې په هوښیارۍ ولګوې، د راتلونکي د بریالیتوب بنسټ به دې وي.

دویم یوه داسې خټینه لوحه درکوم چې د سرو زرو د راغونډولو پنځه قوانین پر لیکلي دي او که ښه سم سر په خلاص او عمل په وکړې لا به دې ځیرک، تکړه او شتمن کړي.

Scanned by CamScanner

اوس نو څه په مخه دې گلونه او تر لسو کلونو پورې دي ونه وينم. وروسته بيا راشه او خپل کړي کارونه راته بيان کړه. که دې خپله وړتيا راته ثابته کړه د شتمنۍ وارث به دې کړم کنه روحانيونو ته يې ورسپارم چې له څښتنه مې د بخښنلو دوعا وغواړي.

نوماسير هم د سرو زرو کڅوړه او ختينه لوحه چې په يوه وربښمين ټوکر کې پېچلې وه، ورسره واخيستل او له يوه اس او يوه غلام سره وخوځېد.

لس کاله وروسته له ژمنې سره سم بېرته خپل پلرني کور ته راغی. په وياړ يې لويه مېلمستيا جوړه شوې وه چې ډېر خپلوان او ملگري يې ورته رابلل شوي ول. د مېلمستيا تر پای ته رسېدو وروسته يې مور او پلار پر دوو جلا-جلا تختونو چې د تالار دوو خواوو ته پراته ول، ډډه ووهله. نوماسير يې مخې ته ودرېد او د خپل اقتصادي وضعيت راپور پر وړاندې کولو يې پيل وکړ.

شپه وه. د خونې نيمه روښانه فضا په څراغونو کې د سوځېدونکو تېلو بوی او لوگي نيولې وه. سپين کاليو غلامانو د خرما له پاڼو اوبدل شوي ببوزي[1] پرله پسې ښورول چې د تالار ولاړه هوا يې سره سموله. کوټه پر اشرافي ذوق برابره سينگار شوې وه. د نوماسير مېرمنې او دوو وړو زامنو له خپلوانو او کورنۍ له نورو غړو سره د دوی تر شا پر بالښتونو تکيې وهلې وې او غوڼ-غوڼ ول.

نوماسير په ډېر درنښت شونډې سره بېرته کړې:

ستا د تدبير پر وړاندې د درنښت سر ټيټوم. لس کاله مخکې چې تازه مې د بلوغ پر دروازه گام ايښی وو، امر دې راته وکړ چې ولاړ شم او په خلکو کې خپل مقام پخپله اوچت کړم نه دا چې ستا په شتمنۍ کې مې سترگې ښخې کړي وي.

تا د خپل سخاوت له مخې يو څه سره زر هم راته ډالۍ کړل او ورسره سم دې له خپلې پوهې هم برخمن کړم، خو د سرو زرو په اړه بايد ووايم چې له بده

[1] پيکونه.

Scanned by CamScanner

مرغه ډېر خراب مې ولګول. هغه پيسې مې کتمټ لکه يو وحشي سويګی داسې اسانه له بې تجربې لاسونو وتښتېدې.

پلار يې له وياړه ډکه موسکا وکړه او ويې ويل:

زويه کيسې ته دې ادامه ورکړه، غواړم ټکي په ټکي يې واورم.

- هوډ مې وکړ چې نينوا ته ولاړ شم، ځکه هغه يو مخ پر وده ښار وو او فکر مې کاوه يو نه يو فرصت پکې تر ګوتو کولای شم. له يوه کاروان سره ملګری شوم او هلته د موجودو کسانو په منځ کې مې ګڼ ملګري پيدا کړل. د هغوی په ډله کې يو دوه ډېر خوش طبعه ځوانان هم ول چې دواړو ډېر ښکلي سپين اسونه لرل.

د سفر په اوږدو کې يې پټ راتهوويل چې په نينوا کې يو ډېر موړ سړی اوسي. هغه يو خورا ګړندی اس لري او تر ننه هېچا نه دی لاندې کړی. د دغه اس څښتن په دې عقيده دی چې اوسمهال يې هېڅوک نشي ماتولای. له همدې کبله يې ډېر لوی شرط پر اېښی او ويلي يې دي چې که هر بابلي اس مات کړ، هغه پيسې به يې خاوند ته ورکړي. دغو ملګرو راته وويل چې د دغه سړي اس زموږ د اسونو په پرتله يو باري يابو دی او ډېر اسانه يې ماتولای شي.

هغوی ډېره مهرباني وکړه او په دغه شرط بندۍ کې يې زه هم ورشريک کړم. چې رښتيا شي پلان يې سخت اغېزمن کړی وم.

زموږ اسونه مات شول او ما ډېر سره زر پکې وبايلل. وروسته خبر شوم چې هغه دوه تنه دوکه بازان ول، کار يې همدا وو چې کاروان کې يې سفرونه کول تر څو زما غوندې بې تجربې او نابلده خلک وغولوي. په دې هم خبر شوم چې نينوا کې اوسېدونکی د اس څښتن هم په دغه معامله کې ورسره شريک وو. له دغو غولوونکو مې د احتياط لوست زده کړ.

لږ وروسته مې يو بل درس هم واخيست چې تر لومړي په کمه دردناک نه وو. زموږ په کاروان کې يو بل ځوان هم وو چې ډېر ژر مې شيدې ورسره ايله شوې[1]. هغه هم زما غوندې شتمن پلار درلود او نينوا ته روان وو چې هلته ځان

---

[1] ياني ورسره شناخته يا صميمي شوم.

ته یو مناسب ځای پیدا کړي. ښار کې تر اړولو لږ وروسته یې راته وویل چې د هغه ځای یو سوداګر وفات شوی او دوکان او ارزښتناک سامانونه یې په ډېره ټیټه بیه خرڅېږي. د ده وړاندیز دا وو چې په ګډه یې وپېرو، مګر ویل یې چې دمګړی پیسې ورسره نشته او باید بابل ته پسې ولاړ شي. زما څخه یې وغوښتل چې ټولې زه ورکړم او دی به خپله برخه له بابله تر راتلو وروسته راکړي.

د ځوان سفر پسې اوږد شو. په دې موده کې وپوهېدم چې سودا ګټوره نه ده او پیسې مو بېځایه لګولي دي. اخیر مې د هغه له بېرته راتګه هم هیله وخته. ټوله سرمایه مې په اوبو لاهو شوې او داسې سامانونه راته پراته ول چې هېڅ بازار یې نه درلود. دغه راز د نورو ښو شیانو د رانیولو پیسې هم راسره نه وې. له مجبوریه مې راپاته څیزونه په یوه ناچیزه بیه پر یوه فلسطیني خرڅ کړل.

پلاره! تر دې وروسته مې ډېرې سختې ورځې وګاللې. د کار په لټه شوم پیدا مې نکړ، ځکه نه مې سوداګریز مال درلود او نه مې هم کوم کسب زده وو چې پیسې په وګټلای شم، نو د خوړو رانیولو او خملاستلو د ځای پیدا کولو لپاره مې اس، غلام او اضافه جامې وپلورلې. د ژوند تر ټولو بدو ورځو ته ورنژدې کېدونکی وم.

په هغو ترخو ورځو کې پر ما ستا باور را یاد شو. تا زه لېږلی وم چې ځان ثابت کړم او ما هم ژمنه درسره کړې وه.

ذهن ته مې راغلل چې دوې ختینې لوحې دې هم راکړي وې او پر هغو دې د سرو زرو پنځه قوانین حک کړي ول. نو راولاړ شوم او هغه قوانین مې د زړه په سترګو ولوستل او پوه شوم چې که مې له پیله د پوهې لمن نیولای داسې چل نه راکېد. هر قانون مې په یادو یاد کړ او پرېکړه مې وکړه چې که د نېکمرغۍ پرښته راته موسکۍ شوه د وخت د پوهې له رڼا به کار واخلم، نه د ځوانۍ له اوموالي.

اوس تاسې ته د پلار هغه حاکیمانه توري در اوروم چې لس کاله وړاندې یې پر ختینو لوحو کیندلي او ما ته راکړي ول:

# د سرو زرو پنځه قوانین

۱ـ سره زر د هغه چا کره په ډېره خوښی ورځي او ورځ په ورځ نور هم زیاتېږي چې د خپلې راتلونکې او کورنۍ لپاره د خپل عاید لږ تر لږه لسمه برخه سپموي.
۲- سره زر د هغه هوښیار ښښتن په ډېره مینه او لېوالتیا چوپړ وهي چې پر یوه گټوره لار یې په کار واچوي. په دې کار سره یې شمېر د دښتي غوایانو په شان ډېرېږي.
۳- سره زر د هغه محتاط ښښتن په ساتنه ډېرېږي چې د مالي چارو د باتجربه متخصصانو په سلا پانگونه په کوي.
۴- سره زر د هغه چا له لاسه ښوییږي چې په داسې کاروبار یې بند کړي چې یا یې سم سر نه په خلاصېږي او یا هم اړوندو باتجربه او پوهو خلکو ته د منلو وړ نه وي.
۵- سره زر له هغه چا تښتي چې په ناممکنو گټو پسې منډې وهي، د چلبازانو لمن نیسي او یا هم پر خپلو خامو تجربو او پوچو هوسونو په باور کولو سره په نامعقولو لارو کې پانگونه کوي.
دا ول د سرو زرو هغه پنځه قوانین چې پلار مې راته لیکلي ول او زه یې په بشپړ ډاډ تر سرو زرو ارزښتناک بولم. په مطلب به مو د کیسې تر خلاصېدو وروسته ښه سم سر خلاص شي.
دا شبه یې بیا خپل پلار ته مخ کړ او ویې ویل:
تاسې ته مې د خپلې بې تجربگۍ له لاسه د راپېښې شوې ژورې بدمرغۍ او نهیلۍ یادونه وکړه، خو د ځنځیرونو کړۍ تل یو پای لري. زما بدبختي هله پای

Scanned by CamScanner

ته ورسېده چې د غلامانو د يوې ډلې ناظر شوم. دنده مې د ښار پر شاوخوا د يوه جوړېدونکي دېوال د کار څارنه وه.

د سرو زرو د لومړي قانون پر بنسټ مې د خپل عايد لومړۍ ميسي سيکه بغل[1] ته کړه او ورو-ورو مې يې شمېر همداسې پسې ور زيات کړ؛ اخير د سپينو زرو سيکه څنې جوړه شوه. پرمختګ مې کرار وو او دا هم بايد پټه نه کړم چې د ژوند کړۍ مې پر ځان ډېره راتنګه کړې وه، څکه هوډ مې کړی وو چې لس کاله وروسته دلته راشم او ستا سره زر دروسپارم. يوه ورځ د مريانو مشر چې ملګری شوی مې وو، راته وويل:

ته يو سپموونکی ځوان يې، خپل عايد د ځوانۍ پر هوسونو نه بازې[2]. ايا داسې پيسې درسره شته چې په کار دې نه وي اچولي؟

ورته ومې ويل:

هو! تر ټولو ستره هيله مې د پيسو ټولول او پلار ته د هغو سرو زرو بېرته ورکول دي چې ډېر اسانه مې له لاسه ووتل.

- افسوس! زه هم همداسې يوه ډېره ترخه تجربه لرم. ما هم د پلار سره زر په اوبو لاهو کړل او اوس پر خپله سپما بېرېږم چې په همدې برخليک اخته نشي.

که پر ما باور کوې، نو د پانګونې يوه خورا ګټوره موقع به دروښيم. د ښار دېوال په يوه کال کې پوره کېږي او هغه مهال به په هر مدخل کې د غټو-غټو برونزي دروازو کېښنولو ته اړتيا پيدا شي تر څو ښار د پاچا له غليمانو څخه وساتي. دومره فلز په ټوله نينوا کې نشته او پاچا يې هم په اړه فکر نه دی کړی. زما پلان دا دی چې يو څو کسه پيسې سره واچوو او د ميسو له کانونو څخه فلز او چادر په راوړو.

کله چې پاچا د دروازو جوړولو امر وکړي يوازې به موږ يو چې کافي فلز به لرو او هغه به يې هم په يو عالم پيسو راڅخه رانيسي. که احياناً دا کار وهم نشي تاوان نه راته کوي او پر عامو خلکو يې په منځنۍ بيه پلورلای شو.

---

[1] بغل ته کول-ساتل، له يو چا سره يو پټ ځای ږغېدل.
[2] بازل-ببخايه خرڅول، بايلل.

Scanned by CamScanner

د هغه په وړاندیز کې مې یو ډېر ښه فرصت ولید. دربیم قانون کتمې همدا راته وایي چې خپله سپما باید د هوښیارو خلکو په لارښوونه پر کار واچوو. لېونی تلوسه راولوېده. دغه شراکت یومخ له بریا ډك راته ښکارېده او زړه مې راته ویل چې د دغې معاملې په برکت مې سپما ببخي ډېرېدلای ،ي.

ژر مې هوکړه ورسره وکړه او د شریکانو په ډله ورگډ شوم. هغوی ټول پوه خلك ول او د سرمایې د گټور استعمال لارې ورمالومې وې. د هر پلان په اړه بې کافي بحث کاوه او تر گام پورته کولو وړاندې یې هر اړخ په ځیر سره سنجاوه. اصلي پانگه یې له خطر او په بې گټې معاملو کې له نښتلو څخه ساتله. بې ارزښته کړنې لکه پر اس څغلونه شرط تړل او یا هم له بې تجربې خلکو سره شراکت کول، یې بدې گڼلې. د دغسې طرحو کمزورو ټکو ته ډېر ژر متوجې کېدل.

له دغو خلکو سره د ملگرتیا په برکت مې د ډاډمنو او گټورو پانگونو چل زده کړ او د څو کالو په اوږدو کې مې شتمنی ډېره چټکه وده وکړه. نه یوازې دا چې له لاسه وتلي پیسې مې بېرته وگټلې، بلکې تر هغو لا څو برابره زیاتې نورې په لاس راغلې.

د خپلو ناکامیو، بریاوو او ازمایښتونو په بهیر کې مې څو واره د پورتنیو پنځو قوانینو حکمت وازمایه او هر ځل یې سموالی په زبات راته ورسېد. څوك چې په دغو قوانینو کې له پټې پوهې برخمن نه وي اکثره هم له شتو بې برخې وي او هم یې ډېر اسانه له لاسه ورکوي، مگر سرچپه څوك چې بیا دغه قوانین خپله تگلار وگرځوي د سرو زرو ورته مخه کېږي او د یوه کارنده مریي غوندې یې چوپړ وهي.

نوماسیر دلته خپلې خبرې ودرولې او د تالار په پای کې ولاړ غلام ته یې اشاره وکړه. هغه سملاسي درې څرمینې کڅوړې راوړې. نوماسیر یې یوه راپورته کړه، د پلار مخې ته یې پر ځمکه کښېښوده او ورته ویې ویل:

تا یوه کڅوړه بابلي سره زر راکړي ول. زه یوه کڅوړه نینوایي هغه درکوم چې په وزن او ارزښت دواړو کې ورسره برابر دي.

Scanned by CamScanner

تا دوې داسې ختينې لوحې راکړي وې چې پخې خبرې پر کيندل شوي وې، زه يې په بدل کې دا دی د سرو زرو دوې کښوړې درکوم.

د دغو خبرو پر مهال يې هغه دوې نورې کښوړې هم د پلار پر وړاندې کښېښودې.

- پلاره! زما دا کړنه پوهې او حکمت ته تر سرو زرو د زيات ارزښت ورکولو مانا لري. خو منم چې پوهه د طلا له کښوړو سره نشي پرتله کېدای. که پوهه نه وي شتمني ډېر ژر له منځه ځي. يوازې د پوهې په مرسته هم سړی ډېر سره زر ترلاسه کولای شي؛ دغه درې کښوړې يې ژوندی ثبوت دی.

پلار جانه! په دې د زړه له تله خوښ يم چې ستا پر وړاندې ولاړ يم او وايم چې ستا د راپېرزو کړي پوهې او حکمت په زور مې ډېره شتمني پيدا او خلکو کې سرلوړی و نباغلی شوم.

آرکاد د نوماسير پر سر د مينې لاس ورکښېښود او ويې ويل:

تا خپل درسونه ډېر ښه زده کړي دي. زه په رښتيا ډېر نېکمرغه يم چې تا غوندې زوی لرم او خپله شتمني ورسپارم.

کلاباب کيسه پر همدې ځای خلاصه کړه، اورېدونکو ته يې په پلټونکي نظر وکتل او ويې ويل:

ستاسې په اند د نوماسير کيسه څه مانا لري؟ ايا په تاسې کې داسې څوک شته چې خپل پلار يا خسر ته د دغسې يوه راپور ورکولو زړه وکړای شي؟

که تاسې مثلاً لاندنی خبره ورته وکړئ، نو هغوی به څه درته ووايي:

پلاره/خسره! ډېره مسافري مې وکړه، ډېر څه مې زده کړل، ډېر زيار مې وايست او ډېرې پيسې مې وگټلې؛ خو له بده مرغه اوس تش لاس يم. يو څه مې پر ځای او يو څه مې بېځايه ولگولې، مگر ډېره برخه يې پر ناسمو لارو راځخه ولاړې.

ايا اوس هم په دې نظر ياست چې د مفليسو او غريبو خلکو د لاستنگۍ و مسکينۍ لامل خراب برخليك دی؟ که داسې وي نو لويه تېروتنه کوئ.

Scanned by CamScanner

سړی هله شتمنبدای شي چې د سرو زرو یاد پنځه واړه قوانین زده او عملي کړي. زما څخه څکه یو خان سوداګر جوړ شو چې پر دغو قوانینو مې په ځوانۍ کې عمل وکړ، نه دا چې کوم جادویي لاس مرسته راسره وکړه.

کومه دنیا چې په تېزۍ په لاس راځي هغومره په چټکۍ بېرته له لاسه وزي.

هغه ثروت چې د خپل څښتن د خوښۍ او رضایت لامل ګرځي، ورو-ورو ترلاسه کېږي، څکه تر شا یې یو عالم پوهه او زیار ولاړ وي.

شتمني ګټل د متفکرو خلکو لپاره یو سپک بار دی. هغوی خپل وروستۍ موخې ته د رسېدو لپاره دغه بار کلونه-کلونه پر اوږو وړي.

د سرو زرو یاد قوانین خپلو عملي کوونکو ته ډېره لویه بدله ورکوي. هر یوه کې یوه نړۍ مانا نغښتې ده. غواړم یو ځل بیا یې لږ زیات درته بیان کړم، څکه ښایي د تېري کیسې د څینو په زړه پورو برخو له امله مو له یاده وتلي وي. دا چې په ځوانۍ کې پر پیښښ شوی یم، نو ټول مې تکي په تکي په یاد هم دي.

## لومړی قانون

سره زر د هغه چا کره په ډېره خوښۍ ورځي او ورځ په ورځ نور هم زیاتېږي چې د خپلې راتلونکې او کورنۍ لپاره د خپل عاید لږ تر لږه لسمه برخه سپموي.

که څوک په منظم ډول د خپل عاید لسمه برخه وسپموي او بیا یې په سم ډول په کار واچوي ببله شکه به یوه ارزښتناکه شتمني ترلاسه کړي چې هغه به بیا نوره ګټه پسې راوړي او له دې نړۍ څخه د ده تر لېږدېدو وروسته به یې د کورنۍ ژوند خوندي وي. د دغه قانون له مخې دغسې کسانو ته شتمني په ډېره خوښۍ ورځي. دا شی ما ته هم په خپل ژوند کې تجربه شوی دی. هر څومره چې مې شتمني زیاتېده هغومره په اسانۍ نورې پیسې راته راتلې. ستاسې سپمولي پیسې که هم په کار ولوېږي، ګټه کوي، هغه ګټه بیا نوره ګټه کوي او هغه بیا نوره. دا له اره د لومړي قانون د مراعاتولو نتیجه ده.

## دویم قانون

سره زر د هغه هوښیار ښښتن په ډېره مینه او لېوالتیا چوپړ وهي چې پر یوه ګټوره لار یې په کار واچوي. په دې کار سره یې شمېر د دښتې غوایانو په شان ډېرېږي.

سره زر په اصل کې یو زیارکښ مزدور دی او که موقع ورکړل شي بې حده زیاتېږي. هر هغه څوک چې یې ولري، د ګټور استعمال ګڼ فرصتونه هم په لاس ورځي او که استفاده ځنې وکړي د څو کلونو په تېرېدو سره به یې شتمني په حیرانوونکې توګه څو برابره شي.

## دریم قانون

سره زر د هغه محتاط څښتن په ساتنه ډېرېږي چې د مالي چارو د باتجربه متخصصانو په سلا پانګونه په کوي.

د سرو زرو له احتیاطکارو خلکو سره ډېره جوړه ده او د بېباکه کسانو له منګولو تښتي. د پانګې اچونې په باب له اړوندو پوهو خلکو سره سلا کول دا رانښيي چې خپله سرمایه باید په خطرناکو کاروبارونو کې له بندولو راوګرځوو او پر ډاډمنو لارو یې په کار واچوو تر څو په منظمه او پرله پسې توګه یې کچه زیاته شي.

## څلورم قانون

سره زر د هغه چا له لاسه ښوییږي چې په داسې کاروبار یې بند کړي چې یا یې سم سر نه په خلاصیږي او یا هم اړوندو باتجربه او پوهو خلکو ته د منلو وړ نه وي.

څوك چې سره زر ولري خو له سوداګرۍ سره بلد نه وي، هره لار ګټوره ورته ښکاري. په داسې حال کې چې هغه به زیانمنوونکې وي. البته که یې پوه و بلد خلك وڅېړي د زیان و ګټې کچه یې مخکې له مخکې مالومولای شي. یو بې تجربې کس چې د پانګونې پر وخت یوازې پر خپل قضاوت تکیه کوي او داسې کسبونو و معاملو ته لاس اچوي چې پوره مالومات نه پکې لري، غالباً د خپلې پرېکړې د ناسموالي پایله په خپلو سترګوویني او د ټولې سرمایې په قیمت ورته تمامیږي. څوك چې په رښتیا هوښیار وي خپل شته د اړوندو پوهانو له لارښوونې سره سم په کار اچوي.

## پنځم قانون

سره زر له هغه چا تښتي چې په ناممکنو ګټو پسې منډې وهي، د چلبازانو لمن نيسي او يا هم پر خپلو خامو تجربو او پوچو هوسونو په باور کولو سره په نامعقولو لارو کې پانګونه کوي.

ځوک چې تازه شتمن شوی وي ډېر ځله پارووونکو افسانو ته ورته خيالي وړانديزونه مني. هغوی په دې سوچ کې وي چې په خپله سرمايه په يوه جادويي حرکت سره نه منونکې او ناشونې ګټه کولای شي. بايد د هوښيارو خلکو مشورو ته غوږ ونيول شي، ځکه هغوی پوهېږي چې د شتمنۍ يودم ډېرونکې لارې له سترو خطرونو ډکې دي.

د نينوا ښار اوسېدونکو هېڅکله پر داسې لارو پانګه نه لګوله چې يا به د اصلي سرمايې د له منځه تلو خطر ورسره تړلی وو او يا به يې ګټه لږ وه.

د سرو زرو د پنځو قوانينو کيسه همدلته پای ته رسوم. په عين حال کې مې د خپل برياليتوب راز هم درته ووايه.

چې ربښتيا شي دا راز هم نه، بلکې هغه حقيقتونه دي چې هر ځوک بايد لومړی سر په وپرسوي[1] او بيا له هغې لويې ډلې څخه د ځان ايستلو هڅه وکړي چې د دغو دښتې سپيانو غوندې هره ورځ په يوه مړۍ خوړو پورې حيران وي.

سهار بابل ښار ته ننوزو. د بل معبد پر سر هغه ژبغړاند مشال ته وګورئ! مونږ تاسې د سرو زرو دغه ښار ته ډېر نژدې پراته يو. سبا بايد تاسې ټول د روا او سم چوپړ له لارې يوه اندازه سره زر پيدا کړئ. لس کاله وروسته د دغو سرو زرو په اړه څه ويلای شئ؟

که ستاسې په منځ کې د نوماسير غوندې نارينه وي، پر خپله سپما پانګونه وکړي او د آرکاد له پوهې په ګټه اخيستنه يې زياته کړي په شرط سره درته وايم چې لس کاله وروسته به د آرکاد د زوی په شان شتمن او ښاغلی وي.

---

[1] سر پرسول – سر خلاصول، ځان پوهول. دا اصطلاح په منفي مانا د يو چا له ډېرو او بې مانا خبرو څخه تنګېدو او پازابېدو ته هم وايي.

پر هوښیارۍ ولاړ کارونه مو ژوند ته خوښي بخښي او لویه مرسته مو کوي، خو که مو کړنې معقولې نه وي په بلا او عذاب اخته کېږو. له بده مرغه چې تېروتنې او ځورېدنې مو بیا هېڅکله لمنې نه خوشي کوي.

د ژوند تر ټولو بد چیچونکي یادونه مو له لاسه وتلي فرصتونه او هغه کارونه دي چې باید کړي مو وای.

د بابل خزانې خورا پراخې دي، دومره پراخې چې هېڅوک یې د سرو زرو کچه نشي ټاکلای او هر کال لا پسې ډېرېږي. د دغې او هرې بلې خمکې زېرمې د هغو هوډمنو او باهدفه خلکو لپاره یوه غوره ډالۍ ده چې غواړي خپله برخه ترې واخلي.

هوډ او هدف انسان ته جادویي ځواک بخښي. دغه ځواک د پورتنیو پنځو قوانینو په رڼا کې په کار واچوئ او د بابل له خزانو برخمن شئ.

Scanned by CamScanner

# بابلی صراف

## د سرو زرو پنځوس سيکې!

د بابل ښار د نېزه جوړوونکي رودن نه يادېدل چې ښخوا دې يې کله هم په خپله خرمينه هميانۍ کې دومره ډېرې پيسې ورسره گرځولي وي. هغه د پاچا له ماڼۍ څخه په ډېره خوښۍ راوتلی او پر شاهي واټ روان وو. له هر گام سره يې هميانۍ ښوربېده، د سرو زرو سيکې پکې سره جنگېدې او شرنگا يې پر غوږونو داسې خوږه لگېده لکه د موسيقۍ يوه زړه وړونکې نغمه.

د سرو زرو پنځوس سيکې او ټولې هم د ده خپلې! پر دې نېکمرغي باور کول ډېر ورته گران وو. دغه گيردي او خوږ ږغ لرونکي شيان دومره څواکمن ول چې د ده د زړه هر ارمان يې ورپوره کولای شوای. لوی کور، ځمکه، د پسونو رمه، اوښ، اس، بگۍ او نورې گڼې هيلې يې په رابرسېرولای شوې.

دغه پيسې يې بايد څنگه کارولي وای؟ نوموړی يوې کوڅې ته وروگرځېد او د خپلې خور کور يې په خوله ورکړ. دا گړی له دغو ځلاندو او درنو ټوټو پرته چې د هر چا پام يې وراړاوه، د بل هېڅ شي خيال ورسره نه وو.

لالهاند رودن څو ورځې وروسته د نوموتي صراف ماتون پلورنځي ته وروخوت او شاوخوا پر دېوالونو راځوړندو شاهکارونو ته له کتلو پرته نېغ د دوکان په پای کې پرتې پسخانې ته ورغی. هلته ماتون د يوه اشرافي په دود

Scanned by CamScanner

بالښت ته ډېره وهلې وه او د خپل تورپوستي مريي په لاس راوړل شوي خواړه يې خوړل.

رودن چې صراف ته مخامخ واز-دراز[1] ولاړ او د کميس له ټنيو يې د ځيګر وېښتان ښکارېدل، وويل:

د يوې مشورې لپاره درته راغلی يم. لار و ګودر راځخه ورک دي او هېڅ سر مې نه خلاصيږي چې څه وکړم.

د ماتون ډنګر او رنګ الوتی مخ په يوه دوستانه موسکا سره وغوړېد او ويې ويل:

خيريت دی چې د صراف مرستې ته اړ شوی يې؟ ايا په قيمار کې دې پيسې-ميسې بايللي دي او که د يوې ښکلې ښځې په دام کې نښتی يې؟ زه دې له ډېره وخته پېژنم، تر اوسه خو دې ما ته هېڅ اړتيا نه ده پيدا کړې!

- نه، نه داسې کومه خبره نشته. د پور لپاره نه، بلکې يوازې د يوې مشورې او لارښوونې لپاره درته راغلی يم.

- عجيبه سړی يې ولا! صراف ته هم څوک د مشورې لپاره ورځي؟ يا هسې نه ما دې خبرې سمې نه وي اورېدلې.

- نه، بالکل دې سمې اورېدلې دي.

- رښتيا؟ ايا ته تر نورو ټولو ځيرک يې چې ماتون ته د سرو زرو نه، بلکې مشورې لپاره راغلی يې؟ دلته هېڅ راتلونکی کس د مشورې تږی نه وي؛ ټول له يوه مخه د خپلو بېعقليو او بېباکيو د جبرانولو او پور اخيستلو لپاره راځي. خو دا چې د صرافانو سروکار تل په ستونزو کې له ډوبو خلکو سره وي، نو د مشورې غوښتلو تر ټولو ښه مرجع هم ده. راځه کښېنه مړۍ راسره نوش جان کړه. نن شپه مې مېلمه شه.

وروسته يې مريي ته امر وکړ:

[1] واز دراز-پښې خلاصې ايښودل.

زما نېزه جوړوونکي ملګري رودن ته يو بالښت راوړه. دی زما ډېر دروند مېلمه دی. بيا ورشه نوره ډوډۍ او يو لوی جام هم راوړه. له بهترينو شرابو يې ډک کړه او مېلمه ته يې کېښېږده.

بيا يې رودن ته مخ کړ او ويې ويل:

اوس نو راته ووايه چې ستونزه دې څه ده؟

- د پاچا ډالی!

- د پاچا ډالی سرخوږی درته جوړ کړی دی؟ دا څنګه ډالی ده؟

- هو، د نېزو لپاره مې يو ډول نوي غشي اختراع کړل، د پاچا ډېر پر زړه ولګېدل او پنځوس د سرو زرو سيکې يې په انعام کې راکړې. اوس حيران-دريان يم. هره ورځ له لمرخاتو سره سم رنګارنګ خلک راته راځي او د شراکت غوښتنه راڅخه کوي.

- طبيعي ده. په سرو زرو پسې د سرګردانو خلکو شمېر د هغو تر خاوندانو ډېر زيات دی. هغوی تل دا هڅه کوي چې په شتمنيو يې ورګډ شي، مګر ايا ته يې نشې ځوابولای او هوډ دې د يوه تړلي مټ په شان ځواکمن نه دی؟

- ولې نه، ډېرو ته منفي ځواب ورکولای شم، خو کله ناکله مثبت ځواب اسانه وي. هغې خور ته څنګه نه! ووايم چې زما لپاره يې بلا ډېرې سربښندنې کړي او اوس پيسو ته اړتيا لري؟

- خور دې بايد د دې نعمت له خوند څخه ستا د بې برخې کولو هيله ونه لري.

- هغه دا کار د خپل مېړه آرامان لپاره کوي. دا وايي چې نوموړی به پانګونه په وکړي او يوه ورځ به لوی سوداګر شي. د دې په اند خاوند ته يې هېڅکله ښه فرصت په لاس نه دی ورغلی، نو اوس راته ټکګه ده چې هغه ته يې په پور ورکړم او نوموړی به يې تر شتمنېدو وروسته بېرته راکړي.

ماتون وويل:

ملګرې! د يوې خورا ارزښتناکې موضوع په اړه بحث کولو ته راغلی يې. سره زر د خپل څښتن پر اوږو نوي مسووليتونه ور باروي، له خپلو نورو ملګرو څخه يې حالت وربېلوي او ډارن ترې جوړوي. ياني دا اندېښنه وراچوي چې هسې نه له

لاسه ورځخه ووزي او يا يې کوم دوکه باز ځنې وشوکوي. پيسې انسان ته د واک احساس او د ښو کارونو کولو توان بخښي. همدارنګه يې له داسې حالاتو سره هم مخامخوي چې ممکن له کوم ناوړه نيت لرلو پرته په ستونزو کې ولوېږي.

ايا د نينوا د هغه مالدار کيسه دې اورېدلې چې د حيوانانو ژبه يې زده وه؟ فکر نه کوم، ځکه دا له هغو کيسو ځخه نه ده چې تا غوندې خلك يې د برونزو ويلولو د کُرې مخې ته واوري او يا واوروي. زه يې اوس درته کوم چې وپوهېږې پور ورکول او اخيستل يوازې له يوه لاسه بل ته د سرو زرو لېږدېدل نه دي.

دغه کروندګر به هره شپه خپلو حيوانانو ته په غوجل کې پټېد او د هغوی خبرې- اترې به يې اورېدې. يوه شپه يې واورېدل چې غوايه خره ته د خپل کار له سختوالي شکايت کاوه او ويل يې:

له سهاره تر ماښامه مې جغ پر اوږو وې او ځمکه يوې کوم. که هوا هر څومره توده وي، پښې مې ژوبلې وي، مرګي حاله ستړی او ان غاړه و اوږې مې تپې وي بيا هم بايد کار وکړم. خو ته بيا بادار يوازې د ساتېري لپاره ساتلی يې، رګارنګ ځلونه درباندې ږدي او يوازنۍ دنده دې دا ده چې هغه يو ځای ته يوسې. که بادار کوم ځای ته د تلو اراده ونه لري، نو ته هم ارام ولاړ يې او تپوله ورځ شنه واښه خورې.

خر سره له دې چې ډېرې خطرناکې لغتې يې درلودې، بيا هم يو ښه ملګری وو او غوايه ته يې په مينه وويل:

زما ګران ملګرې! پوهېږم کار دې خورا ډېر دی. زه غواړم درسپك يې کړم. د دې کار لپاره داسې يوه پلمه درښيم چې کولای شې يوه ورځ ځان له کاره په راوګرځوې او ارام وکړې. سبا سهار چې کله کاريګر راشي د جغ تړلو لپاره راشي، ته پر ځمکه اوږد-اوږد وغځېږه او په زګېروي شه. هغه به د ناروغ ګومان درباندې وکړي او پر خپل حال به دې پرېږدي.

غوایه د خره مشوره ومنله. په دا سبا مریي کروندګر ته خبر ورکړ چې غوایی ناروغ دی او یوې نشي کولای. کروندګر ورته وویل:

نو جغ خره ته وروتړه، ځمکه باید په هر صورت یوې کړل شي.

خره چې یوازې یې له ملګري سره د مرستې نیت درلود، ټوله ورځ د غوایه پر ځای سخت کار وکړ. ماښام مهال جغ څنې خلاص شو. غاړه یې ژوبله، مرګي حاله ستړی، زړه تنګی او خراب و تراب وو.

بزګر دا شپه هم په اخور کې پټ شو او خبرو ته یې غوږ ونیو. غوایه خره وویل: ته مې ډېر ښه ملګری یې همدا ستا مشوره وه چې یوه بشپړه ورځ یې ارام راپه برخه کړ.

خره ځواب ورکړ:

او زه بیا هغه بېعقل او مهربان سړي ته ورته یم چې له دوستانو سره د مرستې له امله د هغوی ټول بار پر خپله ملا باروي. له نه وروسته دې خپله یوې کوه، ځکه بزګر مې واورېد چې خپل نوکر ته یې ویل که غوایی یوه ورځ لا بل ناروغ شو حلالوم یې. زه هم غواړم همداسې وشي، ځکه ته یو لټ او ناکاره ملګری یې.

همدلته یې خبرې هم سره بندې او اندیوالي یې وشکېده. ستا په اند له دې کیسې څه پایله اخیستل کېدای شي؟

رودن ځواب ورکړ:

ښه کیسه وه، خو زما یې په اخلاقي مانا سد ونه رسېد.

- زما هم زړه ته نه لوېده چې په پوهېدلی به یې، خو مانا یې ډېره ساده ده: له ملګري سره په داسې ډول مرسته وکړه چې د سرخوږیو او ستونزو پېټی یې ستا پر اوږو بار نشي.

- دې ته مې هېڅ فکر نه وو، مګر ښه ټکی دی. زه هم هیله لرم چې د اخښې[۱] ستونزې پر ما راونه لوېږي. دا چې تا بې شمېره کسانو ته پور ورکړی، نو پخه تجربه هم لرې؛ ستا په اند زه څېل دغه پور بېرته راکښلای شم؟

ماتون په داسې انداز موسکی شو چې د ډېرو تجربو څرک پکې ځلېد او ویې ویل:

ایا داسې چا ته پور ورکول ښایي چې د بېرته ادا کولو وس یې نه لري؟ ایا پور ورکوونکی دومره سوچ او هوښ باید ونه لري چې د پوروونکي هدف او د سودا سموالی و ناسموالی ځان ته مالوم کړي؟ دا مالومات څکه اړین دي چې سړي وپوهېږي پور بېرته څنې اخیستل کېدای شي کنه. ممکن پوروونکی له پیسو څخه د روغي ګټې اخیستنې توان ونه لري، له لاسه څنې ووزي او اخیر یې بېرته ادا نکړای نشي. زه د خلکو امانتونه او ضمانتونه په یوه ځانګړې سندوخچه کې ساتم. هلته هر پروت شی ځانته داستان لري؛ بده به نه وي که له څینو یې ته هم خبر شې.

ولاړ او یوه سندوخچه یې راوړه. هغه دوې لوېشتې اوږده وه، سور د څرمنې پوښ یې درلود او په برونزو سینګار شوې وه. پر څمکه یې کښېښوده او مخې ته یې ګونډې ورته ووهلې. دواړه لاسونه یې د هغې له پاسه کښېښودل او ویې ویل:

له هر پوروړي څخه د یادګار په توګه یو نه یو شی اخلم او دلته یې امانت راسره ږدم. که یې پور پرې کړ بېرته یې ورسپارم، خو که یې پرې نکړ، امانت یې دلته په دغه سندوخچه کې د تل لپاره پاتېږي. د دغو شیانو هر ځل لیدل زما له باور سره د هغوی د څښتنانو له خوا شوي دروهې رایادوي.

د دغو نښو له مخې تر ټولو ډاډمن پورونه مې هغو کسانو ته ورکړي دي چې شتمنی یې د پور تر مبلغ زیات ارزښت لري. دا خلک څمکه، ګېڼې، اوښان او یا نور ورته شیان لري چې د اړتیا پر مهال یې خرڅولای او خپله غاړه په

---

[۱] اوښی.

خلاصولای شي. په دغو امانتونو کې داسې ګڼې هم شته چې ارزښت يې خپله تر پور شویو روپیو لوړ دی. ځینې یې بیا ساده ژمنلیکونه دي چې که پوروړی پور رانکړي، نو یو قیمتي څیز به ترې اخلم. د دغو پورونو په اړه هم ډاډه یم چې بدله یې ترلاسه کولای شم، لیکنې ژمنې یې راسره خوندي دي.

دا بله برخه بیا هغه پوروړي دي چې که څه هم ارزښتناک مال نه لري، خو بیا هم کار کوي او معاش ورته راځي. کټمټ لکه ته چې دنده لرې او په بدل کې یې مزدوري اخلې. دغه کسان که زیار وباسي او په یوه غیبي بلا وانوړي، ډاډه یم چې خپل پورونه له ګټې سره یوځای ادا کولای شي. د دې برخې ضمانت بیا انساني څواک دی.

وروستۍ ډله نه شتمن دي او نه هم ډاډمن عاید لري. ژوند له کړاوونو ډک دی او هر ځای تل داسې وګړي شته چې ځان نشي ورسره عیارولای. دغسې خلکو ته ان یوه ټنګه پور ورکول هم د افسوس او خواشینۍ وړ دی. بې ضمانته خلکو ته د قرض ورکولو په صورت کې به دغه سندوخچه لانت راباندې ووایي.

ماتون د سندوخچې کولپکان پرانیستل او سر یې ورپورته کړ. رودن په ډېره مینه او تلوسه مخ ته ورکوږ شو. لومړنی څیز پر یوه سور بخمل پرته برونزي غاړګۍ وه. ماتون راپورته کړه او په خوند-خوند یې لاس پر تېر کړ، ویې ویل:

دغه امېل به تل همدلته پروت وي، څکه څښتن یې د تیارو نړۍ ته کوچېدلی دی. د څښتن خاطرو ته یې په درنه سترګه ګورم. ښه ملګرتیا مو وه. په کاروبار کې راسره شریک او خورا بریالی سوداګر وو. یو وخت یې نابېره له ختیځه یوه ښځه راوسته او واده یې ورسره وکړ. هغه ډېره ښکلې وه، حتا زموږ تر ښځو هم. سړی سخت له ګېره ووت او خپله ټوله دنیا یې په ډېره بېباکۍ د هغې تر سر ځار کړه. چې غریب شو، نو له یو عالم اندېښنو سره ما ته راغی. نصیحت مې ورته وکړ او په دې شرط مې د مرستې ژمنه ورسره وکړه چې بېرته سمه لار واخلي. د خپلې غتې غوا په مجسمه یې لوړه وکړه چې همداسې به

Scanned by CamScanner

کوي، مگر ویې نکړل. یوه ورځ یې له هغې ښځې سره دعوه شوه. هغې په زړه کې په چاړه وواهه. د دغه کار جرئت هم همده ورکړی وو.

رودن ترې وپوښتل:

او هغه ښځه څه شوه؟

ماتون غاړگی ورپورته کړه او ویې ویل:

دا امېل د هغې وو. پر خپل کړي کار تر دې حده پښېمانه وه چې ځان یې فرات سیند ته وغورځاوه. په دې حساب نو دا هغه پور دی چې هېڅکله به ادا نشي. دغه سندوخچه د حال په ژبه راته وایي چې په عاطفي لومو کې نښتې انسانان د یوه صراف له نظره ډاډمن پوروړي نه دي.

وروسته یې یوه د غوایه له هډوکي جوړه گوتمۍ چې حکاري پر شوې وه، له سندوخچې راوکښله او ویې ویل:

دا د یوه بزگر ده. ماینې یې غالیچې اوبدلې او پر ما یې پلورلې. یو کال ملخان راغلل، غله یې ورتباه و برباد کړه. ما یې لاسنیوی وکړ او د حاصلاتو په موسم کې یې بېرته غاړه راوایستله. بل ځل بیا راغی. راته ویې ویل چې له یوه سیلاني یې د خورا عجیبو پسونو یادونه اورېدلې ده؛ ډېرې زبردسته اوږدې او نرمې وړی لري. له دغه ډول وړیو اوبدل شوي غالیچې ډېرې ښکلې دي او ساری یې بابل کې نشته. ده غوښتل د دغو پسونو یوه رمه رانیسي، خو کافي پیسې یې نه لرلې. ما پور ورکړ. اوس د رمې خښتن شوی دی. راتلونکی کال به بابلیان په ډېرو قیمتي فرشونو حیران او تر خپل احسان لاندې کړي. دا گوتمۍ ډېر ژر بېرته خپل مالك ته ورسپارم. د هغه خپله هم د پور ادا کولو ته تلوار دی.

رودن څنې وپوښتل:

نور پوروړي هم همداسې کوي؟

- که یې پیسې د پانگونې لپاره په کار وي، همداسې کوي. هغو خلکو ته هېڅکله پور ورنکړې چې د بېځایه لگښتونو لپاره یې درڅخه غواړي.

رودن یوه درنه گېڼه راپورته کړه. د جواهرو ټوټې یې ځل-بل کېدې او خورا نادره جوړه شوې وه، ویې ویل:

Scanned by CamScanner

د دې څه داستان دی؟

ماتون په لغازي انداز ورته وویل:

ملګرې د ښځو شوقي راته ښکارې!

رودن د دې لپاره چې کم نه وي راغلی، وویل:

زه لا تر تا ډېر ځوان یم.

- منم یې، مګر دا وار خطاوتې او پر یوه هسې شي دې د عاشقانه کیسې خیال وکړ. د دغې ګېنې څښتنه یوه پنډه او ګونځ مخې ښځه ده. لکه ماته راډیو تمامه ورځ غربړي[۱]. د دې کورنۍ یو وخت ډېره شتمنه وه او زما په ښو ګیراکانو کې راتله، خو یودم د حالاتو ورته شا شوه. دغه مېړمن یو زوی لري چې دا غواړي سوداګر څنې جوړ کړي. نو ما ته راغله، پیسې یې راڅخه پور کړې او زوی یې د یوه کاروان له څښتن سره شریک کړ. د دې په وینا هغه له خپلو اوښانو پر بېلابېلو ښارونو ګرځي او د سامانونو د پېر و پلور کاروبار یې دی.

خو وروسته پته ولګېده چې هغه یو دوکه باز او رزیل انسان وو. هلک بېچاره یې په یوه لیرې پراته پردي ښار ویده پرېښود او څنې ولاړ. دغه هلک ښایي پر خپلو پښو تر درېدو وروسته زما پور پرې کړای شي؛ مګر تر هغه وخته له یوې تشې ژمنې پرته بل هېڅ هم په لاس کې نه لرم. دا ګېڼه هم همداسې وبوله.

- ایا دې ښځې د پور د لګولو په اړه سلا درسره ونکړه؟

- بالکل نه، سرچېه یې په خپل خیال کې له دې بې لاس و پښو هلکه شتمن او څواکمن سړی جوړ کړی وو. چې ما مخالف نظر ورکړ، غوسه لا له لاسه ورغله. زه پوهېدم چې پر دغه بې تجربې هلک باور نه دی په کار، مګر کله چې یې دغسې غوښن ضمانت راکړ، زما خوله هم بنده شوه.

ماتون یوه غوټه شوې رسۍ راوایسته او ویې ویل:

---

[۱] یاني ډېري او بې مانا خبري کوي.

Scanned by CamScanner

دا د اوښانو د یوه سوداګر نباتور ده. کله چې یې یوه تر وس لوړ شي رانیولو ته خیال شي، زه پور ورکړم او دی دغه رسې د امانت په توګه راسره کښېږدي. ډېر خېرک سوداګر دی، پر پرېکړه یې باور لرم او پیسې بېخاره ورسپارم. د بابل پر ډېرو سوداګرو باور کولای شم، ځکه چلند یې سم دی. امانتونه یې په وارو-وارو دغې سندوخچې ته راغلي او بېرته ځنې وتلي دي. ښه تجاران د دې ښار ستره پانګه ده. له هغوی سره په مرسته کې زما ګټه ده. په دې سره یې کاروبار لا غوړېږي او د بابل شان ورسره لوړېږي.

ماتون یوه ټوټه پیروزه چې د خزدکې(حشرې) په بڼه حکاري شوې وه، راوایسته، پورته یې وغورځوله او ویې ویل:

دا مصری هنر دی. د یوه ځوان ده. ښه مې سر خلاص دی چې زما د پور پرې کولو هېڅ خیال ورسره نشته. چې لږ زور پر راولم راته وایي: «په دې بد حال کې پور څنګه در ادا کړم؟ ته خو هسې هم ډېر شته لرې.» تر دې اضافه نو څه په کولای شم؟ دا ضمانت یې هم د پلار دی چې یو دروند او په عین حال کې تنګلاسی سړی دی. خپله ځمکه او رمه یې د زوی د پر کار کېدو په هیله ګرو کړي دي. ځوان هم په لومړیو کې بریالی ژوند درلود، خو ناڅاپه یې د غټې شتمنۍ نشه سر ته ننوته. مالومات یې ډېر کم ول او تباه و برباد شو.

ځوانان طبعاً ځانغوښتونکي او د داسې لارو په لټه وي چې ژر یې شتمن او خپلو هیلو ته ورسوي. همدې ارمان ته د رسېدو لپاره له سوچ پرته پیسې پوروي، خو دا چې بې تجربې وي، نو نه پوهېږي چې دروند پور یوه تور ژور کوهي ته ورته دی چې تر ورلوېدو وروسته به تر ډېره لاس و پښې پکې وهي. اخیر پر دې پښېمانه او خواشینی وي چې د بخت لمر یې پر لوېدو او د ژوند تیاره شپه یې پیلېدونکې ده. البته زه د پور اخیستلو مخالف نه، بلکې پلوی یم. ما هم د سوداګر په توګه خپل لومړنی بریالیتوب د سرو زرو له پوررولو راپیل کړی دی.

مګر پور ورکوونکی په دغسې حالاتو کې څه وکړي. دا ځوان د نهیلی ښکار دی او کوم مناسب کار یې هم له وسه نه کېږي. شهامت یې بایللی او د

Scanned by CamScanner

پور پرې کولو هڅه نه کوي. زما يې پر پلار زړه سوځي چې ځمکه او رمه يې دواړه له لاسه ووتل.
رودن وويل:
تا ډېرې په زړه پورې خبرې راته وکړې، مګر زما پوښتنه دې راځواب نکړه. ايا اخښي ته مې د سرو زرو پنځوس سيکې په پور ورکړم کنه؟ هغوی ښځې ډېر راباندې ګران دي.
- خور دې ډېره درنه ښځه ده. زه يې احترام لرم، مګر که يې مېړه ما ته راشي او پور راڅخه وغواړي، نو زه به يې هدف وپوښتم.
که يې راته وويل چې غواړي زما غوندې سوداګر شي او د قيمتي سامانونو کاروبار شروع کړي، ځنې وبه پوښتم:
د سوداګرۍ په اړه دې مالومات څه دي؟ ايا پوهېږې چې ارزانه شيان بايد چېرې وپېرل او چېرې په لوړه بيه وپلورل شي؟
اوس پوښتنه دا ده چې ايا هغه پورتنيو سوالونو ته مثبت ځواب ويلای شي؟
رودن وويل:
نه، خو زما سره يې په نېزه جوړونه او نورو ورته چارو کې مرسته کړې ده.
- په دې صورت کې به ورته ووايم چې موخه يې معقوله نه ده. ځکه سوداګر بايد په خپل کار پوه وي. همت ته مې يې سلام دی، مګر تګلار يې غيرعملي راته ښکاري او پور نه ورکوم.
فرض کړه راته ووايي چې له سوداګرو سره مې زياته ګوزاره کړې ده. پوهېږم چې څنګه نورو ښارونو ته ولاړ شم او د کورنيو ښځو په لاس اوبدل شوي فرشونه په ټيټه بيه رانيسم. دغه راز د بابل له ډېرو شتمنو اوسېدونکو سره شناخت لرم او خپل فرشونه ګران پر پلورلای شم. په دې صورت کې به ورته ووايم:
موخه دې عاقلانه ده او زړورتيا دې پر سر سترګو. په ډېره خوښۍ د سرو زرو پنځوس سيکې په پور درکوم، مګر په دې شرط چې په بدل کې يې يو ضمانت راته کښېږدې. که يې راته وويل چې زه يو دروند سړی يم او پور دې ببرته درکوم، له دې پرته بل هېڅ ضمانت نه لرم. نو ورته وبه وايم:
Scanned by CamScanner

پر ما خپله هره د سرو زرو سیکه ډېره گرانه ده. که یو پلا غله درباندې پېښ شول او پیسې یا یې فرشونه درځخه ولوټل، بیا زما پور نشې را اداکولای. د دې مانا به دا وي چې پیسې مې گواکې اوبو یوورې.

رودنه! د صراف پانگه او وسایل پیسې او سره زر دي. په ډېره اسانۍ په پور ورکول کېدای شي. که بېباکي ورسره وشي بېرته راکښل یې بېحده سختېږي. هوښیار پور ورکوونکي خپله سرمایه په خطر کې نه اچوي او خامخا د یوه ډاډمن تضمین غوښتنه کوي.

البته له نورو سره مرسته ډېر ښه کار دی. تر دې لا غوره کار بیا د برخلیك له خوا د تکېدلو خلکو راپورته کول دي. د هغو کسانو لاسنیوی هم ډېره خوندوره خبره ده چې د ژوند او روښان راتلونکي جوړولو په پیل کې دي. خو دا کومکونه باید په څیرکۍ او حکمت سره وشي. کنه نو د یاد بزگر د خره غوندې به مو له نورو سره د مرستې په بدل کې خپل ځان په بلا اخته کړی وي.

رودنه! یو ځل بیا له موضوع ووتلم، اوس دې ځواب ته غوږ شه!

خپلې پنځوس واړه سیکې ټینگې وساته. دا پیسې ستا خدمت کولای شي او د گټې په گډون ستا خپل مال دی. بل هېڅوك حق نه پکې لري. که ته خپله ونه غواړې، بل هېڅا ته ژمن یا پړ نه یې. که دې نیت دا وي چې د کاروبار پر ځای یې بل ته په پور ورکړې، نو ډېر احتیاط وکړه. زما پر ځای پرتې پیسې نه خوښېږي، مگر په هېڅ وجه یې په خطر کې هم نه اچوم. اوس دا راته ووایه چې څو کاله کېږي د نېزو جوړولو کار کوې؟

- ټیك درې کاله!
- د پاچا له انعام پرته نوره څومره سپما لرې؟
- درې د سرو زرو سیکې!
- د درې کلن زحمت او یو عالم محرومیتونو پایله دې همدا درې سیکې دي؟
- بالکل!
- نو د پنځوسو طلایي سیکو د سپمولو لپاره باید پنځوس کاله خواري وکاږې؟
- همداسې ده؛ یو بشپړ ژوند باید خولې توی کړم!

- ایا خور به دې د سرې کُرې مخې ته ستا د ژوند د پنځوسو کلونو لاسته راوړنه، یوازې د خپل مېړه د پوهې ازمايلو لپاره په خطر کې واچوي؟

- په دې ډول لکه دا ته چې وايې، نه، داسې به ونکړي.

- نو ورشه خور ته دې او ورته ووايه:

ما درې کاله شپه و ورځ خواري کړې او ځان مې له ډېرو خوندورو شیانو بې برخې کړی دی. د یوه کال د زیار او محرومیت پایله مې د سرو زرو یوه سیکه ده. ته زما گرانه خور يې او هیله من یم چې مېړه دې په سوداگرۍ کې غتې غتې برياوې ترلاسه کړي. که هغه زما ملگری ماتون قانع کړ، زه به هم په ډېره خوښۍ خپله یوکلنه خواري وروسپارم.

زما پر دغه خبره عمل وکړه او که هغه ربښتيا هم د بريالي کېدو هوډ ولري، زبات به يې هم کړي. که داسې نه وي، نو داسې چا ته به دې پیسې نه وي ورکړي چې بېرته يې درکولای نشي.

زه صراف یم او پور ورکول مې دنده ده، ځکه پیسې مې ډېرې دي او ټولې په کار نشم اچولای. غواړم اضافه شته مې د نورو په ښه ورشي او په گټه کې يې زياتوالی راولي، مگر په عین حال کې يې اوبو ته هم نه غورځوم، ځکه ما خپله هم په ډېر زيار گټلې او له خورا ډېرو شیانو بې برخې شوی یم. تر هغو يې چا ته نه ورکوم تر څو مې يې هر ډول بدې پايلې ته حساب نه وي کړی. داسې چا ته بیا په پور ورکولو کې دریغ نه کوم چې د خپلې گټې یوه اندازه په پرله پسې ډول راکولای شي.

اې رودنه! تا ته مې د دغې سندوخچې یوازې یو څو رازونه وویل. دغو کیسو ښايي د انسانانو په کمزوریو او له داسې پورونو سره د هغوی په مینه پوهولی يې چې د ادا کولو ډاډ يې نه وي. له دې ځایه پوهېدای شې چې ځینې انسانان د لویو-لویو شتمنیو د ترلاسه کولو سترې هیلې په سرونو کې پالي، خو شرط يې کافي پیسې لرل بولي، مگر د دوی دا امیدونه پوچ دي، ځکه هدف ته د رسېدو څواك او پوهه ورسره نشته.

Scanned by CamScanner

ملګرې! تا ته سره زر په لاس درغلي دي. باید په کار یې واچوې او نور سره زر په وګټې. ته هم زما غوندې صراف کېدو ته ډېر ورلنډ شوی یې. که خپله دغه شتمني سمه وپالې ډېره لویه ګټه به درته وکړي او په اینده کې به له ډېرو خوندونو برخمن شې، خو که یې په لوی لاس له ګوتو وباسې، تل به خواشینی او پښېمان یې. ښه، اوس دا راته ووایه چې په همیانی کې د دغو پرتو سرو زرو په اړه څه هیله لرې؟

- غواړم کلکې یې وساتم.

ماتون یې خبره ورټاپه کړه او ورته ویې ویل:

هوښیاره خبره دې وکړه. لومړی هیله دې د سرمایې ساتنه ده. ایا ستا په خیال دغه پیسې به ستا له اخښي سره خوندي وي او هېڅ زیان به ور ونه رسېږي؟

- له بده مرغه داسې نه ده، ځکه هغه د پیسو ساتلو لپاره کوم تدبیر نه لري.

- نو مه پرېږده چې احمقانه عواطف او د ژمنتیا احساس دې دوه زړی او بل چا ته د خپلې شتمنی پر ورکولو اړ کړي. که غواړې له کورنی او خپلوانو سره مرسته وکړې نورې داسې لارې ولټوه چې ستا د پیسو د له منځه تلو خطر پکې نه وي. پام دې وي چې سره زر د هغه چا له لاسه ښویږي چې د ساتلو کافي مهارت یې ونه لري. همدارنګه که پیسې پر بېهوده لارو ولګوې او بدخرڅي وکړې کتیمټ داسې ده لکه ناپوهو خلکو ته یې چې په لاس ورکړې.

اوس دا راته ووایه چې له خپلې دغې خزانې څخه بله څه هیله لرې؟

- غواړم نور سره زر په وګټم.

- بیا دې عقلمنه خبره وکړه. پیسې باید په جریان کې ولوېږي چې ډېرې شي. که سړی سره زر په سم ډول په پور ورکړي، تر بوډاتوب وړاندې به یې سرمایه ډبله شي. د خپلې پانګې په خطر کې اچول داسې مانا لري لکه ټولې راټلونکې احتمالي ګټې چې له منځه یووړل شي.

د داسې خلکو په پوچو او غیرعملي خیالونو پسې مه ځه چې غواړي پانګه یې د سترګو په رپ کې څو برابره شي. دغسې پلانونه د هغو ناپوهو خلکو له هوسونو سرچینه اخلي چې د ډاډمنو او باوري تجربو قاعدې نه پېژني. له عاید

څخه دې تل يوه معقوله تمه ولره؛ په دې سره به هم خپله خزانه وساتلای شې او هم به خوند پر واخلې. که د لويو ګټو په تمه يې په خطر کې واچوې، د اصلي پانګې د تباه کېدو شونتيا ډېرېږي.

هڅه وکړه له بريالېو کسانو سره ملګرى او شريک شې، د هغوى د مهارت او تدبير تر سيورې لاندې به دې هم سرمايه خوندي وي او هم به ورځ په ورځ زياتېږي.

په دې ډول به له ډېرو هغو بدمرغيو ځان خوندي کړای شې چې زښت زيات خلک په اخته کېږي.

رودن هڅه وکړه له ماتون څخه د دغو حکيمانه لارښوونو له امله مننه وکړي، خو هغه وار ترې مخکې کړ او ورته ويې ويل:

د پاچا انعام به دې پوهه در ډېره کړي. د سرو زرو د دغو پنځوسو سيکو ساتنه ډېر لوى بصيرت ته اړتيا لري. ښايي پر غلطو لارو يې د لګولو وسوسه درولوېږي. ډېر کسان به رنګارنګ مشورې درکړي او د لويو ګټو ګټنې لارې به درته وړانديز کړي. د يادګارونو د دغې سندوخچې داستانونه ستا لپاره يوه ګوتخنډنه ده؛ د خپلو پيسو تر بندولو وړاندې يې خامخا درپه ياد کړه ممکن په ښه درشي. په اينده کې وخت ناوخت راګرځه، تا ته مشوره درکول خوشحالي رابخښي.

مخکې تر دې چې ولاړ شې، د سندوخچې د سر پر لاندنۍ برخه دغه کيندل شوې جمله ولوله؛ د پورورکوونکي او پوروونکي دواړو لپاره ده:
لږ احتياط، د يو عالم پښېمانيو مخه نيسي!

Scanned by CamScanner

## د بابل دېوالونه

پخوانی عسکر بوډا بنزار د بابل د لرغونو دېوالونو سر ته د پورته شوي لارې په خوله کې د ساتونکي په توګه ولاړ وو. د دېوال پر سر زړورو سرتېرو د دفاع جګړه کوله. د دغه څو زره کلن ستر ښار راتلونکې د همدوی په هڅو ځړېده.

د دېوال پر سر د يرغلګرو سرتېرو کريږې، د بې شمېره نارينه وو چيغې، د زرګونو اسونو د پښو کړپا او د ښار پر برونزي دروازو د منجنيق پرله پسې ګوزارونه اورېدل کېدل.

د دروازې تر شا غځېدلې کوڅه کې نيزه غورځوونکي سرتېري تيارسئ ولاړ ول تر څو د دروازې له ماتېدو سره سم د يرغلګرو مخه ډب کړي، خو شمېر يې کم وو. د بابل اصلي پوځ ليرو پرتو ختيځو سيمو ته د ايلاميانو پر وړاندې د باچا په لښکرکښيو کې وتلی وو. هېڅچا فکر نه کاوه چې داسې مهال به پر ښار بريد وشي. له همدې امله ساتونکي ځواک هم لږ وو، خو د اشوريانو لوی لښکر نابېره له شماله راوبهېد او که جنګيالي د ښار د دېوالونو پر ساتنه نه وای توانېدلي، بابل به له خاورو سره سم شوی وای.

د بنزار چارچاپېر بېشمېرو رنګ الوتو، ډارېدلو او د جګړې خبرونو ته تږو ښاريانو زوږ جوړ کړی وو او په ترهېدلو سترګو يې پر رانوترنکې لار راوړل کېدونکو مړو او ټپيانو ته کتل.

canned by CamScanner

جګړه اوج ته رسېدلې وه. غلیم د ښار تر درې ورځنی کلابندی وروسته یودم په خپل ټول زور پر لویه دخولي دروازه برید کړی وو.

هغو یرغلګرو چې په رسیو یا زینو به یې پر دېوال د ورختلو هڅه کوله ساتونکو به یې په غشو یا ایشېدلو تېلو هرکلی کاوه. که به یو و نیم څان سر ته رساوه، بېله څنډه به یې سینه کې نېزه ښخېده. غلیمو سرتېرو پر ساتونکو د غشو باران جوړ کړی وو.

بوډا بنزار داسې ځای ولاړ وو چې په هر څه تر ټولو مخکې خبرېد. تر هر چا د جګړې ډګر ته ورنژدې وو. هر وار چې به لېوني یرغلګر پر شا تمبېدل، د هغوی رغونه به یې لا اورېدل.

یوه سپین ږیري سوداګر په ډېر تکلیف څان ور ورساوه او په داسې حال کې چې کمځواک لاسونه یې لړزېدل، ورته ویې ویل:

هله راته ووایه، هله راته ووایه چې هغوی ښار ته نشي رانوتلای. زامن مې له پاچا سره تللي دي او هېڅ داسې څوک نشته چې زما د بوډۍ مېرمنې ساتنه وکړي. ټول سامانونه به مې چور شي. یوه دانه غنم به راپاته نشي. مور زاړه شوي یو، دومره زاړه چې نه له څانه د دفاع توان لرو او نه هم د بند او غلامۍ. له لوږې به مړه شو. راته ووایه چې هغوی ښار ته د رانوتلو توان نه لري.

ساتونکي څواب ورکړ:

ارام شه اې دروند سوداګره! د بابل دېوالونه کلک دي. څه بازار ته ولاړ شه او مېرمنې ته دې ووایه چې د ښار دېوالونه ستاسې او ستاسې د مالونو داسې ساتنه کوي لکه د پاچا د خزانې. اوس راجوخت شه دېوال ته، هسې نه له اسمانه را اورېدونکي غشي درباندې ولګېږي!

د بوډا له تګ سره سم یوه مېرمن چې یو ماشوم یې هم په غېږ کې وو، راغله:

اې ساتونکې! د دېوال پر سر څه کیسه ده؟ رښتیا راته ووایه، غواړم د خپل مېړه زړه ور پورته کړم. هغه ډېر ژوبل دی. ټول بدن یې تبې نیولی او کور پروت دی. له دې سره یې هم نه زغره کښلې او نه یې نېزه پر څمکه ایښې ده؛ زما او زما د

ماشوم د ساتنې غم اخیستی دی. هغه پر ښاریانو د دوښمن د شهواني او وحشي سرتېرو له بریده سخت په وېره کې دی.
.زړه دې جم[1] کړه. ته مور یې او بیا به هم مور شې. د بابل دېوالونه به ستا و ستا د ماشومانو ساتونکي وي. دا دېوالونه دنګ او څواکمن دي. ایا زموږ د زړورو سرتېرو ږغونه نه اورې چې د ایشبدلو غوړیو ستلونه پر دېوال د راختونکو برغلګرو پر سرونو ورچپه کوي؟
. هو! اورم یې، خو د منجنیق د ګولیو اوازونه هم راځي چې د تالندې په شان زموږ پر دروازو لګېږي.
. ورشه مېړه ته دې. ورته ووایه چې دروازې ټینګې دي او منجنیق یې نشي ماتولای. دا هم ورته ووایه چې موږ نېزه په لاس پر دېوال را اوښتونکو خلکو ته منتظر یو. بیداره اوسه، ژر تر ژره کور ته ستنه شه او هلته پټه شه.
بنزار دغه شېبه مرستندویو ځواکونو ته د لار پرانیستلو په نیت لږ اړخ ته شو. په داسې حال کې چې هغوی په درنو ګامونو رانږوتل او د برونزي سپرونو یې یو نور کړېې وو، یوې نجلګوټې د بنزار کمربند ته په بېباکۍ لاس ورواچاوه او په زاریو یې ورته وویل:
اې سربازه! لطفاً رښتیا راته ووایه ایا موږ خوندي یو کنه؟ زه ډېر وېروونکي ږغونه اورم. خلک وینم چې له بدنونو یې وینې رواني دي. بېخې ډارېږم. زما په کورنۍ، مور، کوچني ورور او واړه ماشوم به خدای خبر څه تکه راولوېږي!
بوډا سرتېري سترګې کښته واچولې او په داسې حال کې چې هغې ته یې رډ- رډ کتل، زنه یې ورمخ ته کړه؛ په ډاډمن انداز یې ورته وویل:
وېرېږه مه د زړه سره! د بابل دېوالونه ستا، ستا د مور، کوچني ورور او هغه وړوکي ماشوم ساتنه کوي. همدا ستاسې غوندې خلکو په خاطر ملکې سمیرامیس څه باندې سل کاله مخکې پر ښار دغه دېوالونه راوڅرخول. هغه

---

[1] یاني اندېښنه مه کوه.

Scanned by CamScanner

دېوالونه چې تر ننه نه دي مات شوي. ورشه او خپلې مور او وړوکي ورور ته دې ووايه چې د بابل دېوالونه مو دفاع کوي ډاربږئ مه.

سپين ږيری بنزار به هره ورځ په پيره دارخانه کې ولاړ وو او هغو تازه نفسه ځواکونو ته به يې کتل چې دالېز کې به پورته ختل او لږ وروسته به د جسدونو يا ټپيانو په بڼه بېرته راستنېدل. شاوخوا به يې ډارېدلي او اندېښمن ښاريان راتاو ول. د هغوی شمېر هېڅ کمښت نه درلود او ټولو به غوښتل د دېوال د استقامت په اړه خبر شي. ده به ټولو ته د يوه پخواني پوځي په وقار ويل:

د بابل دېوال به تر اخيره ستاسې ساتنه وکړي!

جګړه درې اونۍ او پنځه ورځې ببله وقفې او په ټول زور روانه وه. د ده زامې به هله تېنګې سره ورتلې او ځېره به يې لا ګونځې کېده چې د ټپيانو په وينو لوند خيشت دالېز به د بې شمېره تلونکو او راتلونکو سرتېرو تر لړزاندو پښو لاندې په مټ[1] بدل شو. هره ورځ به د دېوال بېخ ته د يرغلګرو يو خروار مړي کوټه کېدل چې د شپې به يې ملګرو وړل او ښخول.

د خلورمې اونۍ پنځمه شپه وه چې د جنګ چيغې کمې شوې. کله چې د رڼا لومړۍ وړانګې دښت روښانه کړ، د پيره دارانو سترګې د پر شا تمبېدونکو سپاهيانو د دوړو پر اوريځو ولګېدې.

د مدافعانو له مريو لويې چيغې راووتې چې د هر چا يې په مانا سر خلاص وو. د دېوال تر شا پرتو اندېښمنو ځواکونو هم ورسره بدرګه کړې. دغه چيغې به لارو کوڅو کې غوړونو ته ورسېدې او د يوه توپان غوندې په ټول ښار کې خپرې شوې.

خلکو له کورونو دباندې رامنډې کړې. لارو کوڅو کې ګڼه ګوڼه شوه. په ستونو کې د اونيو-اونيو بند ډار د خوښيو په کريغو بدل او دباندې راووت. د بل معبد د دنګ څلي پر څوکه د سوبې مشال ولګېد او شين دود يې اسمان ته په ختو شو چې د بريا پيغام تر ليرو-ليرو سيمو ورسوي.

---

[1] خاوري، دوړي.

د بابل دېوالونو يو ځل بيا هغه لوی او بدنيته غليم پر شا څغلولی وو چې غوښتل يې زېرمې يې ولوټي، پر اوسېدونکو يې تېری وکړي او غلامان يې کړي.

بابل ښار پېړی-پېړی څکه ژوند وکړ چې ډېره کلکه ساتنه يې کېده. له دې پرته يې تمدن دوام نشو کولای.

د بابل دېوالونه محافظت ته د انسان د اړتيا يو مثال بللای شو. له خونديتوب سره مينه د انسان په خټه اخښل شوې او دا غريزه نن هم د پخوا غوندې څواکمنه ده، مگر اوسمهال موږ د خپل خونديتوب لپاره غوره او پراخې لارې-چارې پيدا کړي دي.

اوسمهال کولای شو د بيمې د مظبوطو دېوالونو تر شا او د سپما او ډاډمنو پانگونو تر سايوان لاندې د ناځاپي پېښو پر وړاندې ځانونه خوندي کړو.

له کافي امنيت پرته ژوند نشي کېدای.

Scanned by CamScanner

# بابلې اوښ پلورونکی

انسان چې څومره وړی کېږي، هغومره يې ذهن روښانه او د خوړو له بوی سره حساسېږي.

د آزور زوی تاکارد هم په همدې عقيده وو. له دوو ورځو راهيسې يې د شي څکه نه وه کړې، يوازې يې دوه انځر د يوه بڼ د دېوال له سره راغلا کړي او خوړلي ول. د دربيم شکولو ته يې ځان جوړاوه چې يوه قهرېدلې ښځه پر راوتلې او د کوځې تر پايه يې څغلولی وو. د هغې تېزو او بونګنو چيغو يې تر اوسه غوږونو کې ازانګې کولې. دا ګړی بازار کې روان وو، هغو ټوکريو ته يې کتل چې کليوالو ښځو مېوې پکې پلورلې او سره له دې چې هغو مېوو سترګکونه ورته وهل، خو د هغې ښځې د غوږچاودونکو نارو خاطرې يې تلولی[1] ګوتې له دې کاره راګرځولې.

تر دې وړاندې يې هېڅکله دې ته پام نه وو کړی چې بازار ته راوړل کېدونکې خوراکي توکي څومره خوندور بوی لري. پر لار يوې مسافرخانې ته وروګرځېد او يو ګړی يې د ډوډۍ خوړلو د سالون مخې ته ايسته و دوري شو. تمه يې دا وه چې ګوندې کوم شناخته-مناخته پر پېښ شي، يوه ميسي سيکه په پور ځنې واخلي او د مسافرخانې چلوونکی په خوشحاله کړي. پوهېدی چې که پيسې ورښکاره نکړي، نو له ډېر بېخونده چلند سره به مخ شي.

په همدې سوچونو کې ورک وو چې نابېره له داسې سړي سره سترګه په سترګه شو چې يوه ذره ښه يې هم نه ترې راتلل. د هغو شناخته ګانو له ډلې چې ده واړه-واړه پوررونه ځنې کړي ول، يو هم اوښ پلورونکی دباسير وو. نوموړي تر ټولو پوروړو ډېر تنګاوه، څکه پور يې ورځنډولی وو.

د ده په ليدو د دباسير څېره سره ولاړه:

[1] نارامه.

آ ها! دا خو هماغه تاکارد دی چې تېره میاشت یې دوې میسي او تر هغه مخکې یوه د سپینو زرو سیکه راڅخه پور کړې وه. ما پر اسمانه لټاوه، خدای پر ځمکه په لاس راکړ. په تېره بیا نن مې سخت لاس بند دی. څه پکې وایې زویه؟

تاکارد سور واوښت او ژبه یې ونښتله. تشې ګېلې د دې توان ځنې اخیستی وو چې له بې شرم دباسیر سره مه کوه ایله که[1] ووایي. تر شونډو لاندې یې وویل:

ډېر ډېر له بده مرغه نن نه میسي سیکه لرم او نه هم د سپینو زرو.

دباسیر لاس اخیستونکی نه وو:

ښه، نو ورشه پیدا یې کړه. یو څو د میسو او یوه د سپینو زرو سیکه دې ځان وخوري؛ دا څه کیسه لري؟ خامخا دې دومره له وسه پوره ده چې د خپل پلار د زاړه ملګري هغه پور ور ادا کړې چې تا ته یې په ډېره تنګلاسی کې درکړی وو.

- بدقسمتی مې دومره کار راکړوپ کړی دی چې دا غوښتنه دې په هېڅ وجه نشم درپوره کړم.

- بدقسمتي؟ اوس غواړې د خپلو کمزوریو پړه پر خدای واچوې؟ بدقسمتي یوازې د هغو کسانو لمن نیسي چې تر پور پرې کولو زیات د پورولو په لټه وي. راځه ځوانه! زه وږی یم. د ډوډۍ خوړلو پر وخت به یوه کیسه هم درته وکړم.

تاکارد که څه هم د دباسیر له بېشرمۍ تر پزې راغلی وو، خو په دې بلنه کې لږ تر لږه د ده د خوښې سالون ته د ننوتلو چانس پروت وو.

دباسیر تر لاس نیولی د سالون یوې ګوښې ته بوت. هلته پر یوه واړه فرش سره کېنښاستل. د هوټل شاګرد په موسکو شونډو ورته راغی. دباسیر په خپله همېشنۍ بېباکۍ ورته وویل:

---

[1] مه کوه ایله که – لفظي شخړه، بګو مګو.

اې پنډې شرمښکې! ما ته په لیعاب[1] کې یو ډوب د پسه ورون، ښه ډېره وچه ډوډۍ او شینګیا راوړه چې له ډېرې لوږې خولې لګوم. دغه ملګری هم مه هېروه؛ یوه یخه کوزه اوبه ورته راوړه. نن تودوخه لږ زیاته ده.

د تاکارد زړه ولوېد او له ځان سره یې وویل: ایا باید کښېنم، یوازې یخې اوبه وغړپم او د ده ننداره وکړم چې د پسه بسته ورون راته ونغرتي[2]؟

چوپ پاته شو . د ویلو لپاره یې څه لرل هم نه.

خو دباسیر بیا چوپتیا نه پېژندله. په ورینه ټنډه موسکی وو او هلته ناستو نورو مشتریانو ته یې سر خوځاوه. نژدې ټولو یې دی پېژاند. اخیر یې وویل:

کیسه داسې ده چې یو وخت یو مسافر تازه د اورفه په نوم یوې سیمې څخه راستون شوی وو. ویل یې د هغه ځای یو شتمن داسې نازکه ډېره لري چې شیان ځنې لیدل کېدای شي. هغه دغه ډېره د کور په یوه کړکۍ کې ایښې ده چې د باران مخه په ونیسي. رنګ یې ژړ دی. هغه مسافر دا هم ویل چې یو ځل یې له هغې څخه دباندنۍ منظرې ته وکتل. دنیا ښخې بل ډول ترې ښکارېده. اې تاکارده! په دې اړه ستا نظر څه دی ایا دا هم شونې ده چې د انسان سترګې دنیا په بل رنګ ووینې؟

ځوان چې حواس یې تر ډېره بریده پر سترخان پراته د پسه په چاغ ورون کې ول، وویل:

هو، ویلای شم چې...

دباسیر یې خبرې ورپرې کړې او ویې ویل:

پوهېږم چې دا کیسه رښتیا ده، ځکه یو ځل ما خپله هم دنیا له رښتیني رنګه بدله او په بله بڼه لیدلې ده. دا چې ځنګه مې وکولای شول بېرته یې په خپل اصلي رنګ ووینم، یو داسې داستان دی چې باید درته تېر یې کړم.

یوه مشترې، ورو غوندې خپل د سترخان ملګري ته وویل:

---

[1] ښوروا.

[2] نغرتل: تر ستوني تېرول. دغه اصطلاح د منفي احساساتو بیانوونکې ده او هغه وخت استعمالېږي چې متکلم د مخاطب په اړه کرکجن یا له ملنډو ډک احساس ولري.

Scanned by CamScanner

(دباسیر کیسه کوي.) او له دې سره یې سترخان د دوی خوا ته وروڅکاوه. نورو مشتریانو هم خپل خواږه ورنژدې کړل او د نیمې دایرې په بڼه پر راوڅرخېدل. هغوی د لوښو په کړپ و کړوپ د تاکارد حواس سره ورپاشل او کله ناکله به یې د هډوکو د زیښنلو چور و پور هم په اوراوه. یوازې همدی بې ځړږو ناست وو. دباسیر ښله دې چې یو مړ ست هم ورته وکړي، خوړلو ته کش وو او ان پر څمکه د پرتې کلکې ډوډۍ ست یې لا هم نه وو ورته کړی. نوموړي په داسې حال کې چې د پسه د ورون یوه لویه ټوټه یې خولې ته نیولې وه، وویل:

کومه کیسه چې اوس یې درته کوم زما د ځوانۍ د وختونو او هغه مهال ده چې لا د اوښانو سوداګر شوی نه وم. ایا تاسې خبر یاست چې زه یو وخت په سوریه کې مریی وم؟

په ناستو کسانو د حیرانتیا یوه زمزمه ګډه شوه. دباسیر یې په اورېدو د خوښۍ احساس وکړ. د پسه پر ورون یې یو بل برید هم ښخ کړ او خبرې یې وغځولې:

د ځوانۍ په پیل کې مې د پلار کسب (موچیتوب) ته لاس واچاوه، دوکان کې مې کار ورسره کاوه او هماغه وخت مې واده هم وکړ. دا چې نوکار او بې تجربې وم، د عاید خونده مې هم نه وه او ایله مې د ځان او مېرمنې ضروري اړتیاوې په پوره کولای شوې. داسې شیانو ته مې هوا کېده چې تر وس مې بر ول. ورو-ورو مې پام شو چې دوکاندارانو باور راباندې کاوه او له بدپورۍ[1] سره- سره یې مالونه په پور راکول.

د خامۍ له وجې مې په دې سر نه خلاصېد چې پر باد کرلی فصل د توپان خوراک ګرځي او هر څوک چې تر خپل عاید زیاتې پیسې مصرفوي پایله به یې له سرخوږي، تنګلاسۍ او شرمیندګۍ پرته بل څه نه وي. هغه وو چې د هوس لومې ته ورولوېدم او بې سنجشه د ځان، مېرمنې او کور لپاره د ښکلو جامو او سامانونو رانیولو ته اړم شوم. بده یې لا دا چې د دغو شیانو لپاره د پور شویو پیسو د بېرته پرې کولو غم مې هم نه کاوه.

---

[1] بدپوري – پور خندول.

Scanned by CamScanner

د خپل کسب په زور مې تر وسه-وسه د پوروونو ادا کولو هڅه کوله. تر یو وخته مې وضعیت هم برابر وو او کومه ځانګړې ستونزه مې نه لرله. خو اخیر دې پایلې ته ورسېدم چې په دومره کم عاید ژوندني چارې سمبالول او زاړه پوروونه پرې کول ګران کار دی. پوروړي سیوري غوندې راپسې تاوېدل. ژوند مې سخت تریخ شو. له ناچاریه مې له ملګرو نور پوروونه وکړل، مګر هغه مې هم بېرته ورنکړای شول. ورو-ورو کیسه تر بد بتره شوه. مېرمنې پرېښودم او خپل پلار کره ولاړه. ما هم له بابله د وتلو او کوم بل ښار کې د بخت ازمایلو پرېکړه وکړه.

دوه کاله مې ژوند ډېر له کړاوونو او ناکامیو ډک وو. له کاروانونو سره به له یوه ښاره بل ته تلم او د سوداګرو چوپړ به مې واهه. همدغو کاروانونو کې مې له ځینو لاره وهونکو سره وپېژندل. هغوی به بیابانونو او دښتو کې بې وسلې کاروانیانو ته لار نیوله. دغه کړنې زما سره-چې د یوه نېک پلار زوی وم- نه ښاییدې؛ مګر هغه مهال مې نړی ته له یوې رنګینې هندارې کتل او دې ته مې هډو پام نه وو چې تر کومه حده لوېدلی وم.

د لوټماری لومړی تجربه مې بریالۍ وه او ډېر سره زر، وریښم او نور ارزښتناک شیان په لاس راغلل چې جي نیر ته مو یووړل او ټول مو وبازل.[1]

دویمه پلا بخت یاري ونکړه، ځکه د قافلې تر لوټلو وروسته د یوې ځایي قبیلې نېزه ویشتونکو برید راباندې وکړ. وروسته خبر شوو چې کاروانونو د هغې دښتې د امنیت ساتلو لپاره هغوی ته پیسې ورکړې وې. بریدګرو دوه تنه راپکې مړه کړل او نور ژوندي پاته یې دمشق ته بوتلو، لخ-لپړ یې ودرولو او د مریانو په توګه یې خرخ کړو.

زه د یوې شامي قبیلې مشر د سپینو زرو په دوو سیکو رانیولم. وېښته یې را درلود. دا چې ډېر بېباکه ځوان وم، نو دغو ټولو پېښو ته مې د ملنډو او جالبو

---

[1] بازل - بایلل، له لاسه ورکول.

ماجراوو په سترگه کتل. بادار مې څلور مايني لرلې. نبغ يې هغوی ته وروستلم چې که يې خوښ شوم، د خواجه په توگه به مې ورسره وساتي.

همدغه وخت مې سد خلاص شو چې تر کومې کچې خوار و زار شوی يم. هغوی صحرايي، وحشي او جنگره وگړي ول. زه يوه بازيچه ور۔ه ښکارېدم. نه مې د دفاع وسيله لرله او نه د تېښتې لار.

د هغو څلورو مېرمنو مخې ته په ترهېدلې بڼه ودرېدم چې په خير-خير مې وگوري. هېڅ نه پوهېدم چې د زړه سوي تمه څنې ولرم کنه. لومړی مېرمن يې سيرا نومېده او تر نورو لږ زړه وه. سړه او بېباکه څېره يې لرله، د خبرو انداز يې وچ وو. هېڅ داسې څه مې نه ترې واورېدل چې د پښېمانۍ او تسليت څرک دې پکې وي.

دويمه يې ډېره ښکلې او مغروره ښځه وه. په بېباکۍ او داسې انداز يې راته وکتل لکه د خاورو يوه چنجي ته چې گوري. دوو نورو پرله پسې راباندې خندل؛ لکه دا هر څه چې يوه ډرې وي.

هغه څو دقيقې لکه يوه پېړۍ دومره راباندې اوږدې شوې. څلورو واړو ښځو د يوې او بلې خولې ته کتل او نه يې غوښتل په پرېکړه کولو کې تر هغې بلې وړاندې شي. اخير سيرا په سړه لهجه پر خبرو راغله او ويې ويل:

خواجه گان مو بېخي ډېر، مگر اوښبانه مو کم دي او هغوی هم په خپلو کارونو سم نه پوهېږي. ان همدا نن هم داسې يو باوري مريی نشته چې ما د خپلې ناروغې مور پوښتنې ته بوزي. له دې غلام څخه وپوښتئ چې اوښپالنه يې زده ده کنه؟

بادار مې راڅخه وپوښتل:

په اوښانو دې سر خلاصېږي؟

په داسې حال کې چې د خپلې لبوالتيا ښودلو هڅه مې کوله، ومې ويل:

اوښان گونډه وهلو ته مجبورولای شم، بارولای يې شم، اوږده-اوږده سفرونه په کولای شم او که اړتيا وي څينې نور کارونه هم په کولای شم.

خاوند مې وويل:

دا مریی په خبرو کې سپین سترگی دی.
ورسره جوخت یې سیرا ته کړل:
که دې خوښه وي د اوښبه په توگه یې درسره ولگوه.

هماغه ورځ یې سیرا ته وسپارلم. هغې هم په یوه لیرې سفر د خپلې مور کره روان کړم. پر لارې مې له موقع گټه واخیسته او پر ما د نوموړې د مهربانېدو له امله مې مننه څنې وکړه. په بغل کې مې دا هم ورته وویل چې زه له لویه سره غلام نه یم زیږېدلی او د یوه خپلواک سړي زوی یم. پلار مې په بابل ښار کې بوټ جوړوونکی دی. د خپل ژوند څینې نورې کیسې مې هم ورته وکړې. ویې ویل:

پر تا خپلو کمزوریو دومره زور کړی چې تر دې ځایه یې رارسولی یې. ته څنگه ځان ازاد بولې؟ د چا چې اروا غلامه وي، هغه هېڅکله ازادېدلای نشي. دغسې خلک سره له دې چې خپلواک پیدا شوي وي، بیا به هم یو نه یو وخت غلامېږي او د اوبو په شان به یوې سوړې ته ورلوېږي. خو د چا چې بیا روح خپلواکه وي، له هر څومره بدمرغیو سره-سره به په خپل کور و کلي کې درووند او عزتمن ژوند لري.

یو کال مې غلامي وکړه او له نورو مریانو سره گډ واوسېدم، مگر تر پایه د هغوی په رنگ ونه رنگېدم. یوه ورځ سیرا راڅخه وپوښتل:
د استراحت پر مهال ټول مریان سره غونډېږي او یو له بله ټوکې ټکالې سره کوي، ته ولې پر خپله بوریا[1] بېل او یوازې کښېنې؟
ورته ومې ویل:
ستا د هغو خبرو په اړه چورت وهم. فکر نه کوم زما اروا دې غلامه وي او دا چې ځان د هغوی له ډلې څخه نه گڼم، نو ورسره کښېنم هم نه.
په ټیټ اواز یې راته وویل:

---

[1] بوریا - کېږه.

زه هم باید له نورو څخه بېل ژوند وکړم. بادار مې د جهیز د ډېروالي له امله واده راسره وکړ. له زړه یې نه یم خوښه. هره ښځه غواړي چې پر مېړه گرانه وي. دا چې وچه یم او اولاد مې نه کېږي، نو تل یوازې اوسم. که نارینه وای، له غلامۍ مې ځان خلاصاوه. زموږ د قبیلې د دود له مخې باید ښځې د مریيتوب ژوند ولري.
ما ناځاپه ځنې وپوښتل:
اوس دې زما په اړه نظر څه دی، اروا مې خپلواکه ده که غلامه؟
د نیغ څواب راکولو پر ځای یې راځخه وپوښتل:
ایا غواړې په بابل کې ټول دربانديې پورونه ادا کړې؟
- هو! ولې نه، مگر چل یې نه راځي.
- که کلونه-کلونه همداسې لاس تر زنه کښېنې او د ادا کولو هېڅ هڅه یې ونکړې، نو په تا کې د یوه ټیټ ذاته غلام له روح پرته بل هېڅ شی نشته. څوک چې ځان ته په درنه سترگه نه گوري، هغه خپلواک نه دی او څوک چې بیا خپل پورونه په عزت سره نه پرې کوي، د ځان سپکاوی کوي.
- زه خو اوس دا دی په شام کې بندي او غلام یم، څه مې له وسه پوره دي؟
- بس همدلته دې خپلې غلامۍ ته ادامه ورکړه، ځکه له یوه کمزوره او بې غیرته انسان څخه همدا تمه کېږي.
په تندۍ مې ورته وویل:
کمزوری نه یم.
- نو ثابته یې کړه!
- څنگه؟
- ایا ستاسې پاچا په خپل ټول وس او امکاناتو له دوښمن سره نه جنگېږي؟ ستا پورونه هم ستا دوښمنان دي. همدغه دوښمنان ول چې ته یې له بابله را ورک کړې. بېباکي دې ورسره وکړه هغوی درته ډېر او قوي شول. که په مېړانه ورسره جنگېدلای پر بریالی کېدې او د خپلو ښاریانو په منځ کې به دې دروند ژوند

لرلای، مگر په تاکې له هغوی سره د مبارزې اروا نه وه. اوس دې دا دی غرور مات شوی او د شام په یوه غلام بدل شوی یې.

د هغې د بې رحمه تورونو په اړه مې زښت ډېر فکر وکړ، ډېر داسې شیان مې ذهن ته راغلل چې له ځانه په دفاع کې یې ووایم او ثابته کړم چې له زړه غلام نه یم. خو وړ موقع په لاس رانغله. درې ورځې وروسته د سیرا مزدوره راپسې راغله او هغې ته یې وروستلم.

سېرا راته وویل:

مور مې بیا سخته ناروغه ده. ورشه د مېړه له اوښانو څخه مې دوه دانې رابېل کړه او ښې ډېرې د اوبو بوشکې او خوراکي توکي پر بار کړه چې اوږد سفر مو په مخ کې دی. مزدوره به ټول اړین شیان در برابر کړي.

ما هم اوښان راخلاص کړل. خو د سفر دغو پراخو تیاریو ته حیران وم، ځکه د هغې د مور تر کوره تر یوې ورځې کمه لار وه. مزدوره پر شاتني اوښ کښېناسته او ما د خپلې خاوندې اوښ تر پړي ونیو. چې د مور کور ته یې ورسېدو هوا تیاره شوې وه. سیرا مزدوره رخصت کړه او ما ته یې وویل:

اې دباسیره! په تاکې د یوه خپلواک انسان روح ده که د یوه غلام؟

په غوڅه لهجه مې ورته وویل:

د یوه خپلواک انسان روح!

- اوس د خپلې دغې دعوې د زباتولو موقع په لاس درغلې ده. بادار دې په ساتېریو بوخت دی او مزدوران یې هم ټول ګنګس و سرناخلاصه دي. دغه اوښان درسره واخله او وتښته. په دې کڅوړه کې مې د خاوند ځینې جامې درته ایښې دي؛ تر اغوستلو وروسته به دې څوک چنداني ونه پېژني. زه به ووایم چې ستا له خوا د اوښانو د غلا کولو پر مهال له خپلې ناروغې مور سره بوخته وم.

ورته ومې ویل:

ستا اروا د یوې ملکې اروا ده؛ زه به دې داسې وساتم لکه زړه.

هغې ځواب راکړ:

Scanned by CamScanner

د هغو ښځو خیر نشته چې د نورو وطنونو په خلکو کې خپل بخت لټوي. ورځه په مخه دې ښه. لار هم اوږده او هم بې اوبو ده. خدای دې پر دې وچ او ناپایه بیابان ساتندویه اوسه.

نور ټینګار ته اړتیا نه وه. مننه مې څنې وکړه او د شپې په تیاره کې پر خپله مخه وخوځېدم. یومخ نابلده وم. یوازې مې تر بابله د غځېدلې لارې یو تت تصویر په ذهن کې درلود، خو له دې سره مې هم په ډېره زړورتیا دښته په خوله ورکړه او د غونډیو پر لور ور هې شوم. پر یوه اوښ زه سپور وم او بل همداسې په توکو بار راپسې وو. هغه شپه تر سهاره او دا بله ورځ تر ماښامه پر لارې وم. تادي مې وه، ځکه له بادار ځخه د غلا له شوم برخلیکه خبر وم.

دا بله شپه یوه وچ، شاړ او شنډ دښت ته ورسېدم. تېرو تیرو یې زما د وفادارو اوښانو پښې ور ژوبلې کړې وې؛ چټکتیا یې ورو-ورو سوکه کېده. چارچاپېر مې د انسان یا بل ژوندي سري څرک ونه لید او سر مې خلاص شو چې ولې ان حیوانان لا څنې تللي ول.

تر هغه وروسته مې سفر دومره کړاوجن او سخت شو چې د ژوندي پاتېدو امکان مې خورا کم وو. ورځې-ورځې مې مزل وکړ. اوبه او خواړه مې خلاص شول. لمر په ډېره بې رحمۍ خپلې سوځوونکې وړانګې راباندې پاشلې. د نهمې ورځې په پای کې د اوښ له ملا څخه لاندې راولغړېدم. ځان مې دومره کمزوره احساساوه چې بېرته پر اوښ د سپرېدو نه وم. خپل مرګ مې یقیني وباله.

پر ځمکه اوږد وغځېدم. سملاسې مې سترګې سره ورغلې. د سهار تر لمرخاتو ویده وم. تر رابیدارېدو وروسته راولاړ شوم، شاوخوا مې وکتل، سهارنی یخ شمال مې پر مخ ولګېد. اوښان لږ ها خوا خوار و زار پراته ول. شاوخوا مو له ریګو، ډبرو او نورو بې ګټې شیانو ډکه دښته پلنه وه چې نه د اوبو څرک پر وو او نه هم د انسان یا اوښ د خوراکي توکو.

له ځان سره مې وویل:

ایا ژوند مې په همدې خاموشه دښته کې پای ته ورسېد؟

Scanned by CamScanner

همدغه شېبه مې په زړه کې د يوې رڼا شتون احساس کړ. داسې حالت مې مخکې هېڅکله نه وو تجربه کړی. نور مې جسم يو ډول راته بې ارزښته شو. سره له دې چې شونډې مې وچې، چاودلې او په وينو لړلې وې، ژبه مې يو ډانګ ولاړه وه او له ډېرې لوږې مې خېټه کې سپيو غاپل بيا هم له پرونيو سختيو او رنځونو يومخ بې پروا شوی وم.

د دښت ليرو څنډو ته مې وکتل او بيا مې له ځانه وپوښتل:

ايا په ما کې د يوه غلام روح ده که د يوه خپلواک انسان؟

راته څرګنده شوه چې روح مې خپلواکه ده؛ که غلامه وای اوس به وخته لا له تلاښه لاس پر سر شوی او پر دې بيابان به مړ پروت وای او همدا د يوه تښتېدلي مريي برخليک وو. خو که رښتيا هم د يوه خپلواک انسان روح راپکې چلېږي، نو بايد بابل ته د ځان رسولو لار پيدا کړم، هلته پر ما د باورمنو خلکو په لټه شم او مېرمنې ته مې نېکمرغي ډالۍ کړم، څکه رښتينې مينه يې راسره لرله او زما مور و پلار يې خوښ ساتلي ول.

د سيرا خبرې مې ياد وې چې راته ويې ويل:

« ستا پورونه ستا دوښمنان دي. همدغه دوښمنان ول چې ته يې له بابله را ورک کړې.» هو! همداسې وه. ولې نر غوندې په خپل هيواد کې پاته نشوم؟ ولې مې مېرمن پرېښوده چې د پلار کره ولاړه شي؟

دغه وخت يوه عجيبه پېښه وشوه؛ ټوله نړۍ مې تر سترګو بل ډول وايسېده. ته وا تر هغې شېبې پورې مې دنيا ته په رنګينه ډبره کې کتل. لکه يودم چې مې پر سترګو هواره پرده ليرې شوې او د ژوند رښتيني ارزښتونه مې ليدلي وې.

په بيابان کې مړينه؟ نه، دا نه شايي! پر ډېرو اړينو کارونو مې له يوې نوې زاويې بياکتنه وکړه او ومې وويل: لومړی بايد بابل ته ځان ورسوم او له خپلو پوروړو سره ووينم. هغوی ته بايد ووايم چې تر يو عالم سرګردانيو او بدمرغيو ګاللو وروسته راګرځېدلی يم او که خدای کول ژر تر ژره به د ټولو غاړه وروباسم. بل به مې مېرمنې ته يو کور ورجوړ کړم او داسې انسان به شم چې

مور و پلار راباندې ووياړي. پورونه که مې دوښمنان ول، پوروړي خو مې بيا ملګري ول او پر ما او زما پر خبرو يې باور کړی وو.

په زحمت له ځايه پاځېدم. دا ګړی لوړې او تندې هېڅ ارزښت نه راته درلود. يوازې مې بابل ته د رسېدو پر لار د پېښو شويو حادثو يوه برخه بلله. دننه مې د يوه داسې خپلواک انسان روح په ځپو وه چې د غليمانو د ماتولو او دوستانو د خوشحالولو هوډ يې کړی وو. په خپله دې ستره پرېکړه ډېر خوښ وم.

کله چې مې پر اوښانو په لوړ اواز هئ کړل په پېژيو سترګو کې يې يوه نوې رڼا وځلېده. په ډېر زحمت پر پښو ودرېدل او په حيرانوونکي زغم مخ پر شمال وخوځېدل. دننني ځواک مې راته ويل چې بابل ښار بايد همدغې خوا ته پروت وي.

يو وخت مو اوبه وموندلې. ابادو سيمو ته ورسېدو. هلته د شنو وښو او تازه مېوو کمی نه وو. د بابل جهت مو هم پيدا کړ، ځکه د يوه خپلواک انسان اروا په ژوند کې د شته ځنډونو او ستونزو د ليرې کولو په لټه وي، خو د يوه غلام اروا بيا وايي: (زه يوازې يو مريی يم او هېڅ کار مې له وسه نه دی پوره!)

اې تاکارده! ايا تشې معدې او وړې خېټې دې ذهن تر پخوا ډېر نه دی در روښانه کړی؟ ايا پر داسې يوه لار پل ايښودلو ته چمتو يې چې هدف يې ځان ته په درنه سترګه کتل وي؟ ايا کولای شې نړۍ په خپل اصلي رنګ ووينې؟ ايا زړه دې غواړي خپل ټول درانه پورونه په عزت ادا کړې او بېرته له ځانه د بابل ښار هغه پخوانی دروند او ښاغلی اوسېدونکی جوړ کړې؟

د ځوان سترګې له اوښکو راډکې شوې. پر ګونډو شو او وې ويل:

تا ما ته يو نوی ليد راوباخښه او اوس داسې احساسوم چې دننه مې د خپلواکی ارواپه ځپو ده.

يوه اورېدونکي له دباسيره وپوښتل:

بابل ته چې راستون شوې، بيا دې دا شتمني څنګه پيدا کړه؟

ده ځواب ورکړ:

هر ځای چې هوډ او اراده وي، يوه لار خامخا پيدا کېږي. دا چې ما غوڅه پرېکړه کړې وه، د يوې لارې پيدا کولو په لټه شوم. لومړی مې له هغو خلکو سره وليدل چې پورورړی يې وم، بخښنه مې ترې وغوښته او يو څه وخت مې ځنې واخيست. ډېرو يې په ورين تندي ومنله، ځينو يې سپکې-سپورې راته وويلې او ځينو نورو يې بيا د مرستې وړانديز راته وکړ. يوه کس يې په رښتيا مرسته راسره وکړه. نوم يې ماتون وو او صرافي يې کوله. دا چې نوموړی راخبر وو چې شام کې مې اوښپالنه کوله، نو د نباتور په نوم د اوښانو يوه سوداګر ته يې ولېږلم. دغه سړي ته هغه مهال پاچا د ډېرو اوښانو رانيولو امر کړی وو چې په لښکرکښيو کې کار ځنې واخلي. د اوښانو په اړه پوهه همالته په ښه راغله. ورو-ورو مې ټول پورونه پرې کړل. تر هغه وروسته مې غاړه هسکه شوه او ځان مې د باورې او درنو خلکو په ډله کې احساس کړ.

دغه مهال د دباسير يو ځل بيا خپلې ډوډۍ ته پام شو، اواز يې دومره لوړ کړ چې په پخلنځي کې واورېدل شو. هوټلي يې مخاطب کړ او ورته ويې ويل: کاوسکوره! اې لټ چنجيه، خواږه مې ساړه شوي دي. هل يو څه تازه غوښه راوړه. د تاکارد لپاره هم يو ښه غټ لوښی درسره راوړه چې پلار يې زما زوړ اشنای دی، له ډېرې لوږې خولې لګوي او زما له غذا يې سترګې هډو اوړي نه.

د دباسير کيسه همدلته خلاصه شوه. نوموړي هله خپله اروا وپېژنده چې له حقيقت سره مخامخ شو. هغه حقيقت چې تر ده وړاندې پوهو او هوښيارو خلکو موندلی او کارولی وو.

دغه حقيقت د پېړيو-پېړيو په اوږدو کې د خلکو له مخې خنډونه ايسته کړي او د بريالېتوب لار يې ورته پرانيستې ده. په راتلونکې کې به هم همداسې وي او هر چا چې دغه جادويي ځواک وپېژاند، هوښيار دی او بايد کار ځنې واخلي. دا ډالۍ د هغو ځانګړو کسانو په برخه ده چې دغه کرښې لولي او په مانا يې سر خلاصوي.

د هوډ په زور هر څومره بنده او سخته لار خلاصېدای شي.

Scanned by CamScanner

## د بابل ختېنې لوحې

سنټ سویتین کالج
نتینګهام پوهنتون
د ۱۹۳۴م د اکتوبر ۲۱مه.
د برتانیا یو پوهنیز پلاوی
پوهاند فرانکلین کالډول
ګران پوهانده:

د بابل د کنډوالو له وروستیو کیندنو څخه ترلاسه شوي پنځه ختېنې لوحې ستاسې له لیک سره یوځای راورسېدې. بې حده زیات په خوشحال شوم او ذ حکاکۍ پر ژباړه مې یې ساعتونه-ساعتونه خوندور وخت تېر کړ.

اصلاً مې باید سملاسې خوب درکولای، مګر خبره دا وه چې د لوحو ژباړې ته مې لومړیتوب ورکړ. لوحې روغې-جوړې راورسېدې. په خورا ښه ډول مو ځای پر ځای کړې وې؛ ډېره مننه.

که ته هم دلته لابراتوار کې راسره وای، پر دغو لوحو لیکلي داستان به خامخا لکه مورډ داسې خوله وازې کړې وای. انسان تل په دې تمه وي چې له تېرې هېرې ماضي څخه به د مینې او ماجرا کیسې اوري. مطلب مې د (عربو

Scanned by CamScanner

شپې[1]) ته ورته یو شی دی، لیکن دلته د دباسیر په نامه یوه داسې سړي د کړاوونو یادونه شوې ده چې غواړي خپل پوروونه پرې کړي. له دې څخه څرگندېږي چې زموږ د زړې نړی حالاتو له پنځه زاره کاله پخواني حالت سره چنداني توپیر نه دی کړی.

که څه هم دا موضوع عجیبه ده، مگر زما د زدکړیالانو په وینا پر دغو لوحو کیندل شوي شیان زما تر هغو مطالبو نوي دي چې په ټولگي کې پر ږغېږم. زه د پوهنتون د یوه استاد په توگه باید پوه سړی واوسم او په گڼو مسایلو کې عملي مالومات ولرم. خو ناڅاپه د بابل د کنډوالو له دوړو څخه یو کس راوزي او راته وایي چې څنگه هم خپل پوروونه پرې کړم او هم طلایي سیکې وگټم.

یو ډېر جالب فکر مې سر ته لار کړې ده. غواړم دغه لارښووني عملي کړم او وگورم چې ایا نن هم له دغو تگلارو گټه اخیستل کېدای شي کنه؟ ما او مېرمنې مې شروزبري پرېکړه کړې چې په دغو ختینو لوحو کې یاده شوې طرحه عملي کړو.

تا ته په تر لاس لاندې کار کې بریالیتوب او نېکمرغي غواړم او نورو همکاریو ته دې هم په ډېره لېوالتیا چمتو یم.

الفرډ.اچ.شروزبري
د لرغونپوهنې څانگه

---

[1] داسې ښکاري لکه هدف چې یې یو زر او یوه شپه داستان وي.

Scanned by CamScanner

# لومړۍ لوحه

اوس چې سپوږمۍ د بدر په حالت کې ده، زه دباسیر چې تازه له شامه راستون شوی یم، د خپلو یو عالم پورونو اداکولو هوډ لرم او غواړم د خپل ښار بابل په درنو خلکو کې وشمېرل شم. دلته پر دغو ختېنو لوحو خپله کیسه لیکم تر څو هم تلپاته شي او هم مې موخې ته د رسېدو پر لار مرسته او لارښوونه وکړي.

زه د خپل ښه ملګري صراف ماتون له ځيرکو مشورو څخه په ګټه اخیستنه هوډ لرم پر یوه داسې تاکلې تګلار ولاړ شم چې د نومورې په وینا له برکته یې هر سړی هم خپل پورونه پرې کولای شي او هم خپله شتمني ډېرولای شي.
دا درېيو موخو ته د رسېدو پلان دی چې زه د زړه له تله پر مېين یم.
لومړی دا چې دغه پلان مې راتلونکې رانېکمرغه او له خوښیو مالامال کړي.
پر همدې بنسټ نو باید د خپل عاید لسمه برخه د ځان لپاره وساتم، ځکه په دې اړه د ماتون خبره خورا پرځای ده. هغه وایي:
پر هغه کس خپله کورنۍ ګرانه او پاچا ته وفادار دی چې په خپله کڅوړه کې د سرو او سپينو زرو اضافه سیکې لري.

nned by CamScanner

د چا په همیانۍ کې چې له یو څو میسي سیکو پرته بل څه نه وي د خپلې کورنۍ او پاچا دواړو پر وړاندې بېباکه بلل کېږي.

خو هغه کس بیا چې کڅوړه یې کورټ تشه وي، له خپلې کورنۍ سره ظلم او د پاچا پر وړاندې خیانت کوي، ځکه زړه یې له مینې او رڼا بې برخې دی.

نو که څوک د بریا په لټه وي، باید په همیانۍ کې یې سیکې وشرنګېږي او په زړه کې له کورنۍ سره مینه او له پاچا سره وفاداري احساس کړي.

دویم باید دا پلان زما د هغې مهرمنې اړتیاوې ورپوره کړي چې د وفادارۍ له مخې یې د پلار کور پرې ایښی او زما کره راغلې ده. په هغې باید مناسبې جامې واغوندم، ځکه د ماتون په خبره له خپلې ماینې سره وفا د نارینه په زړه کې د ځاني درنښت احساس پیدا کوي او موخو ته یې د رسېدو هوډ و ځواک ور زیاتوي.

زما د عاید له لسو څخه اووه برخې باید د ټاټوبي پر برابرولو، جامو او یو لړ نورو اضافه شیانو ولګېږي تر څو ژوند مو هم له خونده بې برخې نشي. مګر ماتون ټینګار کوي چې پر یادو څیزونو باید تر دې زیاتې پیسې خرڅې نکړل شي. د دغه پلان بریالیتوب له همدې ټکي سره تړلی دی. زه باید د عاید په همدومره اندازه خپلې چارې سمبال کړم، هېڅکله تر دې اضافه ونه لګوم او داسې شی ونه پېرم چې تر دغې اندازې دباندې وي.

Scanned by CamScanner

## دويمه لوحه

درېیم دا چې باید له خپل عاید څخه ټول راباندې پورونه ادا کړم.

نو باید د هرې میاشتې په پای کې د عاید له لسو څخه دوې برخې پر هغو کسانو په مساوي ډول ووېشم چې پر ما یې باور کړی او زه یې منندوی یم. دا لړی به تر هغو روانه وي تر څو مې قرضونه یومخ ادا کېږي.

دلته د هغو کسانو نومونه او راباندې پورونه کیندم:

فهرو، اوبدونکی، ۲ د سپینو زرو او ٦ د میسو سیکې.

سین جار، څوکۍ جوړوونکی، ۱ د سپینو زرو سیکه.

احمر، ملګری، ۳ د سپینو زرو او ۱ د میسو سیکه.

زنکار، ملګری، ۴ د سپینو زرو او ۷ د میسو سیکې.

آسکامیر، ملګری، ۱ د سپینو زرو او ۳ د میسو سیکې.

هارین سیر، زرګر، ٦ د سپینو زرو او ۲ د میسو سیکې.

دیاربکر، د پلار ملګری مې، ۴ د سپینو زرو او ۱ د میسو سیکه.

آلکاهاد، د کور څښتن، ۱۴ د سپینو زرو سیکې.

ماتون، صراف، ۹ د سپینو زرو سیکې.

بیرجیک، کروندګر، ۱ د سپینو زرو او ۷ د میسو سیکې.

(له دې وروسته لوحه شوږېدلې او نه لوستل کېږي.)

Scanned by CamScanner

## درېيمه لوحه

د دغو کسانو ټولټال ۱۱۹ د سپينو زرو او ۱۴۱ د ميسو سيکې پوروړی يم. دغه پور لار و گودر راڅخه ورک کړل، احمق شوم او مېرمن مې پرېښوده چې د پلار کره ولاړه شي. خپله مې هم کوم بل ځای د وړيا شتمنۍ پيدا کولو په هيله د خالپوڅو خاوره خوشې کړه، اما پر مصيبت واوښتم، وپلورل شوم او په غلامۍ و خوارۍ کې بند پاته شوم.

اوس چې ماتون په قسطوار ډول د پور پرې کولو چل راښودلی، پوهېږم چې له خپل افراطه راپيښه تېښته مې څومره احمقانه وه.

له ټولو پوروړو سره مې وليدل او ورته ومې ويل چې له کار پرته بله هېڅ توښه نه لرم. نيت مې دی چې د خپل عايد له لسو څخه دوې برخې په خورا

Scanned by CamScanner

رښتينولی پورونو ادا کولو ته ځانګړي کړم او تر دې اضافه مې له وسه نه کېږي. که يې راسره ومنئ د وخت په تېرېدو سره به خپله ژمنتيا درته ثابته کړم.

احمر چې ډېر ښه ملګری مې باله، پوچ-پاچ راته وويل او خواشينی ځنې راووتم. کروندګر بيرجيک تنګلاسي پلمه کوله او ټينګار يې کاوه چې د ده پور تر نورو مخکې ورکړم. آلکاهاد، د کور ښښتن، ډېر بېخونده چلند راسره وکړ او ګواښ يې وکړ چې که ژر تر ژره ټول پور ورنکړم، په غضب به مې واړوي.

پاته پوروړو مې وړاندېز په وړين تندي ومانه. له همدې امله مې د دې طرحې پر عملي کولو يقين نور هم پوخ شو او زړه ته مې تېره شوه چې د پورونو ادا کولو لپاره همدا لار په کراتو-متو تر ټسېدو غوره ده. که څه هم د ځينو غوښتنې نشم پوره کولای، خو هڅه به وکړم ټول تر يوه بريده خوښ وساتم.

## څلورمه لوحه

نن بیا سپوږمۍ بشپړه ځلیږي. ما خپل ټول وس و توان لګولی دی. نېکه مېرمن مې د پورونو د ورکړې له پلان سره موافقه ده. تېره میاشت مې نباتور ته څو اصیل او ځواکمن اوښان ور رانیولي او په بدل کې مې یې د سپینو زرو ۱۹ سیکې ترلاسه کړي دي.

دغه مبلغ مې د یادې طرحې له مخې وېشلی دی. لسمه برخه مې یې د ځان لپاره پټه کړې ده، اووه برخې مې یې له ماینې سره په ګډه د ورځنیو لګښتونو لپاره بېلې کړې دي او پاته دوې حصې مې یې د میسي سیکو په بڼه د پوروړو تر منځ په برابره توګه تقسیم کړې دي.

احمر مې ونه لید، پیسې مې یې مېرمنې ته ورکړې. بیرجیک دومره خوشحال شو چې لاسونه یې راښکل کړل. یوازې سپین ږیري الکاهاد بداخلاقي وکړه او راته ویې ویل چې چټک باید ټول پور ورکړم. ما ورته کړل چې که مې هم ګېډه مړه شوه او هم مې نورې ټولې ستونزې هوارې شوې، نو پورونه به هم ژر ادا کړای شم. نورو پوروړو مننه راڅخه وکړه او زما هڅې یې وستایلې.

نو د لومړۍ میاشتې په پای کې مې پورونه د سپینو زرو د څلورو سیکو په کچه کم شوي او دوې د سپینو زرو سیکې مې هم سپمولي دي. په دغو سیکو بل هېڅوک نه دی راشریک. زړه مې تر پخوا ډېر روښانه شوی دی.

* * *

یو ځل بیا میاشت پوره شوې ده. ډېر کار مې کړی دی، مګر ګټه مې زیاته نه ده. یوازې د یو څو اوښانو پر پلورلو بریالی شوی یم. عاید مې یوازې یوولس د سپینو زرو سیکې دي. زه او مېرمن مې تر دې دمه پر پلان روان یو. سره له

Scanned by CamScanner

دې چې نوي کالي مو نه دي رانیولي او د رنګارنګ سبزیو ساده خواړه مو خوړلي دي، خو بیا مې هم لسمه برخه سپمولې او اووه برخې مې ورځنیو چارو ته ځانګړې کړې دي.

دا چې احمر مې د پور ادا کولو تګلار لږ و ډېر وستایله. حیران شوم. بیرجیک هم همداسې وکړل. آلکاهاد غوسه شو او چې ورته ومې ویل که خپل قسط نه غواړې بېرته دې یې راوسپارې، په هماغو پیسو راضي شو. نور هم د تېر په شان خوښ ول.

* * *

بله میاشت پای ته رسېدلې او زه ډېر خوشحال یم. د ښو اوښانو رمه مې وموندله او نامیان-نامیان مې یې ټول ځنې رانیول. عاید مې ۴۲ د سپینو زرو سیکو ته ورسېد. ما او ماینې مې ډېرې اړینې جامې او بوټونه رانیول. دغه راز مو غوښې او سره کړې چرګان هم وخوړل.

څه باندې اته د سپینو زرو سیکې مې پوروړو ته ورکړې. ان آلکاهاد هم څه ونه ویل.

بېخې عالي پلان دی؛ د پورونو پر ادا کولو او پیسو سپمولو دواړو یې وتوانولو. د دغو ختمېنو لوحو له پیله تر دې دمه درې میاشتې تېرې شوې دي. هر وار مې د عاید لسمه برخه ځان ته راګرځولې ده. هره پلا ما او مېرمنې مې د عاید په اووو برخو ګوزاره کړې ده. کله ناکله دا کار ډېر ستونزمن هم وو. هر ځل مې یې دوې برخې پوروړو ته ورکړې دي.

اوس په همیانۍ کې د سپینو زرو ۲۱ سیکې لرم. ټولې مې خپلې دي. دا شی د دې لامل شوی چې هسکه غاړه وګرځم او له خپلو ملګرو سره په غرور او سرلوړۍ راشه درشه ولرم.

مېرمن مې د کور کارونه په ښه توګه سمبالوي او ښکلي کالي اغوندي. دواړه له خپل ګډ ژونده خوښ یو.

دا دومره برکتناک پلان دی چې له برکته یې یو مریی په درانه سړي بدل شوی دی.

## پنځمه لوحه

نن شپه بیا د سپوږمۍ بشپړه سترګه ځلیږي. رایاد شول چې دا ډېر وخت مې لیکل نه دي کړي. دوولس میاشتې راغلي او تللي دي. نننۍ خاطره باید په هېڅ وجه بې ثبته پرې نږدم، ځکه د پور وروستۍ برخه مې همدا نن ورکړه. نن ځان ډېر شاکر او منندوی احساسوم. نېکې مېرمنې مې په همدې مناسبت یوه لویه مېلمستیا نیولې ده؛ دا په دې چې پر خپل هوډ درېدلی یو.

له پوروړو سره مې په اخیرنۍ لیدنه کې ډېرې پېښې وشوې چې باید لږ یې په تفصیل ولیکم.

احمر د خپلې بدچلندۍ له امله بخښنه وغوښته او ویې ویل چې تر هر بل چا زیات پر ګران یم او زړه یې راسره غواړي.

Scanned by CamScanner

بوډا آلکاهاد هم د پخوا غونډې ډېره بده ګوزاره ونکړه او ويې ويل:

ته یو وخت د لندو ختو یوې تېوتې ته ورته وې او هر چا پر خپل زړه اړولای را اړولای شوې، مګر اوس د برونزو یوه داسې ټوټه درڅخه جوړه شوې ده چې یوه تېره څنډه لري. هر وخت چې دې سرو یا سپینو زرو ته اړتیا شوه ما ته راشه.

یوازې دی نه وو چې په درنه یې راته وکتل؛ هغو نورو هم ډېر ښه چلند راسره وکړ. د خپلې صالحې ماینې په سترګو کې یوه رڼا وینم. دا شی مې زړه ته ګرمي او ډاډ رابخښي.

خپل دغه بریالیتوب د هغه پلان ثمره ګڼم. همدا پلان وو چې ما یې له برکته هم خپل ټول پورونه ادا کړل او هم مې په همیانۍ کې د سرو او سپینو زرو سیکې په شرنګېدو شوې. د دغه پلان سپارښتنه ټولو هغو کسانو ته کوم چې له بریالیتوب سره لېوالتیا لري، ځکه دا داسې یو پلان دی چې ان یو غلام د خپلو پورونو پر ورکړه او همیانۍ ډکولو توانولای شي، نو د هغو کسانو لپاره خو ښېګړې ګټور دی چې له مالي اړخه یې لاسونه خلاص دي.

ما خپله تر اوسه لا ورته شا کړې نه ده، ځکه ډاډه یم چې که یې لږ نور هم وپالم، خامخا به مې په خلکو کې د یوه شتمن په توګه مشهور کړي.

سنټ سويټين کالج
نټينګهام پوهنتون
د ۱۹۳۶م د نومبر ۷مه
د برتانيا پوهنيز پلاوی
پوهاند فرانکلين کالډول
ګران پوهانده!

که د بابل د کنډوالو پر شاوخوا د خپلو کيندنو په بهير کې د هغه ځای د يوه پخواني اوښ پلورونکي دباسير سره مخ شوې، يوه مهرباني وکړه او ورته ووايه چې پر ختينو لوحو ستا پيړی-پيړی پخوا حک شوي کتيبې يوه انګريزه پوهنتوني جوړه نېکمرغه کړې او بېحده زياته مننه درځخه کوي.

ستا به ښايي ياد وي چې تېر کال مې د دغه پلان د عملي کولو په اړه د ځان او مېرمنې له هوډه خبر کړی وې. موږ غوښتل هم خپل پوروونه پرې کړو او هم په هميانی کې د طلايي سيکو شرنګا واورو. پاته دې نه وي چې موږ خپلې مالي لاستنګی له ملګرو او دوستانو پټې کړې وې.

له کلونو-کلونو راهيسې مو د پخوانيو راباندې پوروونو له لاسه خورا په وېره او شرمېندګی ژوند تېراوه. تل به دا ډار راسره وو چې هسې نه کوم سوداګر جنجال جوړ کړي او له امله يې موږ له پوهنتونه وشړل شو. تر وسه-وسه مو له خپل عايده هر سپمېدلی شيلينګ(پول) پوروړو ته ورکاوه، خو اقتصادي وضعيت مو پر پښو نشوای درولای. له بلې خوا مو مجبوراً خپل ټول اړتياوړ سامانونه ډېر ګران او په پور رانيول.

په داسې يوه خطرناک ګرداب کې لوېدلي وو چې حالت مو د سمبدو پر ځای ورځ په ورځ لا پسې خرابېد. هڅو مو له نهيلی پرته بله هېڅ پايله نه لرله.

Scanned by CamScanner

ان دا مو هم نشوای کولای چې یوه لږ ارزانه کور ته کډه شو، ځکه د کور د څښتن پوروړي وو. لنډه دا چې د ژوند سمولو او بدلولو هېڅ لار په نظر نه راتله.

بالاخره ستاسې د هغه پخواني بابلي اوښ پلورونکي انډیوال څرک ولګېد. د هغه په لاس کې زموږ د ورک هدف پلان وو. دغه د ښکلې وینا څښتن خپلې پیروۍ ته اړ کړو. لستوڼي مو بډوهل، د خپلو راباندې پورونو طرحه مو جوړه او پوروړو ته ورښکاره کړه.

هغوی ته مو په زغرده وویل چې په اوسنیو حالاتو کې یې په هېڅ وجه ټول پورونه یوځای نشو ورکولای. هر یوه په نوملړ کې خپل نوم لټاوه. ورته ومې ویل چې یوازې په یوه لار یې غاړه ورایستلای شم او هغه دا چې د هرې میاشتې له عایده مې شل سلنه (٪۲۰) رابېل او د دوی ټولو تر منځ یې د هر یوه د پور په اندازه ووېشم. په دغه ډول به ټول پورونه په څه باندې دوو کلونو کې خلاص کړم. دغه راز به خپل نور اړین شیان په نغدو رانیسم چې دا به هم د دوی پر ګټه کار وي.

د پوروړو غبرګون ښه وو. په تېره د سپین ږیري ترکاري پلورونکي خبرې مې دومره خوښې شوې چې نورو ټولو پوروړو ته مې وکړې.

هغه راته وویل:

که تاسې هم خپل ټول لازم توکي په نغدو رانیسئ او هم یې تر څنګ د زړو پورونو یوه برخه ادا کړئ، دا تګلار به مو تر پخواني هغې ډېره ګټوره وي، ځکه په تېرو دریو کلونو کې مو د هېڅ رانیول شوي شي بیه نه ده پرې کړې.

په پای کې مې یو تړونلیک په ټولو لاسلیک کړ او د خپل عاید د شل سلنې د پرله پسې ورکړې ژمنه مې ورسره وکړه. دغه راز مې هغوی ته وویل چې د پور تر ادا کولو به مې نه ځوروي. وروسته مو د یوه بل پلان له مخې د خپل عاید اویا سلنه(٪۷۰) ورځنۍ ګوزارې ته بېله کړه. پرېکړه دا وه چې پاته لس سلنه باید وسپمو. د نقره یي او یا هم ښایي طلایي سیکو تصور سخت ورجذب کړي وو.

Scanned by CamScanner

د دغو بدلونونو عملي کول زموږ لپاره يوه له تلوسې ډکه ننګونه وه. په مزه-مزه مو د عايد اويا سلنه پر خپلو ورځنيو لګښتونو ووېشله. له کرايې مو راپيل کړه او د يوه خوندور تخفيف پر ترلاسه کولو وتوانېدو. بيا مو د خپلې خوښې چايو بېلابېلې مارکې په شکمن نظر وڅېرلې. هېښوونکې خو دا وه چې تر پخوانيو ښې چاى مو لا ارزانه وموندلې.

کيسه دومره اوږده ده چې په يوه ليک کې نه ځايېږي. په هر حال د دغې طرحې پلي کول ستونزمن نه ول. په ډېره خوښۍ او ورين تندي مو ټول ترتيبات ونيول. له بلې خوا مو تر منځ اړيکې هم تر پخوا ښې شوې، ځکه نور مو کوم پور-مور نه سره درلود؛ يانې د يوه او بل د ځوروللو تر ټولو لويه وجه له منځه تللې وه.

رښتيا! چې د عايد د هغې لسمې برخې کيسه مې هېره نشي. هو! تر يو وخته مو په هميانۍ کې د روپيو شرنګا شرنګ اورېد. خو ګوره تر وخت مخکې به خاندې نه. پوهېږې؟ همدا د کيسې تر ټولو مزه دار ټکى دى. دا واقعاً خندوونکې ده چې انسان يوازې پيسو راټولولو ته اړم وي، خو د لګولو نيت يې نه لري. د اضافه پيسو پر کار اچول د هغو تر خرڅولو زيات خوند لري.

کله چې مو له هميانۍ څخه د روپيو اواز د زړه په غوږونو واورېد، د هغو د لګولو تر ټولو ګټوره لار مو وموندله او هغه پانګه اچونه وه. ډېر ژر راته څرګنده شوه چې په تېره د کار دغه برخه مو تر نورو ټولو سمونو خوښوونکې ده. دا هغه مبلغ دى چې تر هر لګښت وړاندې يې له خپل عايده رابېلوم.

کله چې د سرمايې پرله پسې ډېرښت وينو، زړونه مو باغ-باغ کېږي او خپلې راتلونکي ته هيله من کېږو. له استادۍ څخه تر لوېدو او تقاعد وروسته به دغه پانګه اچونه دومره شوې وي چې په عايد يې په اسانۍ سره ژوند وکړم.

په زړه پورې خو دا ده چې دې هر څه مې پر پيسو يوه ذره منفي اغېز هم نه دى غورځولى. منل يې ګران دي، مګر همدا حقيقت دى. په دې موده کې مو پوروونه ورو-ورو کم شوي او شتمني مو زياته شوې ده. پر دې سربېره مو ټولې اقتصادي ستونزې له منځه تللي او تر پخوا ښه ژوند لرو. هېڅ مو زړه ته نه لوېده

Scanned by CamScanner

چې د بې هدفه هڅو او يوې سمې اقتصادي تګلارې تر منځ توپير به دومره ستر وي.

د راتلونکي کال په پای کې به مو د ټولو پوروړو غاړه وتلې وي او د لا ډېرې سپما او پانګونې جوګه به يو. همدارنګه به د يوه سفر د بودجې سرښته هم وکړو. هوډ مو کړی چې په هېڅ وجه مو لګښتونه د عايد تر اويا سلنې لوړ نشي.

اوس به پوهېدلی يې چې ولې د هغه لرغوني بابلي سړي مننډوی يم. دا خو د همده پلان وو چې موږ يې د ځمکې د مخ له جهنمه وژغورلو.

هغه پوه وو. هغه دغه ټول پړاوونه وهلي ول. هغه غوښتل نور هم د ده له ترخو تجربو ګټه پورته کړي. له همدې وجې يې د خپل پيغام پر حکاکي کولو ساعتونه-ساعتونه زيار ګاللی وو.

هغه د خپلو همدردانو لپاره يو رښتينی پيغام درلود، داسې يو ستر او ارزښتناک پيغام چې پنځه زره کاله وروسته يې د بابل له کنډوالو سر راوايست او لا هم هغومره رښتينی او ژوندی وو.

ستاسې ارادتمند الفرډ.اچ.شروزبري
د لرغون پېژندنې څانګه

## د بابل تر ټولو نېکمرغه سړی

د بابلي سوداګرو شازاده شاروناداپه ډېر غرور د کاروان په سر کې سپور روان وو. د هغه له پستو ټوکرانو سره جوړه وه او ډېرې ګرانبیه جامې یې اغوستې. له حیوانانو سره یې هم مینه لرله او پر یوه ښکلي عربي اس به سپرېد. چا چې به ورته کتل زړه ته یې نه لوېده چې کله به هم له کومې ستونزې سره مخ شي. په ښکاره هېڅ ګومان نه کاوه چې نوموړی به دننه له کومې اندېښنې کړېږي. له دمشقه تر بابله غځېدلې دښتې لار خورا اوږده او له ډېرو کړاوونو ډکه وه. هغه د دغو سختیو پروا نه کوله. پر لاره پرتې عرب قبیلې بېحده وحشي وې او تل به یې د شتمنو تېرېدونکې قافلې لوټلې. هغه له دې هم ډار نه درلود، ځکه ګڼ پر ګړندیو اسونو سپاره ساتونکې یې لرل.

د ده اندېښنه د هغه ځوان په اړه وه چې له دمشقه یې ورسره راروان کړی وو. هغه د ده د پخواني شریک آرادګولا لمسی هدان ګولا وو. ده ځان د آرادګولا زښت زیات احسانمند باله. له همدې وجې یې غوښتل د نوموړي د لمسي ښه خدمت وکړي، خو چې هر څومره یې فکر کاوه هغومره ورته سختېده او د دې لامل هم خپله همدغه ځوان وو.

کله چې به یې د ځوان ګوتمیو او غوږوالیو ته کتل له ځان سره به یې فکر کاوه:

د ده په خیال ګېڼې یوازې د نارینه وو لپاره دي. د مخ ګونځې یې هم د نیکه غوندې ځواکمنې او نارینه دي، مګر هغه داسې ځلبل جامې نه اغوستې. ما پر دې هر څه سربېره په دې هیله له ځان سره راووست چې هم یو نوی ژوند راونښلوي او هم د کورنۍ میراث ته د پلار رسېدلی زیان جبران کړي.

Scanned by CamScanner

هدان گولا يې د فکرونو لړۍ ورغوځه کړه:
تا ته خير دی چې په دې کار اخته يې او له قافلو سره په اوږدو-اوږدو سفرونو ځې؟ ايا يو وخت دې له ژونده هم خوند اخيستی دی؟
شارونادا موسکی شو او ويې ويل:
له ژونده خوند واخلم؟ که ته زما پر ځای وای له ژونده دې څنګه خوند اخيست؟
- که زه ستا غوندې شتمن وای د شازادګانو غوندې ژوند به مې درلودای. هېڅکله مې په دغسې وچو او سوځنده دښتو کې مزل نه کاوه. هميانی ته ورلوېدونکې پيسې مې بېرته په هماغه چټکتيا خرڅولې. بېساري ګوهرونه او قيمتي جامې مې رانيولې. همدا مې د خوښې ژوند دی او همداسې بايد وي هم.
پر دې خبره دواړو وخندل. شارونادا بيله څنډه وويل:
ستا نيکه ګېڼې نه استعمالولې.
وروسته يې په ټوکو وويل:
ياني ته د کار کولو لپاره وخت نه لرې؟
هدان ګولا ځواب ورکړ:
کار د غلامانو لپاره دی.
شارونادا شونډه وچيچله، مګر څه يې ونه ويل. همداسې يې په چوپتيا کې خپل سفر ته ادامه ورکړه. کله چې قافله يوه لوړ ځای ته ورسېده د خپلې سپرلی جلب يې راکش کړ، يوې ليرې پرتې تکې شنې درې ته يې اشاره وکړه او ويې ويل:
د هغې درې کښتې خوا ته وګوره. هغه تت غوندې ښکارېدونکي شيان د بابل دېوالونه دي. هغه څلی بيا بل معبد دی او که دې سترګې لږ تېزې وي، نو ترې پورته کېدونکی لوګی به هم وليدلای شې.
هدان ګولا ځواب ورکړ:

نو همدا بابل دی؟ تل مې په زړه کې د دنیا د تر ټولو شتمن ښار د لیدلو ارمان وو. د نیکه د شتمنۍ زنۍ مې همدلته ایښودل شوی دی. کاشکې هغه اوس ژوندی وای او موږ دومره تنګلاسي نه وای.

- ته ولې په دې ارمان یې چې د نیکه اروا دې تر ټاکلي وخت زیاته په دې نړۍ کې پاته شوې وای؟ ته او ستا پلار هم د هغه کار ته هماغسې د ده په شان ادامه ورکولای شئ.

- له بده مرغه موږ د هغه په شان خدایي ورتیا نه لرو. نه ما او نه مې پلار ته د طلایي سیکو راجذبولو چل ورمالوم دی.

شارونادا خوب ورنکړ. د خپلې سپرلۍ رسۍ یې خوشې کړه او په داسې حال کې چې په فکرونو کې ډوب وو، د مالرو واټ سره موازي پرتې درې ته ورکښته شول. په دوی پسې د سور رنګه دوړو د یوې لویې اوریځې په منځ کې روان کاروان هم پر دره وروبهېد. ګړی وروسته شاهي واټ ته ورسېدل او د شنو کښتونو له منځه مخ پر سهیل تاو شول.

هلته نژدې دربیو تنو سپینو ږیرو ځمکه یوې کوله. د شارونادا پام ورواوښت. خبرې یې ډېرې شناخته ورته وایسېدې. تر شونډو لاندې وبوښېد: انسان څلوېښت کاله وروسته پر یوه کښت بیا راتېرېږي او هماغه خلک همالته پر کار بوخت ویني؟ نه دا شوني نه، بلکې خندوونکې ده!

مګر بیا یې هم له دننه څخه داسې حسوله چې دا هماغه خلک دي. یوه یې زړه نازړه جغ نیولی وو. نور له غوایانو سره روان ول او ناحقه یې پرله پسې غمچینې پر اوږولې چې کار مخته بوزي.

څلوېښت کاله مخکې یې پر دغو خلکو رخه راتله او په ډېره خوښۍ دې ته تیار وو چې خپل ټولنیز ځای ورسره بدل کړي، مګر نن یې تر منځ واټن ښخې زیات شوی وو. په غرور یې شا ته مخ واړاوه او په ارزښتناکو شامي مالونو بار اوښانو او خرونو ته یې وکتل. دا یې مازې د شتمنۍ یوه برخه وه.

یوې کوونکو ته یې ګوته ونیوله او ویې ویل:

دوی تر اوسه لا هماغه څلوېښت کاله مخکنۍ ځمکه یوې کوي.

Scanned by CamScanner

- همداسې ښکاري، مګر ته له کومه درکه وایې چې دا به هماغه خلك وي؟
شارونادا ځواب ورکړ:
ځکه چې همدلته لیدلي ول.

پخوانۍ خاطرې یې په منډه د سترګو پر وړاندې تېرېدې. ولې یې نشوای کولای چې ماضي هېره او په اوسمهال کې ژوند وکړي؟ همدغه شېبه یې په خیال کې د آرادګولا خندانه څېره ولیده او د خپل ځان او تر څنګ د ورسره روان بدبین ځوان تر منځ پرده لیرې شوه.

مګر څنګه یې له دغه ځانغوښتونکي ځوان سره چې له ګوتمیو ډك لاسونه خو د کاروبار له پوهې تش مغز یې درلود، مرسته کړې وای؟ ده د بېشمېره کاریګرانو د ګومارلو توان درلود، اما د داسې خلکو له لاسنیوي عاجزه وو چې ځان تر کار غوره ورته ښکارېد. له دې سره هم د ارادګولا د احسانونو درانه بار دې ته مجبوراوه چې په یو نه یو ډول بنسټیز بدلون پکې راولي. ده او آرادګولا هېڅکله هېڅ کار په دوه زړې نه وو کړی. دوی له دغه ډول خلکو څخه نه ول. ناڅاپه یې سر ته یوه سوچ لار وکړه. دغه پلان منفي اړخونه هم درلودل. تر هر څه مخکې یې باید خپلې کورنۍ او نوم و نښان ته پاملرنه کولای. دغه راز دا تګلار ښایي ځینو خلکو ته ظالمانه ایسېدلې او په ځورېدلي وای، خو دا چې نومورې یو غوڅ او هوډمن انسان وو، نو پر منفي ټکو یې کرښه وکښله او د عملي کولو نیت یې وکړ.

له ځوانه یې وپوښتل:
ایا غواړې په دې خبر شې چې زه او ستا نیکه څنګه په دومره ګټوره معامله کې سره شریکان شوو؟
هغه ځواب ورکړ:
که دې خوښه وي، نو یوازې دا راته ووایه چې د سرو زرو دومره پرېمانه سیکې مو له کومه کړې؟ ما ته صرف همدا ټکی ارزښتناك دی.
شارونادا یې پر ځواب غوږ کوڼ واچاوه او ویې ویل:

مور خپل کار هغه وخت راپیل کړ چې دغه خلك همدلته پر یوې کولو بوخت
ول. زه ستا همزولی وم. یوه ورځ یوه ډله خلك دغې ځمکې ته راورسېدل.
هغوی ټول په ځنځیرونو سره تړلي ول. زه هم پکې شامل وم. د مگیدو په نوم
یوه عمر خوړلي کروندگر د دغو یوې کوونکو پر بېخونده کار په سپکوونکي
انداز وخندل. نوموړی زما سره په یوه ځنځیر تړلی وو. ویې ویل:
ته دې د خدای لټانو ته گوره! هغه یو چې جغ یې نیولی، اصلاً د ځمکې د
ژورې یوې کولو هڅه نه کوي. هغو نورو غمچینو غورځوونکو ته بیا گوره، د
غوایانو د بېولو چل یې هډو زده نه دی. ځمکه چې سمه یوې نشي، نو بڼه
حاصل به څنگه وکړي؟
هدان گولا په هېښتیا وپوښتل:
تا ویل مگیدو ستا سره په یوه ځنځیر تړلی وو؟
- هو! په غاړو کې مو د برونزو کړی وې. دغه کړی بیا ټولې په ځنځیرونو له نورو
سره تړل شوي وې. د مگیدو اړخ ته د پسونو غل زابادو روان وو. له هغه سره
مې په هارون ښار کې وپېژندل. زموږ په ځنځیر پورې وروستی تړلی کس
پایرټ(سمندري غل) وو. دا نوم موږ له ځانه پر ایښی وو، ځکه خپل اصلي نوم
یې نه راښود. دا چې پر ځیگر یې د یوه دوه سره مار ټاټو وهلي وه، نو د ماهو
گومان مو پر کاوه. موږ څو کتاره وو. هر کتار کې څلور تنه روان ول.
هدان گولا په بې باورۍ وپوښتل:
ایا تاسې یې د مریانو په توگه په ځنځیرونو تړلي واست؟
- نیکه دې نه دي درته ویلي چې زه یو وخت مریی وم؟
- هغه به اکثره ستا کیسې کولې، خو هېڅکله یې دغه خبره نه ده کړې.
شارونادا د سترگو له گوښو وروکتل او ویې ویل:
هغه داسې یو سړی وو چې د خپلې سینې په سندوخچه کې یې یو عالم رازونه
ساتلي ول. پر تا هم زما په خیال باور کېدای شي. همداسې نه ده؟
- بالکل! خو زه دې سخت حیران کړم. دا راته ووایه چې د مرییتوب په منگولو
کې څنگه ولوېدې؟

شارونادا اوږې پورته واچولې او ويې ويل:

د مرييتوب په منګولو کې هر څوک لوېداى شي. زما کار جوارګرى او بيرو را کړوپ کړ. د ورور د بېباکى قرباني شوم. هغه په يوه نښته کې خپل ملګرى وواژه. پلار مې د دې لپاره چې هغه يې له قانونه ژغورلى وي، زه يې د مدعي کورنۍ په ګوتو ورکړم. خو وروسته يې زما د راخوشي کولو بيه پرې نکړاى شوه، هغې عصبانې ښځې هم پر يوه غلام پلورونکي خرڅ کړم.

هدان ګولا د نيوکې په انداز وويل:

څومره شرمناکه بې انصافي! نو بيا دې څنګه ځان ازاد کړ؟

- دې ځاى ته هم راځم، خو اوس لا وختي دى. اول به تړوله کيسه درته وکړم.

دلته د تېرېدو پر وخت د ځمکې يوې کوونکو کروندګرو ملنډې راباندې شروع کړې. يوه يې خپله زړه خولۍ پورته کړه او په داسې حال کې چې سر يې لږ کوږ نيولى وو، وويل:

اې د پاچا مېلمنو! بابل ته ښه راغلاست. هغه د ښار د دېوالونو پر سر درته سترګې پر لار دى او ستاسې په وياړ يې د ډبرو، خښتو او پيازو د ښوروا مېلمستيا جوړه کړې ده.

له دې سره د نورو د خنداوو کړسا پورته شوه. پايرټ ته غوسه ورغله او ښکنځل يې ورته وکړل. ما ځنې وپوښتل:

پاچا د دېوال پر سر راته منتظر دى؟ دا څه مانا؟

- د دې مطلب دا دى چې دېوال جوړېږي او ته بايد تر هغو پورې خښتې او ډبرې ور وچلوې چې ملا دې ماتېږي. ښايي تر دې لا ژر ماته شي او تر مرګه دې په چلاخو ووهي. مګر ما نشي وهلاى. وبه يې وژنم.

مګيدو وويل:

دا ښځايه خبره ده چې باداران خپل زيارکښه مريان تر مرګه په چلاخو ووهي. پر هغوى ښه مريان ګران وي او قدر يې کوي.

زابادو وويل:

Scanned by CamScanner

سخت کار د چا خوښېږي؟ دا کروندګر ډېر هوښياران دي، خپلې ملاوې نه ماتوي، بلکې ميده-ميده لګيا دي خپله ورخ اړوي.
مګيدو په نيوکه وويل:
په لټې څه نه ده جوړه. که د ورځې يو هکتار ځمکه يوې کړې نو مالومداره دې ښه کار کړی دی او بادار يې هم ويني. خو که بيا نيم هکتار يوې کړې، ښکاره ده چې د زړه له اخلاصه نه يې ښورېدلی. زه ځان نه اچوم. زه غواړم کار وکړم او ښه يې وکړم، ځکه ما تر اوسه تر کار بل غوره ملګری نه دی ليدلی. په ژوند کې چې هر څه لرم هغه که ځمکه ده، که غوا او که غله-دانه، دا مې ټول د کار په برکت ترلاسه کړي دي.
زابادو په ملنډو وويل:
ښه نو دا شيان اوس چيرې دي؟ زه وايم چې بايد له عقله کار واخلو او له سخت کار پرته ځانونه يو ځای ته ورسوو. ما ته وګوره، که يې دلته رښتيا هم د دېوال جوړولو لپاره راوستلي يو، نو د اوبو د بوشکو وړل او نور سپک کارونه په ما کوي او ته چې د کار شوقي يې، بايد د ملا ماتېدو تر وخته ډبرې او خښتې وچلوې.
ورسره سم يې احمقانه خندا ته پښې ورکړې.
هغه شپه له ډېره ډاره خوب راڅخه وتښتېد. د پيرې لومړی نوبت د ګودوسو په نامه يوه کس ته ور رسېدلی وو. ورو غوندې وروځکېدم. نوموړی له هغو بېرحمه لاروهونکو او مردارخورو عربو څخه وو چې پر يوه بسته يې د انسان مری هم غوځوله. په پسپسي مې ورته وويل:
ګودوسو! ايا رښتيا په موږ د بابل دېوالونه جوړوي؟
په پلټونکي انداز يې راڅخه وپوښتل:
ولې؟
ما په عاجزۍ ورته وويل:
ولې سر دې نه خلاصېږي؟ زه ځوان يم. غواړم ژوند وکړم، نه دا چې تر مرګه به يا کار کوم او يا به وهل خورم. ايا د يو ښه بادار د پيدا کولو امکان شته؟

Scanned by CamScanner

کرار يې راته وويل:
دا چې ته ښه هلک يې او ما نه تنګوې، يوه ډېره مهمه خبره درته کوم. موږ اکثره لومړی د مريي پلورنې بازار ته ځو. اوس ښه غوږ شه راته! کله چې سوداګر راشي د ځان صفت ورته وکړه؛ مثلاً ورته ووايه چې ډېر تکړه کاريګر يې او غواړې د خپل څښتن لپاره مست کار وکړې. يانې په يو نه يو چل د رانيوونکو پام درواړوه. که هغوی ونه پېرودلې، نو خير دې نشته. دويمه ورځ دې پر ملا څښتې درباروي او هغه نو بيا بېحده ګران کار دی.

تر دغو خبرو وروسته هغه راڅخه ليرې شو. زه هم سملاسې پر تودو رېګو وغځېدم، ستورو کې مې سترګې وګنډلې او خپل برخليک ته په چورت کې شوم. مګيدو ويلي ول چې کار يې تر ټولو ښه ملګری دی، مګر زه لا خبر نه وم چې زما په درد به هم وخوري کنه. که يې له دغو سختيو ژغورلای، نو رښتيا به مې بهترين انډيوال وای.

مګيدو چې راويښ شو، دا غوږ خبر مې ور واوراوه. بابل ته د روانېدو پر وخت مو زړونه د هيلو له رڼاوو ډک ول. لمرلوېدو مهال بابل ښار ته ورسېدو. هلته مې د بېشمېره انسانانو کتارونه وليدل چې لکه تور مېږيان د دېوال پر کږو-وږو تېرو څنډو ختل و لوېدل. له ډېرې هېښتيا مو خولې وازې پاته شوې. ځينو خندقونه کېندل، ځينو خښتې موښلې او نورو ګڼو کسانو بيا په لويو-لويو ټوکريو کې د دېوال پر سر بوختو بنايانو ته خښتې ورخېژولې.[1]

څارونکو «ناظرانو» به هغو کاريګرو ته ګاه‌-ګاه ښکنځل کول چې ورو کار به يې کاوه. هغه کسان به يې بيا په څرمينو غمچينو پر ملا وهل چې له کتاره به

---

[1] د لرغوني بابل مشهورې ودانۍ لکه دېوال، معبدونه، ځوړند بڼونه او د څروبولو سترې ويالې په مريانو جوړې شوي دي چې اکثره يې جګړيېز بنديان ول او مالومداره سخت ناانسانی چلند ورسره کېد. په دغه بشري ځواک کې د بابل ښار او شاوخوا ولايتونو هغه اوسېدونکي هم شامل ول چې د جنګي جرمونو يا مالي ستونزو له امله د مريانو په توګه خرڅ شوي ول. پر دې سربېره په مالي، حقوقي او ورته نورو قضيو کې د ضمانت په توګه د ښځو او اولادونو ګرو کول هم يو عام دود وو. او دا چې د هغوی څښتنان به د خپلو ژمنو پر پوره کولو ونه توانېدل، نو انساني ضمانتونه به يې د مريانو په ډول پلورل کېدل.

وتل. داسې کمزوري مريان مې هم وليدل چې تر درنو ټوکريو لاندې به پر گونډو شول او نور به د ولاړېدو نه ول. که به د غمچينو په زور بېرته پر پښو ونه درېدل، نو يوه اړخ ته به يې وغورځول. هلته به يې د مرگ تر ساعته لاس و پښې وهلې. وروسته به يې په يوه نژدې هديره کې په خاورو ومنډل.

دغې ډاروونکې صحنې مې په اندامونو لړزه گډه کړه. لنډه دا چې که د مريي پلورونکو په بازار کې د څان پر خرخولو نه توانېدای، نو همدغه برخليک راته کتل. د گودوسو خبره رښتيا وه.

موږ يې د ښار پر دروازه وردننه او د مريانو زندان ته بوتلو. دا سبا يې په بازار کې د غلامانو ځانگړو اخورونو ته ولېږدولو. هلته نور مريان هم ول. اکثره به يې له ډېره ډاره په يو او بل پورې کلک نښتي ول. هغوی به يې د غمچينو په زور سره بېلول چې رانيوونکي يې مخونه ووينې. زه او مگيدو له هر هغه چا سره په مينه رغېدو چې موږ ته به يې غوږ نياوه.

مريي پلورونکو د سلطنتي گارډ سرتېري ورسره راوستلي ول. کله چې پايرټ جنجال جوړ کړ، لاس و پښې يې وروتړلې، مرگي حاله يې وډباوه او له هغه ځايه يې يووړ. زما ډېر زړه پر وسوځېد.

مگيدو احساس کړې وه چې د بېلتون شيبه مو رانژدې شوې ده. لومړی يې شاوخوا وکتل بيا يې په مينه وستايلم او راته ويې ويل چې راتلونکې مې روښانه ده. زياته يې کړه:

ځينې کار د ځان دوښمن گڼي او ترې تښتي. زموږ خير په دې کې دی چې کار ته د دوست په سترگه وگورو، راخپل يې کړو او د سختوالي په کيسه کې يې نشو. د کار کولو پر مهال داسې وانگېره لکه يو ښکلی کور چې جوړوې. په دې صورت کې به دې د چت د تيرانو دروندوالی او د اوبو د کوهي ليرې والی خار هم نه درته ښکاري.

زويه! ژمنه راسره وکړه چې که وپېرل شوې، نو په ټول توان به د خپل بادار چوپړ وهې. ان که دې په ارزښت هم ونه پوهېږي پروا به يې نه کوې. تل ياد

Scanned by CamScanner

ولره چې په راستی ترسره شوی کار خپله د کاریگر په ښه ورځي او په یوه غوره انسان د بدلېدو لامل يې گرځي.

دغه شېبه یو متور کروندگر رانژدې شو او دواړه يې په پلټونکي نظر تر سترگو وايستو. مگيدو چوپ شو.

مگيدو له هغه کروندگره د ځمکې او کښت په اړه پوښتنې وکړې. هغه يې خورا ژر پر ځان گرم او په دې قانع کړ چې که يې رانيسي، پښېمانه به نشي. کروندگر له مريي پلورونکي سره ډېرې چنې ووهلې. اخير يې جامو ته لاس کړ او یوه پنډه همیانۍ يې راوايسته. څو دقیقې وروسته مگېدو په خپل نوي بادار پسې تر شا روان او زما له سترگو پناه شو.

هغه سهار ډېر لږ مریان وپلورل شول. غرمه گودوسو پټ راته وويل چې د مريي پلورونکي د زغم کاسه ډکه شوې او په بابل کې بله شپه نه تېروي، له همدې امله يې نیت کړی چې پاته مریان د پاچا پر استازي خرڅ کړي.

د هیلې شمه مې پر گلېدو وه چې یو پنډ خندان سړی راپیدا شو او ويې پوښتل: د چا ډوډۍ او شیریني پخول زده دي؟

زه ورنژدې شوم او ورته ومې ويل:

ستا غوندې تکړه نانوای ولې باید په یوه بل ناسم اموخته شوي نانوای پسې وگرځي؟ ایا غوره به نه وي چې زما په شان یو کارنده او لېوال سړی پر خپل مزاج برابر وروزې؟ ښه راته وگوره! تکړه ځوان یم او له کار سره لېونۍ مینه لرم. ومې ازمایه. هم به خپله وړتیا درته زبات کړم او هم به په پېخر سره زر دروگټم.

خبرو مې اغېزمن کړ، له مريي پلورونکي سره يې په چنو وهلو شروع وکړه. هغه، چې تر دې دمه يې هډو راپام شوي هم نه ول، زما د مهارتونو، روغتیا او ښې بښې غوړ-غوړ صفتونه ورته کتار کړل. ما ته ځان یوه څرب غوندې ښکارېد چې خاوند يې پر کساب خرڅوي. اخیر مې بخت بیداره شو او سودا سره ورسېده. په خپل نوي بادار پسې شوم. هغه شېبه ځان د بابل تر ټولو نېکمرغه سړی راته ایسېد.

نوی کور مې سل په سل کې پر طبیعت جوړ وو. بادار مې نانائید نومېد. د غولي پر منځ یوه ډبرینه مېچنه پرته وه. ده په هغې کې د اوربشو اوړه کولو، تنور بلولو او عسلي کیکونو لپاره د کنجدو نرمولو او خمیرولو چل راوښود. دغه راز یې د خپلې غلې په گودام کې یوه اوږده چوکۍ هم راکړه. هلته د سواستي په نوم یوه مینځه هم اوسېده چې ما به په درنو کارونو کې مرسته ورسره کوله او هغې به خواړه راکول.

د بادار په نظر کې د خپل ارزښت لوړولو ډېره ښه موقع په لاس راغله. ورسره سم د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو هیلې هم غځونې راپکې وکړې.

له نانائید ښخه مې وغوښتل چې خمیر جوړول او ډوډۍ پخول را زده کړي. دا چې نوموړې ته له کار سره زما مینې خوند ورکاوه، همداسې یې وکړل. په دې کار کې تر مهارت پیدا کولو وروسته یې د عسلي کیکونو چل هم راوښود. ډېر لږ وروسته د پخولو ټولې چارې زما له غاړې شوې.

بادار په خپله وزگارتیا زښت خوشحاله وو، مگر سواستي بیا ناخوښه وه، په افسوس یې سر ښوراوه او ویل یې:

له نارینه سره بېکاري نه ښایي!

دغه مهال مې داسې احساس کړه چې نور نو د پیسو ټولولو او خپلې خپلواکۍ بېرته رانیولو مناسب وخت رارسېدلی دی. د نانوایي کارونه تر ماپښینه خلاصېدل. له څان سره مې وویل چې که تر ماپښین وروسته یوه گټور کار ته لاس ورواچوم او عاید یې له نانائید سره نیم کړم، نوموړی به یې خامخا راسره ومني. پلان مې دا وو چې عسلي کیکونه پاخه او په لارو کوڅو کې یې خرڅ کړم.

ولاړم بادار ته او داسې مې ورته وویل:

که زه ماپښین د نانوایي د کارونو تر تمامېدو وروسته یو کاروبار راپیل او گټه یې درسره نیمه کړم ایا عادلانه ده؟ او ایا کولای شم د خپلې برخې گټه پر خپلو شخصي اړتیاوو ولگوم؟

هغه راته وویل:

Scanned by CamScanner

بالکل عادلانه ده!

وروسته مې له اصلي پلان يانې د عسلي کيکونو له پلورلو خبر کړ؛ سخت خوشحال شو او راته ويې ويل:

حساب به داسې وي چې که مثلاً ته دوه کيکه په يوه شيکيل وپلورې، نو نيمې پيسې به يې د اوړو، کنجدو او پخولو وي او پاته نيمې به يې ما و تا مساوي سره وېشو.

زه پر دې خراباتي وړانديز بېحده زيات خوښ شوم، ځکه کولای مې شول د خرڅېدونکو شيانو څلورمه برخه پيسې ځان ته وساتم. هغه شپه مې تر ناوخته کار وکړ او د کيک اېښودلو لپاره مې يو پتنوس جوړ کړ. څښتن مې خپلې يوه جوړه زړې جامې راکړې چې يو څه سم وايسم. سواستي يې په مينځلو او پينه کولو کې مرسته راسره وکړه.

دا بله ورځ مې يو څه عسلي کيک پوخ کړ. پر پتنوس يې قهوه رنګه نما تلوسه زېږوونکې او پام اړوونکې وه. کوڅې ته له رسېدو سره سم مې په لوړ اواز نارې شروع کړې. په پيل کې چا غوږ رانه نيو او لږ نهيلی شوم، خو له نارو وهلو مې لاس وانخيست. لمرلوېده مهال خلک وږي شول. ورو-ورو سودا شروع شوه او څه وخت وروسته پتنوس تش شو.

پر نانائيد مې کاميابي خوږه ولګېده او په ورين تندي يې زما برخه راکړه. د خپلو شخصي پيسو ليدو زه هم خوشحال کړم. مګيدو سم ويل چې باداران تکړه مريانو ته ارزښت ورکوي. هغه شپه له ډېره هيجانه خوب راڅخه وتښتېد. لګيا وم له ځان سره مې همدا حسابونه کول چې د کاله څو ګټلای شم او د خپلې ازادۍ رانيولو لپاره بايد څو کاله زيار وباسم.

دا چې هره ورځ به له کيکونو ډک پتنوسونه پر سر دباندې لارو کوڅو کې ګرځېدم، نو کرار-کرار مې ثابت ګيراکان پيدا کړل. يو يې هم ستا نيکه آرادګولا وو. هغه د فرشونو سوداګري کوله. هره ورځ به يې پر خره بار غاليچې د بازار له يوه سره تر بله وړلې او کور پر کور به يې پلورلې. د کومک لپاره به يو تور مريي

هم ورسره ملګری وو. هر وخت به يې دوه کيکه د ځان او دوه د غلام لپاره رانيول. د خوړلو پر مهال به يې باڼدار هم راسره کاوه.

يوه ورځ يې داسې خبره راته وکړه چې هېڅکله به مې هېره نشي:

زويه! زما دې کيکونه خوښېږي، خو تر دې مې بيا ډېر ستا له چال چلند سره جوړه ده. خپل مال په ډېره زړورتيا او لېوالتيا خرڅوې او دغه روحيه دې د برياليتوب تر خورا لوړو پوړيو رسولای شي.

اې هدان ګولا! ته به دې هډو پوهېدای نشې چې دغسې هڅوونکې خبرې د هغه غلام لپاره څه مانا لري چې په يوه ستر ښار کې بېوزله دی او په ټول توان له غلامۍ څخه د ځان خلاصولو لپاره لاس و پښې وهي.

مياشتې-مياشتې تېرېدې او زه هماغسې ګرم لګيا وم کڅوړې ته پيسې مې وراچولې. هر څومره چې مې ملا په درنېده هغومره مې زړه هم ورسره ارامېده. راته زبات شوه چې کار مې تر ټولو نژدې و خوږ ملګری دی، کټمټ هماغسې لکه مګيدو چې ويلي ول. زه خوښ، مګر سواستي انديښمنه وه. هغې به ويل: وېرېږم چې هسې نه بادار دې د قمارخانو ملنګ شي.

يوه ورځ مې نابېره مګيدو وليد، ډېر خوشحاله شوم. په سبزيو بار درې خرونه يې بازار ته روان کړي ول. ويې ويل:

کاروبار مې ډېر مست روان دی. بادار مې د زحمتونو قدر کوي او بښخې يې د ځان مجلسي کړی يم. هم يې د بازار ټول کارونه راله غاړې کړي دي او هم مې کورنۍ ته پيسې لېږي.

کار مې ورو-ورو پر خپلو لويو ستونزو غالبېدو ته ورلنډوي. هغه ورځ ليرې نه ده چې بېرته به پخوا غوندې خپلواک او د خپلې کروندې څښتن شم.

وختونه تېر شول. هره ورځ چې به له خپل کاره راتلم، نانانئيد به مې تر مخکې لا زيات په تلوسه کې ليد. ورځ تر بلې يې لېوالتيا ډېرېده. پيسې به يې په مزه-مزه سره وېشلې. دغه راز يې د کاروبار د پراخولو توصيه هم راته کوله.

اکثره به د ښار له دروازو دباندې وتلم. غوښتل مې د دېوال جوړوونکو مريانو ناظران هم د ځان ګيراکان کړم. له هغې ځوروونکې منظرې مې کرکه

Scanned by CamScanner

کېده، مگر چاره نه وه، ځکه ناظران ډېر سخي رانیوونکي ول. یوه ورځ مې د مریانو په کتار کې زابادو ولید. منتظر وو چې ټوکری یې له خښتو ډکه شي. ډېر بې حیران کړم. ببخې ډنگر او پر ملا کړوپ شوی وو، شا یې هم ډېرو غمچینو ور تغمې-تغمې کړې وه. زړه مې پر تور دود شو، سملاسې مې یو کیک ورته ونیو. ده هم د یوه وږي حیوان غوندې ژوندی په خوله ننه ایست. په سترگو کې یې یوه ناپایه لوږه لیدل کېده او مخکې تر دې چې پتنوس ته راحمله کړي، ځنې وتښتېدم.

یوه ورځ آرادگولا راڅخه وپوښتل:

ولې دومره زیات کار کوې؟

دا کتمت هماغسې پوښتنه وه لکه تا چې نن راڅخه وکړه، یادېږي دې؟ آرادگولا ته مې په څواب کې د مگیدو خبرې تکرار کړې او ورته ومې ویل چې کار مې بهترین ملگری دی. په ډېر ویاړ مې د پیسو کڅوړه وروښوده او ورته ومې ویل چې غواړم په دغو پیسو ځان خپلواک کړم.

هغه راڅخه وپوښتل:

تر خپلواکۍ وروسته څه کول غواړې؟

ورته ومې ویل:

سوداگري ته مې خیال دی.

دا مهال یې داسې یوه خبره راته وکړه چې وړاندې مې په تصور کې هم نه وه راگرڅېدلې. ویې ویل:

ته به ښایې نه یې خبر، مگر زه هم غلام یم او له خپل بادار سره په شراکت دغه کاروبار کوم.

هدان گولا راټوپ کړل:

چوپ شه! ستا د دې دروغو اورېدلو زغم نه لرم. زما د نیکه عزت او نوم و نښان مه راپایمالوه. هغه هېڅکله غلامي نه ده کړې.

او سترگې یې د غوسې له اوره ډکې شوې. شارونادا خپله ارامي وساتله او ورته ویې ویل:

زه بیا په همدې خاطر ستا په نیکه ویاړم، ځکه د بېوزلانو له منځه راپورته او د دمشق یو مخور ځنې جوړ شو. ایا د لمسي په توګه یې په تا کې یو څرک هم شته او دومره نر یې چې رښتیا واورې، کنه همداسې له خپلو غولوونکو خیالونو سره ژوند ته ادامه ورکوې؟

هدان ګولا پر خپل ځای نېغ کښېناست. په داسې دېغ پر خبرو راغ چې د احساساتو اغېز پکې څرګند وو:

زما نیکه پر ټولو خلکو بې توپیره ګران وو. کارونه یې په حساب کې نه راتلل. د وچکالۍ پر مهال یې په خپلو شخصي پیسو پرېمانه غله-دانه رانیوله او په خپل کاروان کې یې مصر ته راوړه. دلته یې پر اړو وګړو ووېشله او له لوږې یې وژغورل. ته څنګه دغسې ستر سړی د بابل یو اسکېرلی مریی بللای شې؟

-که هغه په بابل کې هماغسې مریی پاتېدای لا به مې اسکېرلی بللی وای، مګر دا چې نوموړی د خپل تلاښ په زور د دمشق په یوه ستر شخصیت واوښت، نو په رښتیا چې خدای بېوزلي ځنې واخیسته او یو ښاغلی و مخکښ سړی یې ترې جوړ کړ.

شاروناداخبرې وغځولې:

هغه د دغه راز تر رسوا کولو وروسته دا هم راته وویل چې خپلې ازادۍ ته ډېر اندېښمن دی. که څه هم کافي پیسې یې ټولې کړي وې، خو نه د کارولو چل یې نه وو زده. د روان کاروبار بازار یې هم نسبتاً سوړ شوی وو او ډارېده چې هسې نه د بادار ملاتړ له لاسه ورکړي.

ما یې د هوډ پر کمزورۍ نیوکه وکړه:

تر دې زیات په خپل ځښتن پورې مه نښله. یو ځل بیا ځان ته د یو ازاد انسان په سترګه وګوره، د ازادو انسانانو غوندې چلند وکړه او د هغوی په شان بریالی اوسه! له ځانه وپوښته چې څه کول غواړې او موخه دې څه ده؛ د بریالیتوب یوازنی لار همدا ده!

هغه زما د سپينو خبرو او پېغورونو له امله خوښي وښوده او پر خپله مخه ولاړ.[۱]

يوه ورځ بيا د ښار له دروازې دباندې ووتم. هلته مې يوه لويه ډله خلك وليدل چې يو ځای سره راغونډ ول او شورماشور يې اچولی وو. يو کس مې وپوښت، راته ويې ويل:

ولې خبر نه يې؟ يوه مريي د پاچا ساتونكی وژلی دی. نن سزا ورکوي. تر مرگه-مرگه يې په غمچينو وهي، ان خپله پاچا يې هم ليدو ته راغلی دی.

گڼه گوڼه دومره زياته وه چې كه مې يې په منځ كې د تېرېدو هڅه کولای، نو ښايي پتنوس ته مې زيان اوښتی وای. يوه نيمه جوړ دېوال ته وختم. له هغه ځايه مې خپله بخت النصر هم وليد چې د سرو زرو په يوه بگۍ كې ناست وو. ما تر هغه دمه هېڅكله دومره برم، زرينې خامكې او بخملې قيمتې جامې نه وې ليدلې.

خپله د غمچينو وارولو صحنه مې ونه ليده، خو د هغه خوار مريي چيغې مې اورېدې او حيران وم چې څنگه زموږ د ښكلي پاچا په شان يو نجيب كس د دغسې ځوروونكې صحنې د ليدلو تاب لري؟ مگر كله چې مې له نورو نجيب زادگانو سره پر ټوكو او خندا وليد وپوهېدم چې هغه هم يو ظالم انسان دی. په دې مې هم سر خلاص شو چې ولې په مريانو د دېوال جوړولو هومره سخت او ناانساني كار په زوره كوي.

مجرم يې تر وژلو وروسته پر يوه خاده په يوه پښه راځوړند كړ چې ټول يې وليدلای شي. خلك كرار-كرار سره تيت شول.د مريي پر ببره سينه د يوه دوه سري مار ټاټو ليدل كېده. هغه هماغه پايرټ وو!

---

[۱] كه څه هم ښايي د لرغوني بابل د مريانو دودونه موږ ته سره په ټكر كې ښكاره شي، خو حقيقت دا دی چې قانون يې شرايط دقيق ټاكلي ول. د بېلگې په توگه: مريانو د هر ډول ملكيت لرلو اجازه درلوده ان تر دې چې خانته يې مريان نيولای شوای. له ازادو انسانانو سره يې د واده کولو حق درلود او د ازادو مېندو اولادونه هم ازاد گڼل كېدل. ډېر وختونه به د ښار كاسبان مريان ول او اكثره يې د خپلو بادارانو شريكان او پوره شتمن ول.

Scanned by CamScanner

وروسته مې آرادګولا ولید؛ یومخ بدل شوی وو. ډېر ګرم روغبړ یې راسره وکړ او ویې ویل:

دلته ګوره! هغه غلام اشنا دې اوس یو خپلواک انسان دی. ستا په خبرو کې جادو وو. کاروبار مې ډېره وده کړې او عاید مې زیات شوی دی. ماینه مې ډېره خوشحاله ده. هغه زما د بادار ورېره او یوه ازاده مېرمن ده. راته ټککه ده چې باید یوه پردي ښار ته ولاړ شو، څکه د دې په اند هلته به مې هېڅوك له اصلیت(غلامۍ) نه وي خبر او اولادونه به مو له پېغوره خلاص وي. تر ټولو زیاته مرسته کار راسره وکړه. همدا کار وو چې زه یې بیا پر ځان باوري او په پېر و پلور کې لا تکړه کړم.

بېحده زیات په خوشحال شوم، څکه د هغه حق مې څه نا څه ور ادا کړی وو. یو وخت ده زه هڅولی او تلانښ کولو ته هیله من کړی وم، دا پلا ما نوموړي ته روحیه ورکړې او ازادۍ اخیستلو ته مې پر شا ټکولی وو.

یوه شپه سواستي خوابدې راغله او ویې ویل:

بادار په بلا ککړ شوی دی. زه یې د کړنو له پایلې په وېره کې یم. څو میاشتې مخکې یې بېخې ډېرې پیسې په قمار کې وبایللې. د عسلو او غلې پور یې نه دی ورکړی. د صراف قرض هم نه ورکوي. اوس د هغوی زغم ختم شوی او ګواښلی یې دی.

ما بېله فکر کولو څواب ورکړ:

زموږ یې په څه؟ بادار پوه شه او حماقتونه یې. زه و ته نه خپلواك یو او نه د هغه سرپرستان.

- اې بیعقله! په خاورو هم نه یې خبر. هغه ته له صراف سره ګرو کړی یې. که یې پور ورنکړ، نو په بدل کې یې صراف تا اخیستلای او پر بل چا پلورلای شي. بل دا چې بادار ښه سړی دی. ولې ناحقه پر خوارکي دومره لویه ټکه را ولوېږي؟!

د سواستي ډار بېځايه نه وو. سبا سهار زه په ډوډۍ پخولو اخته وم، ناڅاپه صراف په کور راننووت. د ساسي په نوم يو بل سړی هم ورسره ملګری وو. هغه له سره تر پښو وکتلم او ويې ويل:

قبول مې دی!

ان د نانانئيد راتګ ته يې لا ونه کتل او سواستي ته يې وويل چې زما له بېولو يې خبر کړي. ما هم سملاسي په داسې حال کې چې د سپمولو پيسو کڅوړه مې ټينګه تر ملا غوټه وه، د پخلي کار پر نيمايي خوشي کړ او په منډه تر شا ورپسې شوم.

د يوې شپې له مخې مې پر هيلو يو لوټونکی توپان راوالووت، د ځنګلي ونو په شان يې له ريښو وايستلې او د حوادثو د سمندر خروښېدلو څپو ته يې په لاس ورکړې. يو ځل بيا جوارګرۍ او بيرو د بلا خولې ته وروغورځولم.

ساسې يو لټ او بې ظرافته انسان وو. پر لارې مې ورته وويل چې د نانانئيد لپاره مې په ډېره لېوالتيا او ټول ټوان کار کاوه او غواړم د ده لپاره يې هم وکړم. په بېخوندۍ يې راته وويل:

نه بابا زما له دې کيسو سره نه ده جوړه. د بادار مې هم نه ورسره لګېږي. هغه پاچا څخه د خړوبولو د لويې ويالې يوه برخه په ټېکه اخيستې ده او ما ته يې د ډېرو مريانو رانيولو او کار د ژر خلاصولو امر کړی دی. عجيبه ده ولا! دومره لوی کار په داسې کم وخت کې سړی څنګه سره ورسوي؟

په ذهن کې داسې يوه دښته دروګرځوه چې له خپلسرو وښو پرته بل هېڅ شی پکې نشته او لمر هم دومره زورور پر ځلېږي چې د بوشکو دننه اوبه خوټوي. پر همدغه دوړخې بيابان د مريانو کتارونه انځور کړه چې له سهاره تر ماښامه يوه ژور ډب ته ورکښته کېږي او پر يوه نرۍ ښوويېندوکې لار د خاورو ډکې کاسې څنې راخېژوي. وروسته په خيال کې دروله چې هلته يو يو کس يوه لوی لوښې ته خواړه ورچپه کوي او مريان لکه وږي څنځيران بريد وربانديې کوي. نه کومه کېږدۍ شته چې سيوري وکړي او نه هم کومه بوريا چې سړی پر څملي. زه يودم په دغسې شوم برخليک اخته شوی وم. د پيسو کڅوړه مې يو

Scanned by CamScanner

خوندي ځای ښخه کړه، خو زړه ته مې چنداني نه لوېده چې يوه ورځ به بېرته ورپسې ورشم.

لومړيو ورځو کې مې په شوق کار کاوه. څو مياشتې وروسته مې احساس کړه چې روحيه مې مخ پر ماتېدو ده. د ستړي وجود په رګ-رګ مې توده تبه ننوته. اشتها مې بېخې کمه شوه. شپې-شپې به د چورتونو، اندېښنو او خواشنيو له لاسه خوب نه راتلی.

يو ځل به د زابادو خبره پر حق راته ښکاره شوه او وبه مې ويل چې بايد دومره ملا ماتوونکو کارونو ته مې ځان نه ورکولای، خو کله چې به مې بيا د هغه وروستی صحنه سترګو ته ودرېده، دا حللار به ناسمه راته ښکاره شوه.

پايرت او د هغه حلق تلخي به رايادہ شوه؛ له ځان سره به مې وويل ښايي غوره لار به همدا مبارزه او د يو چا وژنه وي، مګر د هغه په وينو سور لاښ د دې نقشې د پوچوالي روڼ ثبوت وو.

اخير له مګيدو سره وروستی ليدنه را پر زړه شوه. د ډېر کار له لاسه يې لاسونه ژوبل-ژوبل ول، مګر زړه يې روښان وو او خبره کې يې د خوښی نښې ليدل کېدې. د هغه تګلار تر ټولو غوره وه.

زه لا هم د مګيدو غوندې پر کار مېين وم. هېڅ امکان يې نه درلود چې هغه دې تر ما زيات زيار ګاللی وي، نو بيا زه ولې بريالی او نېکمرغه شوی نه وم؟ ايا د نوموړي خوشبختی ربښتيا هم له کاره سرچينه اخيسته او که هسې يوه الهي ورکړه وه؟ ايا زما په برخه ټول ژوند يوازې خواری و ربړې رسېدلي وې؟ دغو او نورو ورته ګډو وډو خيالونو مې ذهن راخپلی وو. د هېڅ پوښتنې ځواب مې نه درلود. لنډه دا چې پوره سربداله وم.

يو وخت په داسې حال کې چې د زغم کاسه مې لبرېزه شوې وه، توان مې اوبه شوی وو او سوالونه مې هماغسې بې ځوابه پاته ول، ساسي يو څوک راپسې راولېږی او بېرته يې بابل ته وروغوښتم. خپله قيمتي کڅوړه مې له خاورو راوايستله، ځان مې په راپاته شوړېدلو جامو کې وپېچی او د قاصد تر شا پر خره سپور شوم.

Scanned by CamScanner

له روانېدو سره سم مې يو وار بيا په فکرونو توپان ګډ شو. د خپل بې نظمه او ناځرګند ژوند په رايادېدو د يوه ولسي شاعر جادويي بيتونه ذهن ته راغلل:

بړبوکيو چې راتاو ترېنه زندان کړ

د توپان څپو له ځان سره روان کړ

داسې لوري ته چې څوك نشي ورتللی

داسې خوا ته چې څوك هېڅ نشي ويلی[۱]

ايا برخليک مې دا دی چې تر ابده د يوې نامالومې ګناه سزا راکړل شي؟ کومو بدمرغيو او نهيليو لا راته کتل؟

کله چې بالاخره د بادار د کور غولي ته ورننوتو، د آرادګولا په ليدو مې خوله وازه او سترګې رډې پاته شوې. هغه له خره ښخه په راکوزېدو کې مرسته راسره وکړه او دومره کلکه غېږه يې راکړه لکه کلونه-کلونه وروسته يې چې خپل ورک ورور موندلی وي.

سره روان شوو. ما هڅه کوله د غلام په دود تر شا ورپسې شم، خو هغه پرېنښودم. پر ملا يې لاس راکښېښود او ويې ويل:

ياره ټوله دنيا مې درپسې وغوښته. پر نهيلي کېدو وم چې سواستي مې وليده. هغې د صراف کيسه راته وکړه. بيا صراف ته ورغلم او ستا د نوي بادار پته مې ترې واخيسته. بېخي زياتې چنې مې ورسره ووهلې، خو بيا يې هم ډېر لوی رقم راڅخه واخيست. خير ته تر دې په کراتو-مراتو ډېر ارزښتناك يې. زما برياليتوب همدا ستا د ژوند له فلسفې او زړورتيا الهام اخيستی دی.

په خبرو کې ورولوېدم:

دا د مګيدو د ژوند فلسفه وه نه زما!

ويې ويل:

ستا او مګيدو فلسفه. ستاسې دواړو ښخه مننه. پلان دا دی چې په ګډه دمشق ته ځو؛ غواړم راسره شريک دې کړم.

---

[۱] له درانه ملګري ډاکټر احسان درمل ښخه مننه چې د بيتونو د ژباړې زيار يې وايست.

او په لوړ اواز یې وویل:

وګوره دا دی په یوه شېبه کې په یوه ازاد انسان شوې!

او له دغې خبرې سره غبرګ یې له کمیسه یوه ختینه لوحه راوایسته. دا زما د غلامۍ سند وو. پورته یې کړه او له ځمکې یې وویشته. هغه له ډبرو سره وجنګېده او ټوټې-ټوټې شوه. آرادګولا په خوشحالۍ په هغو ټوټو کې تر هغو وغورځېد چې په خاورو بدلې. هغه شېبه وپوهېدم چې د بابل تر ټولو نېکمرغه سړی یم.

کار وو چې د ستونزو او خواشینیو د ګرداب په غوټ منځ کې یې لاس راوغځاوه او ځان یې بهترین ملګری زبات کړ. همدا له کار سره زما لېوني مینه وه چې د بابل دېوال له وژونکي بېګاره یې وژغورلم او بیا هم همدا کار وو چې ستا نیکه یې راځخه اغېزمن او دې ته اړ کړ چې شریک مې کړي.

دغه شېبه هدان ګولا وپوښتل:

ایا د نیکه د بریالیتوب او دومره پراخې شتمنۍ حاصلولو کیلي هم همدا کار وو؟

شارونادا ځواب ورکړ:

ستا نیکه پر کار خوند اخیست. خدای یې هڅو او کوښښونو ته په درنه سترګه وکتل او له خلاصه لاسه پر ولورېد.

هدان ګولا په مفکرانه انداز وویل:

اوس وپوهېدم چې دا خو کار وو چې پر نوموړي یې دومره خلك مین کړي ول، د ده د بریالیتوب ستاینې یې کولې، په دمشق کې یې پراخ درنښت و اعتبار وربخښلی وو او زما د خوښې د شیانو پر ترلاسه کولو یې توانولی وو. خو ما داسې انګېرله چې کار یوازې د غلامانو لپاره دی.

شارونادا وویل:

ژوند د انسان لپاره له ناپایه خوښیو ډک دی. هره یوه یې خپل-خپل ځای لري. شکر چې کار یوازې د غلامانو لپاره نه دی، که داسې وای، نو زه به له یوې ډېرې سترې خوښۍ بې برخې وای. د هېڅ شي مزه د کار له هغې سره نشي پرتله کېدای.

Scanned by CamScanner

شارونادا او هدان گولا د ښار د دېوالونو تر سیوري لاندې پر اسونو سپاره د بابل د برونزي دروازې پر خوا روان شول. دروازې ته په ورنژدې کېدو سره ساتونکي تیارسئ شول او د خپل ښار درانه او نامتو سوداگر ته یې درنښت وکړ. شارونادا په لکه غاړه کاروانیانو ته د ننوتلو اشاره وکړه.

هدان گولا پټ ورته وویل:

تل مې غوښتل د خپل نیکه غوندې شم، خو سم مې نه وو پېژندلی. تا راوپېژاند. اوس یې تر پخوا لا ډېر ستایم او له زړه غواړم د هغه په شان شم. د بریا راز دې راوښود. وېرېږم هسې نه هېڅکله دې دا احسان در ادا نکړای شم. سر له ننه به د نیکه کیلي کاروم. خپل کار به کتمټ د هغه غوندې په عجز راپیلوم. دغه تگلار مې تر پرتمینو جامو او گرانبیه گېڼو په خیر ده.

هدان گولا د دغو خبرو په بهیر کې خپل غوړوالي او گوتمی راوایستلې. د خپل اس جلب یې راکش کړ، لږ ورو او په ډېر احترام د قافلې د مشر تر شا روان شو.

## د بابل ښار تاریخچه

د تاریخ په پاڼو کې بل هیڅ ښار تر بابل زیات له برمه ډک نه دی بلل شوی. تش د نامه په یادولو یې د سړي سترګو ته جلال او شتمني درپیږي. د سرو زرو او جواهرو خزانې یې افسانوي رنګ لري. سړی طبعاً داسې انګېري چې په یوه مناسبه ګرمسېره سیمه کې دغسې یو اباد او شتمن ښار باید غني معدنونه او ځنګلونه ولري، خو داسې نه ده. بابل له فرات سیند سره نژدې په یوه صافه او ګرمه دره کې پروت وو. چارچاپېر یې نه ځنګل وو، نه کوم کان او نه ان د ودانولو لپاره ډبرې. حتا له عامې و دودیزې تجارتي لارې هم ګوښې پروت وو. د کلني اورښت کچې یې د کرکیلي بسنه کوله.

بابل سترو موخو ته د رسېدو او دغه راز د شته اسانتیاوو د ښې کارونې یوه بېجوړې بېلګه ده. دا له برمه ډک ښار په بشپړه توګه پر خپل انساني ځواک ولاړ وو او ټوله شتمني یې یوازې و یوازې د لاسونو د تناکو برکت او زېږنده وه.

یوازې دوې طبیعي سرچینې یې لرلې: یو حاصلخېزه ځمکه او بل د سیند اوبه. د همدغو دوو سرچینو په برکت بابلي مهندسانو داسې اثار رامنځته کړل

Scanned by CamScanner

چې په تاریخ کې یې ډېر کم ساری موندل کېږي. هغوی د سیند اوبه د بندونو او ځروبوونکو ویالو په مرسته پر کرنیزو ځمکو ورسپړې کړې. دغه ویالې د درې تر ډېرو لیرې پرتو ځمکو غځېدلې وې؛ دا خپله د ثبت شوي بشري تاریخ یو ډېر لوی شاهکار دی. د ځروبولو د دغه سیستم له برکته ګڼې داسې غلې- دانې پیدا شوې چې د نړۍ په هېڅ بله سیمه کې نه وې.

له نېکه مرغه پر دې ښار د خپل اوږده ژوند په بهیر کې داسې پاچهان واکمن ول چې د نورو سیمو له لوټلو، هیوادپراخونې او یرغلونو سره یې کمه مینه لرله. البته جګړې یې زیاتې کړې دي، خو اکثرو یې دفاعي بڼه لرله او د هغو ځانغوښتونکو یرغلګرو پر وړاندې وې چې د بابل د افسانوي خزانو د لوټلو په تمه به یې بریدونه کول. بابلي واکمنان په تاریخ کې د پوهې، پراخ لید، زړورتیا او عدالت له اړخه لوی نوم لري. هلته داسې نیواکګر او مغرور خلک واک ته نه دي رسېدلي چې د نړۍ د نیولو په چورت کې وي او تل د نورو ولسونو د رامولو سوچ ورسره وي.

نن د بابل په نوم ښار نشته. کله چې یې ودانوونکی او پالونکی انساني ځواک له منځه ولاړ، ورسره جوخت دی هم د بیابان په منځ کې پر یوه کنډواله بدل شو. دا ښار د اسیا په لویه وچه او د سویس کانال ختیځ ته په څه باندې ۹۵۰ کېلومترۍ او د فارس خلیج په شمال کې پروت دی. جغرافیایي موقعیت یې د استوا تر کرښې شاوخوا دېرش درجې لوړ دی چې د اریزونا ایالت له یوما ښار سره برابرېږي. موسم یې هم د یوما په شان وچ او ګرم دی.

فرات دره چې یو وخت له انسانانو ډکه او د ځروبوونکو اوبو په مټ د پراخو ابادو ځمکو خښتنه وه، اوس بېرته په یوه بې اوبو او شنډه دښته بدله شوې ده. د دښتي بوټو او عادي وښو پوښښ له صحرایي توپانونو او روان رېګ سره په ډېر زحمت ډغرې وهي. اباد کښتونه، ستر ښارونه او لوی سوداګریز کاروانونه له منځه تللي دي. یوازني پاته اوسېدونکي یې کېږدۍ مېشتي عرب دي چې په لږه مالدارۍ خپل ژوند تېروي او دا کیسه له مېلاده را په دې خوا روانه ده.

canned by CamScanner

پر دغه سیمه یو شمېر بوک راوتلي ځایونه لیدل کېدل چې سیلانیانو پېړۍ-پېړۍ یوازې د خاورینو تپو خیال پر کاوه. اخیر د لرغونپوهانو پام ورواوښت، ځکه توندو بارانونو به کله ناکله د ماتو لوښو او خښتو ځینې ټوټې رابرسېرولې. په دغه سیمه کې د کیندنو لپاره د اروپايي او امریکايي موزیمونو په ګډه لګښت یو پلاوی ولېږل شول. د خاورو تر ایسته کولو وروسته ډېر ژر پته ولګېده چې هغه غونډۍ په اصل کې لرغوني ښارونه یا په بله ژبه د ابادیو هدیرې وې.

بابل هم همالته ښخ وو. څه باندې شل پېړۍ صحرايي توپانونه پر تېر شوي او دغه ښار یې تر رېګو لاندې کړی وو. دا چې دېوالونه یې له خښتو جوړ ول، نو له خاورو ژوندی راووت او یو ځل بیا یې ځان د ځمکې پر سر وښود. همدا د بابل د شتمن ښار ننني حالت دی. ډېر اوږده وختونه د رېګو کوټنیو دغه نقطه چې هېڅ ژوندي سري یې نوم نه وو اورېدلی، له سترګو پټه کړې وه؛ تر څو بالاخره مسلکي لاسونه ور ورسېدل، له مخې یې خاورې وځنډل شوې او د لرغونو واټونو، ماڼیو او معبدونو پاته شوني یې راښکاره شول.

ډېری پوهان په دې اند دي چې بابلی تمدن او د دغې درې نور ښارونه د مالوم او ثبت شوي بشري تاریخ په سر کې راځي. داسې اسناد شته چې یاد ښار تر اته زره کاله زوړ زباتوي. د دغه ښار د لرغونتیا مالومولو ډول هم په زړه پورې دی. د بابل په کنډوالو کې داسې کتیبې وموندل شوې چې د یوې لمرنیونې(کسوف) څرګ ځنې لګېد. اوسمهالي ستورپوهان ډېر ژر وتوانېدل د هغې لمرنیونې د پېښېدو نېټه محاسبه او د هغه مهال او اوس وخت د جنتریو تر منځ یوه اړیکه جوړه کړي.

نن دا ثابته شوې ده چې اته زره کاله وړاندې سومریانو، چې د بابل ښار اوسېدونکي ول، په شاوخوا ښارونو کې ژوند کاوه. البته دا سمه نه ده مالومه چې دغو ښارونو تر یادې نېټې څو پېړۍ وړاندې شتون درلود. باید وویل شي چې بابلیان په دېوالونو کې را ایسار وحشیان نه، بلکې ډېر لوستي او پرمختللي خلک ول. د شته تاریخي لاسوندونو له مخې هغوی د نړۍ لومړني مهندسان، ستورپوهان، ریاضیدانان او د اقتصادي چارو متخصصان ګڼل کېږي. همدغه

Scanned by CamScanner

راز د لیک جوړولو امتیاز هم همدوی ته منسوب دی. مخکې مې د بابل د خړوبولو سیستم له لارې د دغې بې اوبو او وچې درې د زرغونولو یادونه وکړه. دا کانالونه که څه هم له خاورو او جغلو جوړ ول، خو بیا یې هم نښې پاته دي. ځینې یې دومره پراخ ول چې دوولس اسونه څنګ پر څنګ پکې تللای شول. د دغو ویالو لویوالی د کلراډو او یوتا ایالتونو له ننیو ویالو سره پرتله کېدای شي.

د بابلي مهندسانو یوه بله طرحه هم هېښوونکې او د یادو ویالو په کچه ستره وه. دوی یو شمېر زیابرونه[۱] وکیندل او له دې لارې یې د فرات سیند په خوله کې پرتې پراخې باتلاقي ځمکې تر اوبو لاندې او کرکیلي ته چمتو کړې.

مشهور یونانی سیلاني او تاریخ لیکوال هیروډټ بابل ته د دغه ښار د اوج په دوران کې ورغلی او یوازنی بهرنی کس دی چې په اړه یې لیکنې کړي دي. دغه لیکنې د یاد ښار او هلته مېشتو خلکو د غیرعادي دودونو یو انځوریز گزارش دی. ده د پراخو حاصلخېزو ځمکو او ډېرو غنمو او وربشو یادونه کړې ده.

که څه هم د بابل پرتم او عظمت له منځه تللی، خو پوهه یې راپاته ده او دا یوازې و یوازې د بابلیانو د لیکني ډول له برکته وه چې موږ یې باید احسانمند واوسو. هغه وخت کاغذ نه وو او په ډېر زیار و خواری به یې پر کلکو ختینو لوحو کیندنکاري کوله. دغه ډول لوحې به یې په کُره کې پخولې چې کاشي یا پخه خښته غوندې ځیز ځنې جوړ شي. کچه یې ٦x۸ انچه او پنډوالی یې یو انچ شاوخوا دی.

دا لوحې تقریباً د نني کاغذ غوندې کارېدې او کیسې، شعرونه، تاریخ، کتیبې، شاهي فرمانونه، د ځمکې اړوند قوانین، د ملکیت سندونه، تړونونه او لیرو پرتو ښارونو ته لېږل کېدونکې مکتوبونه به پر لیکل کېدل.

همدغه ختینې لوحې وې چې موږ ته یې د هغه مهال د وگړو له ژوند او فردي چارو پرده پورته کړه. پر دغو لوحو د بېلگې په توگه لیکلي دي: پر ... نېټه پلاني خپله یوه غوا یوه دوکاندار ته راوستله او د ۷ کڅوړو غنمو په بدل کې

---

[۱] Drainage

يې پر وپلورله چې درې کڅوړې يې سملاسې واخيستې او پاته به يې وروسته د مشتري له غوښتنې سره سم ورکول شي.

دغه لوحې دومره مضبوطه وې چې تر کنډوالو لاندې روغې پرتې وې. له همدې امله يې لرغونپوهان د يوه لوی کتابتون پر موندلو وتوانېدل چې شمېر يې څو سوو زرو ته رسېد.

د بابل له عجايبو څخه يوه هم تر دغه ښار راتاو ستر دېوالونه دي. مخکنيو پوهانو دغه دېوالونه د مصر د اهرامونو ساري بلل. ويل کېږي چې لومړنی دېوال ملکې سميراميس جوړ کړ. اوسني پلټونکي يې د نښو پر موندلو نه دي توانېدلي، ځکه يې نو دقيق جګوالی هم نه دی مالوم. د ډېرو زړو ليکنو پر بنسټ له ۱۵-۱٦ متره دنګ ول، دباندنی نما يې له پخو خښتو جوړه او شاوخوا يې د اوبو خندق وو.

تر دې لا مشهور دېوالونه تر مېلاد شاوخوا شپږ سوه کاله وړاندې د نابوپولاسار پاچا د واکمنی پر مهال راونښلول شول. دغه دېوالونه دومره ستر ول چې نوموړی پاچا يې تر بشپړېدو مخکې ومړ او پاته کار يې زوی بخت النصر وغځاوه چې په مذهبي تاريخونو کې يو پېژندل شوی نوم دی.

د دغو دېوالونو د دنګوالي او اوږدوالي کچه ښځې د سړي زړه ته نه لوېږي. د يو لړ باوري سرچينو په حواله شاوخوا ۴۸ متره لوړ ښودل شوي چې د نن سبا له پنځلس پوړيزو ودانی سره برابرېږي. اوږدوالی يې هم نژدې ۱۷ کېلومتره اټکل شوی دی. دومره پلن ول چې يوې شپږ اسه والا بګۍ ګنبت پر کولای شوای. د دغې سترې ودانۍ يوازې يو څو کنډوالي او شاوخوا خندق پاته دی. دغه دېوالونه يوازې وخت نه، بلکې عربو هم په لوی لاس نړولي او خښتې يې د نورو ودانيو په ودانولو کې کارولي دي.

د هغه مهال نژدې هر فاتح جنګيالی د دغه دېوال پر وړاندې جنګېدلی او بابل يې محاصره کړی دی، خو هېڅکله پر بريالی شوی نه دی. د هغې زمانې لښکرو ته بايد په کمه سترګه ونه کتل شي. مورخان د داسې لښکرو يادونې کوي چې ۱۰۰۰۰ سپاره، ۲۵۰۰۰ بګۍ او ۱۲۰۰ د پليو سرتېرو ټولی يې لرلې او هره

Scanned by CamScanner

ټولې له ۱۰۰۰ تنو عسکرو جوړه وه. د داسې لښکرکښيو د وسايلو، خوړو او وسلو د برابرولو لپاره لږ تر لږه دوه درې کاله وخت په کار وو.

بابل ښار اوسنيو ښارونو ته ورته جوړښتونه لرل. واټونه او پلورنځي پکې ول، لاس گرځوونکو په گنبښتو سيمو کې شيان خرڅول او مذهبي روحانيونو په پرتمينو عبادتځايونو کې مذهبي مراسم نيول. په ښار کې دننه يوې بلې داسې سيمې هم شتون درلود چې له نورو څخه يومخ بېله وه. شاهي ماڼۍ هم همالته پرته وه. ويل کېږي چې د دغې سيمې دېوالونه د ښار تر هغو لا دنگ ول.

بابليان په هنر کې هم ډېر برلاسي ول. د بېلگې په توگه مجسمه تورنه، انځورگري، اوبدنه، وسله او د زراعتي سامانونو جوړونه يادولای شو. د هغه مهال زرگرانو ډېرې هنري ټوټې جوړې کړې دي چې ځينې نمونې يې د شتمنو د قبرونو له کيندلو څخه ترلاسه شوې او د نړۍ په لويو موزيمونو کې ننداري ته پرتې دي.

په لومړيو وختونو کې چې لا د نړۍ ډېرې وگړو په ډبرينو تبرونو ونې غوځولې او ښکار و جگړه يې په داسې غشو کوله چې څوکې يې له کلکو ډبرو جوړې وې، بابليانو فلزي تبرونه، نېزې او غشي کارول.

بابليان په مالي او سوداگريزو چارو کې هم خورا ځيرک ول. ان تر دې چې د راکړې ورکړې، چيکونو او ليکنيو ملکيتي اسنادو په توگه د پيسو مخترعين هم همدوی گڼل کېږي.تر ۵۴۰قبل الميلاد پورې لا هېڅ غليم دغه ښار ته پر ننوتلو نه وو توانېدلی. د بابل د نيول کېدو داستان هم غيرعادي دی. د هغې زمانې تر ټولو ستر امپراتور کورش پر ياد ښار د بريد پرېکړه وکړه او د هغه د پولادي دېوالونو د سورې کولو په هيله وروخوځېد. د بابل پاچا نبودينوس ته سلاکارانو وړانديز وکړ چې د کورش مخې ته ورووزي، همالته دباندې جگړه ورسره وکړي او د ښار ايسارولو ته يې پرې نږدي. نوموړي هم همداسې وکړل. د سپاهيانو تر ماتې وروسته ټول پوځي ځواکونه له ښاره وتښتېدل، کورش پر وازو ولاړو دروازو بابل ته ننووت او له ډېر واړه مقاومت پرته يې ونيو.

Scanned by CamScanner

له دې سره سم ورو-ورو د بابل ځواک او اعتبار هم راکم شو. ان تر دې چې څو کاله وروسته یې ټول اوسېدونکې ووتل او دغه پرتمین ښار یې توپوپانونو و بادونو ته په لاس ورکړ چې تر رېګو لاندې یې ښخ کړي. بابل ولوېد او بیا هېڅکله راپورته نشو، خو پر بشري تاریخ یې تر ننه پورې یو ډېر لوی احسان پروت دی.

که څه هم وخت یې د معبدونو مغرور دېوالونه له خاورو سره ورسم کړل، مګر د پوهې پر له منځه وړلو یې ونه توانېد.

**پای**

**۲۰۱۷-د اګسټ ۲یمه**

**الوېستا، سویډن**

Scanned by CamScanner